د نعتونو حسینه ګلدسته

ښُکلا دَ چمن







مولانا احمدعلی مردانی

خورُونکے

اسلامی ادبی تولنه

یونیورستی روډ مردان

ښُکلا دَ چمن

نعتونه

تصنیف

ابوالقاسم احمد علی مردانی

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

د نعتونو حسینه ګلدسته

بښکلا دَ چمن

لیکونکے

احمدعلی مردانی

پی ایس ټی ګورنمنټ پرائمری سکول لیبرکالونی مردان

خوروونکے

اسلامی ادبی ټولنه

یونیورسټی روډ مردان

0312-9818511-03219818511

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

دَکتاب نوم : ښُکلا دَ چمن

صنف : نعتونه

دَ مصنف نوم : مولانا احمدعلی مردانی

دوباره کتنه : جناب مهر اندیش صاحب

وائس چئیرمېن ادبی دوستانو مرکه مردان

کتابت : النور کمپوزنگ سنټر

یونیورسټی روډ مردان

صفحات : 285

دَ چهاپ کال : ستمبر2016ء

چهاپ کوُونکے : اسلامی ادبی تولنه

یونیورسټی روډ مردان 0312 - 9818511

دَ موندولو درك : دَ مردان په هره غټه مکتبه

کښې ملاویدے شي.

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

کارِ خیر

دَ ښاغلی احمدعلی صیب سره زما دَ تعلق دومره وخت نهٔ کیږی،خو په دی لږه موده کښې چې ماته څومره اندازه وشوه نوپه دې نتیجه پوهه شوم چې احمدعلی صیب صرف دَ سرکارِ دوجهان ﷺ سره محبت نهٔ دے بلکه دَ هغهٔ دَ مینې پیاله ئې داسې نوش کړې ده چې په وجود کښې ئې دَ وینې په ځائے دغه مینه چلن کوی ، دغه دَ مینې لافانی جذبه ده چې ښاغلی احمدعلی دَ خپل ژوند دَ تېرولو وسیله ګرځولې ده ، او دَ ژوند په تورو تیاروکښې ورته دَ خپل محبوب ﷺ دَ مینې لیتکے په هره لاره رڼا کوی ، هغه دَ خپل محبوب ﷺ دَ مینې دا سپېڅلے پیغام دَ وطن هغه لاروکوڅوته رسوی کومې لارې کوڅې چې له دغه نعمت نه خالی پرتې دی ، دَ ښاغلی احمدعلی دَ مینې ، محبت جذبه داسې مقام ته رسېدلې ده چې لکه دَ نمر او سپوږمۍ ځلیږی، احمد علی صیب چې دا څومره دَ نعتونو مجموعې چاپ کړې دا د دې خبرې واضحه او په ډاګه ثبوت دے چې خپله څوانی ئې دَ خپل محبوب ﷺ مینې

محبت ته وقف کړي ده ، دَ ښاغلی په دي نعتیه
کتابونو کښي دَ خپل محبوب دَ حُسن ترانې دی ، دَ
مینې تذکرې دی ، رنګینې نظارې دی ، دَ رنګ او بُو
وږمې دی، هم دغه ئې جذبې دی ، دَ فن ئې ولولې
دی ، هم دغه ئې نغمې دی ، چې دَ ښاغلی احمدعلی
صیب دَ زړهٔ ذهن او دَ احساس په تل کښې اوسی او
دغه سپېڅلې جذبې چې دَ اظهار په لټون راوځي نو
دَ خپل محبوب دَ نعتونو ګلدسته ترې په وجود
کښې راشی ، اللّٰه تعالیٰ دې ورله نور توان هم ورکړی
چې هم دغسې دَ خپل محبوب ﷺ مینه پالی او
ورسره دَ خپلې ژبې خدمت هم کوی او په دغه کار
خېر کښې دې اللّٰه تعالیٰ زمونږ حصه هم
وکړی او دَ ښاغلی دَ پاره دې هم دَ بخښنې
ذریعه وګرځوی . آمین

مهرآندېش مردان

۱۸ م اګست ۲۰۱٦

بسم الله الرحمٰن الرحيم

اولني خبرې

وئيلې شي چې دَ پښتو دَ شاعرۍ تاريخ دَ زرو کالو نه زيات زوړ دے هم لـه دغې وجې دا اندازه کوَلې شي چې دَ پښتو دَ شاعـرانو تعداد به هم دَ زرو نه بره وي خو د دغې ټولو شاعرانو دَ سرتاج هغه شاعران ګڼلې شي چا چې خپلـه شاعـري دَ امام الانبياء حضرت مـحـمـد رسول الله ﷺ دَ صفت دَ پاره وقف کړې وي . پـه قديمو شـاعـرانو کښې دَ مـرزا خان انصاري ، خـوشـحـال خان خټک ، عبـد الـرحمٰن بابا ، علي خان ، کـاظـم خـان شيـدا ، احمد شاه ابدالي ، حافظ الپوري وغيـرهـم نومونه دَ ذکر قابل دي. او په روانه عيسوي صدۍ کښې دَ مـلا نعـمـت الـلّـه ، مولانا عبدالله دَ نـوښـار ، حـاجـي مـحـمـد امين ، اميـر حـمـزه خان شيـنـواري ، سـمندر خان سمندر ، سراج الاسلام سراج ، شـريـعـت خـان سـائـل ، قـاري غـلام حضرت ، مولوي عبدالسلام خاکستر ، عبدالوهاب دستي ، علي حيدر جوشي ، فيـاض ، ګلاب نستوال ، شير زمان محتاج ، شاجهان چشتي ، نور محمد فيضان ، لطيف الله جان عـاصـي ، ميـر رحـمـان غـازي ، ګل احمد ، محمدنواز ،

سيف الاسلام سيف، فيض الحق ، مرزا عبدالرحيم، فضل امين، وغيره نوموذنه دَ ذکر قابل دی شاعري په حقيقت کښي هله حقيقي شاعری ګڼلې شی چې دَ اسلام دَ روح سره تړلي وی .کۀ چرته دَ يو شاعر په شاعری کښې دَ اسلام روح نۀ وی نو هغه ته حقيقی شاعر هيڅ کله نشی وئيلے دَ حقيقی شاعری سره تړلی نومونو کښې په پښتو ادب کښې دَ عبدالرحمٰن بابا نوم په خصوصی توګه اخستے کيږی . حقيقی نعتيه شاعری هر هغه شاعر کوُلې شی چې دَ چا دَ اسلام سره ژور تعلق وی . دَ اسلام دَحدونو نه مکمل واقف وی . نو هغه کس حقيقی شاعری کولې شی او هغه کس نعتيه اشعار په حقيقی روح سره بدلولې شی . دَ اسلام دَ حدونو نه بهرزمونږ شريعت دَ نعتيه شاعری اجازت نه ورکوی . دَ اسلام حدونه دَ نعتيه اشعارو دَ پاره قرآن وحديث دی يعنی هريو شعر له دَ قرآن وحديث په تله کښې تلل شاعر لره انتهائی ضروری وی .

ددې کتاب متعلق يو څو خبرې

دَ دې کتاب دَ مطالعه کوُلو نه پس به هريو قاری داخبره محسوسه کړی چې دَ اکثر و نعتونو رديفونه

یـوشـان دی، خـو دَ ردیـفـونـویـو والـے دَ هغه په تکرار دلالـت نـهٔ کـوی ځـکـه چې په هر یو نعت کښې جُدا مـضـمون او پیغام پروت دے ، هر یو نعت دَ جُدا طرز او خـونـد مجموعه ده ، ،په آخر کښي زهٔ دَ خپل ګران مسلمان وروړ مهراندیش مهر شکریه ادا کوم چې زما دَ کتـاب هـر یـو توري ئې په عمیق نظر سره کتلي دے.او پـه هـره ګـرانـه لمحه ئې ګران قدري مشوري راکړی دی مـولـیٰ کـریـم نه دُعا ده چې دا مختصره مجموعه دې پـه خپـل دربار کښي قبوله منظوره کړی اوزما دَ پاره دې ئې سبب دَ نجاتِ اُخروی وګرځوی .او ما دَ پاره ئې دې دَ مـحشـر پـه میـدان باعـث دَ شـفـاعت دَ محمد رسـول الـلّــه ﷺ وګـرځـوی ....

وما توفیقی الاباللّٰه العلی العظیم

وصلی اللّٰه تعالیٰ علی خیرخلقه محمد واٰله واصحابه وا هل بیته اجمعین

طالب دُعا

ابوالقاسم (احمدعلی مردانی)

یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

(استاد ګورنمنټ پرائمری سکول لیبرکالونی مردان)

سابقه خطیب جامع مسجد تکیه سکاوټ کیمپ ایبټ آباد

0312-981851 1/03208086524

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

حمد باری تعالیٰ

کائنات کښې ابتدا او انتها ئې
زۀ بنده يمه غلام يم تۀ آقا ئې
په هر څه دَ کائنات دے ستا نظر
دَ هر ځائے نه کائنات کښې ئې خبر
لاشرکه کائنات کښې په هر خوائې
زۀ بنده يمه غلام يم تۀ آقا ئې
هم شاهان دے غلامان ددې جهان دی
مالکان دے غلامان ددې جهان دی
کائنات کښې دَ هرچا تۀ مقتدا ئې
زۀ بنده يمه غلام يم تۀ آقا ئې
دَ هر چا روزی رسان ئې په دُنيا کښې
دَ هرچا سره ملګرے ئې هر خوا کښې
دَ ړندو بيناؤ ټولو رهنما ئې
زۀ بنده يمه غلام يم تۀ آقا ئې
دَ سيندونو دريابونو تۀ خالق ئې
هم دَ لويو لويو غرونو تۀ خالق ئې
تۀ خالق ئې هم مالک تۀ دَ هرچا ئې

زۀ بــنــده يــمــــه غــلام يـم تــۀ آقــا ئــي
طبيبـــان هــم دي مــحتـــاجـــه ستــا دَ در
ستـــا مـــحتـــاج دي ټـول شـاهــان دَ بـحـر وبـر
تـــۀ مـــعيــن دَهــر نـــادان او هــردانــا ئـي
زۀ بــنــده يــمــــه غــلام يـم تــۀ آقــا ئــي
پيـــدا كـــړي تـــا خـــنـــدا ده او ژړا هـــم
پيـــدا كـــړي اَخـــرت دے او دُنيـــا هـــم
احــمـد وائـى تـۀ پـه حـقـه يك تـنهـا ئـي
زۀ بــنــده يــمــــه غــلام يـم تــۀ آقــا ئــي

حمدباری تعالیٰ

هـر طـرف تــه هـر يـو څيز دَجهـان ستـا دے
زمــكــه ستـا ده لـو يــه خدايه! اَسمان ستا دے
كـــه دے عـــرش او يـــا كـــرسى دَ كـائـنـات
هــم مـكـــان ددي دُنيــا لامـكــان ستــا دے
ونـــي بـــوټـــى دريـــابـــونـــه دَ جهـــان ټـــول
غـــرونـــه ستـادي دَجهـان او ميـدان ستــا دے
مـــارغـــان ستــادي دَجهـان ټـول پـه هـواكښـي
يك تـنهـا ئي پـه دُنيـا كښي دا شـان ستـا دے
تـــۀ غـــنـــى ئـي نـور مـحتـاج دي ستــا دَ در
هـم غـريـب سـره دُنيـا كښـي هـر خان ستا دے

فـرېښـتـې هـم تـولـے سـتـا ثـنـا صفت کړي
هـر يـو څيز دَ کـائـنـات ثـنـاخـوان سـتـا دے
زمـــانـــې هـــم تـــولـــې ستـــا ددې جهـــان دې
هر يو څيز په کائنات کښې عيان ستا دے
هـم گـــرمـــې دې پيـــداکـــړې هـم يـخـنـــی ده
دې سپـرلـی سره اے خدايه! خزان ستا دے
مـوسـمـونـــه رنګ پـــه رنګ دې پيـداکـړې
دا ښـائـسـتـۀ ښـکـلے دُنيا کښې دوران ستا دے
تـــا بـــې شـمـيـــره نـعـمـتـــونـــه دې راکـړې
پـه هـرچـا بـانـدې خدايـه! احسان ستـا دے
نـــاتـمـــام دے کـــۀ زۀ وکـــړم ستـــا صـفـت
ځکه دلته کښې هر ځائے کښې بيان ستا دے
صـفـتـــې نـومـونـــه ډيـر لـرې اے خدايـــه!
مهـربـان هم ستا صفت دے سبحان ستا دے
نبيـــان ستـــا دې هـــم وليـــان دَ زمـــانـــې تـول
پـاك نبـی ﷺ سـره زمـونږه قرآن ستـا دے
هـريـو سـاه کـۀ دَ انسـان ده لـوئـے نـعـمـت
پـه هـرچـا بـانـدې مولٰی دا احسان ستادے
احمد وائـی ستـا تـعـريف بـه تمام نۀ شی
احـمـد ستـا دے دَ جهـان او مـردان ستـا دے

حمد باری تعالیٰ

هـریـو ثیـز دے ستـا محتـاج لویه خدایـه
تـهٔ طبیـب ئـې تـهٔ عـلاج لـویـه خـدایـه
تـارنـا ورلــه ورکـړې پــه جهـان ده
کــهٔ روښـانـه دے سـراج لـویـه خدایـه
هـریـو ثیـز دے ستـاپـه حـکم پیدا شوې
خیـراوشــر رسـم ورواج لـویـه خـدایـه
ستـا دَ فـضـل نـه هیـڅ کلـه جدا نـهٔ دے
کــهٔ دَ چـاپـه سـردے تـاج لـویـه خدایـه
ستــا دَ حــکـم دی تـابـع دغــه شـاهـان
هـم دارنګ دی تـول افـواج لـویـه خدایـه
هــریـو حسـن ستـاپــه حکم پیداشوے
دابـښـائـسـت دَ تـخـت وتـاج لـویـه خدایـه
ستـا پــه حـکـم پسـې تـول خلق روان دی
طـریـقــه ده ستــا منهـاج لـویـه خدایـه
پیـدا کـړے دے دا هــریـو سـمـنـدردے
تـهٔ خـالـق ئـې دَ امـواج لـویـه خدایـه
نـعـتـمـونـه دی بـې شمیـره دَ جهـان دی
یـو ددې نــه دے مـعـراج لـویـه خدایـه!

ستا تقسیم دے احمد وائی دَ مردان
رنګ په رنګ دي په مزاج لویه خدایه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کله به درخم نبی! ﷺ پاکي مدینې ته
تاپسې کریږم لړمي وغواړي روضې ته
دا زما ارمان دے چې ساکن دَ مدینې شم
دازما ارمان دے چې ساکن دي دَ کوځې شم
بې له دي نه نه راځي قرار زما سینې ته
کله به درخم نبی! ﷺ پاکي مدینې ته
تاپسې کریږم لړمي وغواړي روضې ته
ټول عمر مې تیر شو ستا په ذکر باندې موړ نۀ شم
ډیر علاج مې وکړه خو لدې نه بغیر جوړ نۀ شم
نۀ رسیږي یو څیز ددُنیا ستا تذکرې ته
کله به درخم نبی! ﷺ پاکي مدینې ته
تاپسې کریږم لړمي وغواړي روضې ته
ما احمدعلی! صفت لیکلے په قلم دے ستا
دا صفت لیکلے ټول عرب او ټول عجم دے ستا
نه رسیږي دارنګ فریښتې ستا مرتبې ته
کله به درخم نبی! ﷺ پاکي مدینې ته
تاپسې کریږم لړمي وغواړي روضې ته

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اميد لرم له خدايه چې ستا در له به درځمه
رسوله! ﷺ ستا ديدن له ستا نظر له به درځمه
ديدن له به درځمه مديني ته دَ جهان
ديدن له به درځمه مديني ته مدح خوان
دربار له دَ دُنيا زۀ معطَر له به درځمه
رسوله! ﷺ ستا ديدن له ستا نظر له به درځمه
ديدن له به درځمه اے شفيع خير الوریٰ
ديدن له درځمه مصطفیٰ اے مجتبیٰ
دربار له دَ دُنيا زۀ منوَر له به درځمه
رسوله! ﷺ ستا ديدن له ستا نظر له به درځمه
ديدن له به درځمه اے آفتابه دَجهان
ديدن له به درځمه نُور مهتابه دَجهان
دربار له دُ دُنيا مشك وعنبر له به درځمه
رسوله! ﷺ ستا ديدن له ستا نظر له به درځمه
ديدن له به درځمه اے امينه دَجهان
ديدن له به درځمه اے يٰسينه دَجهان
هر څيز له ستا د در هريو ګوهر له به درځمه
رسوله! ﷺ ستا ديدن له ستا نظر له به درځمه
ديدن له به درځمه کۀ ليکلې په تقديروی

وطن له به درځمه کۀ ليکلے په تقدير وی
احمد وائی ستا در له تاج دَ سر له به درځمه
رسوله ! ﷺ ستا ديدن له ستا نظر له به درځمه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ماته هره ورځ رسوله ! ﷺ ستا ديدار يادېږی
قسم دے ماته په دُنيا کښې بار بار يادېږی
دَ زړۀ علاج دَ زړه سکون دے په دُنيا کښې دغه
دَ زړه علاج دَ زړۀ سکون دے په هرخوا کښې دغه
دغه علاج راته دَ زړۀ دَ بېقرار يادېږی
ماته هره ورځ رسوله ! ﷺ ستا ديدار يادېږی
ستا په ديدار پسې کرېږی انسانان دَ جهان
ستا په ديدار پسيې کرېږی عاشقان دَ جهان
راته رسوله ! ﷺ دغه حُسن نور انوار يادېږی
ماته هره ورځ رسوله ! ﷺ ستا ديدار يادېږی
ستا په ديدار کښې قرار پروت دَ بېقرار خلقو دے
ستا په ديدار کښې قرار دَ دغې دار خلقو دے
راته رسوله ! ﷺ ستا نظر ددې دربار يادېږی
ماته هره ورځ رسوله ! ﷺ ستا ديدار يادېږی
اطمينان پروت دے ستا ديدار کښې نعت خوانانو لره
اطمينان پروت دے احمد وائی عاشقانو لره

راتـه قسـم دے ستـا حسيـن ښـکـلـے رُخسار ياديږی

مـاتــه هــره ورځ رسـولــه ! ﷺستـا ديدار ياديږی

★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ليـدلـے چا چې دلتــه وی چمـن دَ مـديـنې

يـاديــږی بــه هــغــه تــه تل وطـن دَ مـديـنې

چـــمــن دے خــوشبــوداره دَ دُنيــا ددغــې در

وطـــن دے خـــوشبـوداره دَ دُنيـــا ددغـــې در

حسيـن په کائـنات دے هـر مسکن دَ مدينې

ليـدلـے چا چې دلتــه وی چمـن دَ مـديـنې

چمـن دے خـوشبـوداره هـريـو گـل ئې لاثـانی

وطـن دے خـوشبـوداره دا علاج دے جسمانی

حسيـن دَ کـائـنـات دے هـريـوتـن دَ مدينې

ليـدلـے چا چې دلتــه وی چمـن دَ مـديـنې

چمـن دَ مـديـنـې دے مثــالــی پـه هرصِفت

چــمــن دَ مدينـې دے مثـالـی پــه حـقـيـقـت

قسـم دے ډيـر حسيـن دے هر سُخن دَ مدينې

ليـدلـے چا چې دلتــه وی چمـن دَ مـديـنې

چــمــن دَ مــديـنـې دے هر بشر لـره سـکـون

چمـن دَ مـديـنـې دے تـل عـلاج دَهـر مجنون

احمدعلی لیکلے ذکرنن دَ مدینې
لیدلے چا چې دلته وی چمن دَ مدینې

★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کله به درځم نبی! ﷺ ستابڼکلے حرم ته
نۀ رسیږی یو څیز په دُنیا کښې ستا قدم ته
ستا ښکلی قدم سره اوچته مدینه شوله
ستا ښکلی قدم سره ښسائسته په هر حصه شوله
نُور دے رسیدلے ستا عرب ته هم عجم ته
کله به درځم نبی! ﷺ ستابڼکلے حرم ته
ستا ښکلی قدم سره روښانه دَ دُنیا دے در
ستابڼکلی قدم سره روښانه په هرخوا دے در
نمر روښانه شوے ئې دُنیا کښې تول عالم ته
کله به درځم نبی! ﷺ ستابڼکلے حرم ته
ستابڼکلی قدم سره روښانه پاس آسمان شولو
ستا ښکلی قدم سره روښانه لامکان شولو
هم دے رسیدلے ستا اثر لوح او قلم ته
کله به درځم نبی! ﷺ ستابڼکلے حرم ته
ستا ښکلے قدم سره روښانه دا مردان شولو
وائی احمد وائی تول روښانه دا جهان شولو

دلتــــه رسيـدلـــے ستــا رنــا ده هــر تــورتــم تـــه
کلــه بــه درځم نبی! ﷺستــابـنکلــے حرم تـه
★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راتــه قسـم دے مــحــمـد خيــر البشــر ﷺيــاديــږی
چې پــه نبيــانــو کښــې دَ ټــولــو نــه بهتــر ياديــږی
پــه بهتــريــن ســره يـاد شــوے پــه هــر در هغــه دے
پــه ډيــر حسيــن ســره يـاد شــوے پــه هــر در هغـه دے
هــغــه حسيـــن دَ هــر افســر راتــه افســر يــاديــږی
راتــه قسـم دے مــحــمـد خيــر البشــر ﷺيــاديــږی
پــه بهتــريــن ســره يــاديــږی هــر اسمــان کښــې هغــه
پــه بهتــريــن ســره يــاديــږی لا مــکــان کښــې هـغــه
مـــا تـــه مــحبــوب دَ کــائـنــات دَ ربّ اکبــر يــاديــږی
راتــه قسـم دے مــحــمـد خيــر البشــر ﷺيــاديــږی
پــه بهتــريــن ســره يـاد شــوے پــه عــرب عــجــم دے
پــه بهتــريــن ســره يــاد شــوے تــل پــه ټول عــالم دے
داســے دلبـــر د هـــر دلبـــر راتـــه دلبـــر يـــاديـــږی
راتــه قسـم دے مــحــمـد خيــر البشــر ﷺيــاديــږی
پــه بهتــريــن ســره يــاد شــوے پــه نبيــانــو کښــې دے
پــه بهتــريــن ســره يــاد شــوے رسـولانــو کښــې دے

احمد ته هغه په دُنیا کښې د زړهٔ سر یادیږی
راته قسم دے محمد خیر البشر ﷺ یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کله به درځم نبی ! ﷺ ستا بنګلے چمن ته
نه رسیږی یو بنار مرتبه کښې دے وطن ته
ستا وطن وطن دے بل وطن ته وطن نه وایم
ستا چمن چمن دے بل چمن ته چمن نه وایم
نشته بل یو څیز دَ اطمینان زما بدن ته
کله به درځم نبی ! ﷺ ستا بنګلے چمن ته
نهٔ یم ارمانی بس ارمانی ستا دَ وطن یمه
نهٔ یم ارمانی بس ارمانی ستا دَ چمن یمه
نهٔ رسیږی یو څیز د دُنیا دغې مدفن ته
کله به درځم نبی ! ﷺ ستا بنګلے چمن ته
بنګلے دے بنائستهٔ دے لکه ګل دَ ګلستان دے
دغه په عظمت کښې لکه ستورې دَ اسمان دے
دغه شان طبیب دے هم علاج دے هر یو تن ته
کله به درځم نبی ! ﷺ ستا بنګلے چمن ته
بنګلے مدینه ده هم ئې بنګلی ساکنان دی تول
بنګلے هم علیؓ دے هم عمرؓ سره عثمانؓ دی تول
دا مقام ملاؤ دے هم حسینؓ ته هم حَسن ته

کلــه بــه درځـم نبـی ! ﷺستا ښکلـے چمن تـه
زۀ احـمـدعـلـی یم ثـنـاخـوان دے دَ دُنـیـا نبی ﷺ
تـانـه شـم قـربـان درنـه اے سیَدالورئ نبی ﷺ!
لـوئـې مـقـام ملاؤ دے ستا رسوله! ﷺ هر سخن ته
کلــه بــه درځـم نبـی ! ﷺستا ښکلـے چمن تـه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ټـول اباد شـوے سـتـالـه مخـه دا جـهـان رسـولـه ! ﷺ
ستـا دے لوئـے شان رسوله ! ﷺستا نه قربان رسوله ! ﷺ
هـم ابـاد شـوے سـتـالــه مـخــه داعـرب دَجـهـان
هـم سـتـا اباد شـوے سـتـالـه مـخـه هر مکتب دَجهان
اباد هـر ځـائـے دے ستاله مخه هر مکان رسوله ! ﷺ
ستـا دے لوئـے شان رسوله ! ﷺستا نه قربان رسوله ! ﷺ
ابــاد ابــاد دے سـتــالـــه مـخــه دا عـجـم دَ جـهــان
ابــاد ابــاد دے سـتــالـه مـخـه ټـول عـالـم دَ جـهـان
زړونــه اباد دی سـتـالـه مخـه دَ انـسـان رسـولـه ! ﷺ
ستـا دے لوئـے شان رسوله ! ﷺستا نه قربان رسوله ! ﷺ
ښـائـسـتـه ګـلـونـه دَجـهـان دی دا ټـول ستـا لـه مخـه
ښـائـسـتـه بـاغـونـه دَ جـهـان دی دا ټـول سـتـالـه مخـه
دا مـې یـقـیـن دے دَ دُنیـا دغـه ایـمـان رسـولـه ! ﷺ
ستـا دے لوئـے شان رسوله ! ﷺستا نه قربان رسوله ! ﷺ

ښـــائسـتـــه پـــه تـــا سـره کـــورونـــه دَ جهــان دی تـــول
ښـــائسـتـــۀ پـــه تـــاسـره کـــورونـــه دَ آسمـــان دی تـــول
هـريـو محفـل پـه تا ښائستـه دے دَ آسمان رسـولـه ! ﷺ
ستـا دے لوئے شان رسولـه ! ﷺ ستا نـه قربان رسولـه ! ﷺ
ښـــائسـتـــه پـــه تـــاسـره دے زړۀ هـم دَ احـمـد دَ جهـان
ښـائسـتــه پـه تـاسـره هـرځـائے دے هـريـو کـور دَ مردان
قيـمـتـی تـاسـره هـرځـائے شـو هـر بيـان رسـولـه ! ﷺ
ستـا دے لوئے شان رسولـه ! ﷺ ستا نـه قربان رسولـه ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کـلـه بـه درځـم نبی! ﷺ ستـا ښکلے دُنيا تـه
لاس مـې دی نيـولـے خدايـه غوارمـه دُعـا تـه
ستـا ښـکلـے دُنيا راتـه يادېږی پاك رسـولـه! ﷺ نن
زړه مـې بـې لـه دے نۀ قلارېږی پاك رسولـه! ﷺ نن
نـــۀ رسيـــږی يـــو نـــور دَ دُنيـــا دغـــې رڼـا تـــه
کـلـه بـه درځـم نبی! ﷺ ستـا ښکلے دُنيا تـه
ستـا ښـکـلـے دُنيا تـه نۀ رسيږی دا جهان ښـکلے
ستـا ښـکـلـے دُنيا تـه نۀ رسيږی گلستان ښـکلے
نـمـر روښـانـه شـو ے نـۀ رسيـږی ستـا وفـا تـه
کـلـه بـه درځـم نبی! ﷺ ستـا ښکلے دُنيا تـه
ستـا ښـکـلـے دُنيا نـه تقسيم شو ے دَ دُنيا جمال

ستا ښکلے دُنیا نه تقسیم شوے دے هریو کمال
نۀ رسیږی دلته په دُنیا دے څوك حیا ته
کله به درځم نبی! ﷺ ستا ښکلے دُنیا ته
ستا ښکلی دُنیا کښې هم ګلونه دَ جهان دی تول
ستا ښکلی دُنیا کښې ښۀ یادونه دَجهان دی تول
نۀ رسیږی یو څیز دَ دُنیا دے یو ادا ته
کله به درځم نبی! ﷺ ستا ښکلے دُنیا ته
لوئے مقام لری دغې دُنیا کښې دے اصحاب ښکلی
لوئے مقام لری په کائنات کښې په هریاب ښکلی
نۀ رسیږی یو بشر دَ دغې دراشنا ته
کله به درځم نبی! ﷺ ستا ښکلے دُنیا ته
ستا ښکلی دُنیا کښې رڼا ستوری دَجهان دی تول
ستا ښکلی دُنیا کښې بره ستوری عالیشان دی تول
نۀ رسیږی یو بشر دُنیا کښې ستا عطا ته
کله به درځم نبی! ﷺ ستا ښکلے دُنیا ته
ستا ښکلی دُنیا کښې هم نبیان په اقتدا دی ستا
وائی احمد وائی دَ جهان خلق فدا دی ستا
غوږ نیولے ما دے ماتړلے ملا وفا ته
کله به درځم نبی! ﷺ ستا ښکلے دُنیا ته



نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نبی ﷺ تـه رسی اے انسانه! دا صلوة وسلام
رسیـــږي رســی دَجهــانــه ! دا صـلـوة وسـلام
دَ رحـــمتــونـو مـجـمـوعـــه ده دَ دُنیـــا د در
قیـــمتـــی دغـــه خـــزانـــه ده دَ دُنیـــا دَ در
تپـوس تـهٔ اُوکړه دَ بل چـانــه دا صلوة وسلام
رسیـــږي رســی دَجهــانــه ! دا صـلـوة وسـلام
دَ رحمت سپورے دے ځادر دے دَ رحمت دَ جهان
تـاج قیـمتـی دَهریو سـر دے دَ عـزت دَجهان
ځان کړه خبر اے مسـلمانه ! دا صلوة وسلام
رسیـــږي رســی دَجهــانــه ! دا صـلـوة وسـلام
پرتـه پـه دے کښي هم ده مینه محبت دَجهان
ګواه پـه دے بانـدي ده زمکه هریو بره اسمان
اے پـه دُنیا کښي قـدردانـه ! دا صلوة وسلام
رسیـــږي رســی دَجهــانــه ! دا صـلـوة وسـلام
پـکښـي رنـا ده دَ هـر زړهٔ دا عـلـمـاء وئیـلی
پـکښـي رنـا ده دَهــر زړهٔ دا اولیـاء وئیـلـی
اے دَ دُنیـا دَ دربـښـهٔ ځوانـه ! دا صـلـوة وسلام
رسیـــږي رســی دَجهــانــه ! دا صـلـوة وسـلام

دَهــر یــوزړۀ ده صــفــائــی دَهـرانسـان دَ پـاره
احـمـده ! دا دَ زړۀ عـلاج دے تـول جهـان دَ پـاره
تپــوس تــۀ وکــړه دَ مُـلانــه داصـلـوة وسـلام
رسیــږی رسـی دَجهـانــه ! دا صـلـوة وسـلام

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کـلــه بــه درځــم نبـی ! ﷺ هـاشـمـی سـرداره
لږ نـظـر پــه مــا دَ کـرم وکـړۀ خـدائـے دَ پـاره
دا زمـا ارمـان دے چـی یـو ګـل دَ مدینـې شـم
تـل زۀ خـدمـت ګـار دَ یـو مـحـفـل دَ مدینـې شـم
نـۀ وتـے دُنیـا کښـې سـتـا دَ در او لــه دریـاره
کـلــه بــه درځــم نبـی ! ﷺ هـاشـمـی سـرداره
لـوئـے مـقـام دُنیا کښـې دَ دُنیا پـه هر قـدم دے سـتـا
دغـه شـان اُمَـت تـول پـه دُنیا خیر الامم دے سـتـا
غــوره پــه دُنیــا کښـې دَهـرلارې ده سـتــا لاره
کـلــه بــه درځــم نبـی ! ﷺ هـاشـمـی سـرداره
مــا احــمــدعــلـی سـره ګـویـا دی دَ دُنیـا خـلـق
مـدح خـوان دی تـول ددې جهـان دَ مصطفیٰ ﷺ خلق
مدح خوان دے رب سـتـا اے محبـوب دَ ربّ غفـاره
کـلــه بــه درځــم نبـی ! ﷺ هـاشـمـی سـرداره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

د مکي نه شوې روان لامکان ته به ځې بره
پاس اسمان نه به ځې بره اے زمونږه پیغمبره ! ﷺ
په براق باندې شوې سور اے دَ دوجهان دلبره
منور شولو هرلور اے دَ دوجهان دلبره
اے ښائسته شمس وقمره! اے دَ دوجهان دلبره! ﷺ
د مکي نه شوے روان لامکان ته به ځے بره
بیاپه مسجدِ اقصیٰ کښېې ، تا دمه کړله په لاره
بیاپه دې نور وضیاء کښې ، تا دمه کړله په لاره
نوراني نورمنوره ! هاشمی خیر البشره! ﷺ
د مکي نه شوے روان لامکان ته به ځے بره
بیا امام شوے دَ آدمؑ ، دَ عیسیٰ ابن مریمؑ
منفرد شوے دغه دم ، په عرب او په عجم
اے صابره اے شاکره! قدرمنده بختوره! ﷺ
د مکي نه شوې روان لامکان ته به ځے بره
ټول نبیان شول راجمع تهٔ امام دَ انبیاء شوے
رسولان شول راجمع نور تمام دَ انبیاء شوے
قیمتي له هرګو هره، هرادا لرے افسره! ﷺ
د مکي نه شوې روان لامکان ته به ځے بره
پس له دې نه شوے روان په طرف دَ لامکان

بـره ځـی بــه دَجهـان پـه طرف دَ هـراسـمان
پـه بهتـرو کښـې بهتـره ، اے محبوب دَ ربَ اکبره
د مـکـې نـه شـوې روان لامـکـان ته به ځے بره
پـه اسمـان کښـې مـخامـخ شو بابا حضرت اٰدمؑ
استـقبـال تــه بیـا ولاړ وۀ عیسـیٰ ابـن مـریـمؑ
بیـا یـحییٰ سـره ولاړو ے هم پـه لاره معتبره!
د مـکـې نـه شـوې روان لامـکـان ته به ځے بره
دریـم اسمـان کښـې وۀ یوسفؑ دَ دیدن ستاطلبګار
استـقبــال تــه وۀ ولاړ ستــاکـوۀ ئې انتـظـار
اے شـفیـع المذنبینه!اے دَ هریونور نظره! ﷺ
د مـکـې نـه شـوې روان لامـکـان ته به ځے بره
څـلـورم اسـمـان کښـې بـره هـم ولاړ عـزت مـنـد وو
پـه ادریـسؑ سـره یاد شـو ے د دُنیا دا قـدرمـنـد وو
خـوشبـودار شۀ هـریـودر، شوه فضا هم معطره
د مـکـې نـه شـوې روان لامـکـان ته به ځے بره
پـه پـنـځـم اسمان کښې بره وۀ هارون علیه السلام
ستــادیــدن تــه وۀ ولاړ پــه ادب او احتــرام
اے ساقـی یـاد دَ کـوثره ، اے دَ هریو کور اختره
د مـکـې نـه شـوې روان لامـکـان ته به ځے بره
بیـا شپـږم اسمــان کښـې بـره ، موسیٰؑ کړے استقبال

ستـادیدن تـه وۀ ولاړ نـورانـی پـه نور جمال
بیا ترے لاړے بره بره ووم اسمان ته اے رهبره
د مـکـې نـه شـوې روان لامـکـان ته به ځـے بره
ووم اسمـان کښـې ابـراهیمؑ تا تـه بـره وۀ ولاړ
مهـربـانـه دا کـریم تـاتـه بـره وۀ ولاړ
احمـد کـړې دَ مـعـراج دا قـصـه ده مختصـره
د مـکـې نـه شـوې روان لامـکـان ته به ځـے بره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رنـارنـا رنـا دے سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ
عـظیـمـه پـه دُنیـا دے سیـرت دَ محمد ﷺ
سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ دے دستـور ددې دُنیا
سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ دے مـنشـور ددې دُنیا
هـرچـالـه مقتدا دے سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ
رنـارنـا رنـا دے سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ
سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ دے بینـا لـره نـظـر
سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ دے بهتـرو نـه بهتـر
قـائـد دَهـردانـا دے سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ
رنـارنـا رنـا دے سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ
سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ دے بـنیـاد ددې جهـان
سیـرت دَ مـحـمـد ﷺ دے مـراد ددې جهـان

بې مثله په هرخوا دے سيرت دَ محمد ﷺ
رښارښا رڼا دے سيرت دَ محمد ﷺ
سيرت دَ محمد ﷺ دے قمر يا بره نمر
سيرت دَ محمد ﷺ دے ړندو لره رهبر
قائد دے رهنما دے سيرت دَ محمد ﷺ
رښارښا رڼا دے سيرت دَ محمد ﷺ
سيرت دَ محمد ﷺ دے علاج دَ هر بشر
احمدعلی! ده کړي وينا دا مختصر
تل خوش دَ ربّ مولیٰ دے سيرت دَ محمد ﷺ
رښارښا رڼا دے سيرت دَ محمد ﷺ

★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدينه دَ پاک رسول ﷺ راته ياديږي
مينه کله مې په بل يو خيز ماتيږي
ځکه دا دے دَ رسول الله ﷺ مدفن
ځکه دا دے دَ رسول الله ﷺ وطن
رحمتونه دَ الله دلته وريږي
مينه کله مې په بل يو خيز ماتيږي
ځکه دلته دَ رسول الله ﷺ ياران دي
دوی په جمع لکه ستوری دَ اسمان دي

پــــه نسبــت دَ مــصـطـفـیٰ ﷺ سـره ځـلـيـږی
مېـنــه کـلــه مــې پــه بل يــو ځيــز مــاتيــږی
ځــکـــه دلتــه کښــې دربــار دَ مصـطفیٰ ﷺ دے
ځــکـــه دلتــه کښــې ګـلزار دَ مصـطفیٰ ﷺ دے
خوشبــوئــې يــې پــه هــر لــور کښــې محسوسيږی
مېـنــه کـلــه مــې پــه بل يــو ځيــز مــاتيــږی
پـــه نسبــت دَ مــصـطـفـیٰ ﷺ ګـل دَ جهــان دے
پــه نسبــت دَ مصطفیٰ ﷺ ښائستــهٔ اَسمان دے
رنـــاګـــانـــې ددې در نــــه تــقـسيـمـــيږی
مېـنــه کـلــه مــې پــه بل يــو ځيــز مــاتيــږی
دا کـــمـــال زمــــونــــږ دَ سيّــدالـــوریٰ ﷺ دے
چــې اوچــت ورســـره هـــريـــو پـــه دُنيــا دے
اے احـــمـــدعـــلـــی ! هـــرڅــــهٔ پـــرې اوچتيـــږی
مېـنــه کـلــه مــې پــه بل يــو ځيــز مــاتيــږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستـــا نسبــت ســره ځيــزونــه اُوچتيـــږی
لـکـــه نــمـر غــونـدې روښانــه شــی ځـليــږی
ستـــا نسبـــت ســـره اُوچتـــه مـديـنـــه ده
ستـــا نسبـــت ســـره اُوچتـــه حسيـنـــه ده
مــديـنـــه ده ستـــانبســت ســـره يـــاديـــږی

لــکـــه نــمــر غـــونــدې روښــانـــه ده ځـلـيــړې
ستــــا نسبــت دے اوچــت کــړے هــر بشــر
ستــــانسبــت دے اوچــت کــړے هــريـــو در
ستــانسبــت ســره ازغـــي ګـلـونـــه کيــړې
لــکـــه نــمــر غــونــدې روښـانـــه شي ځـليـړې
ستــانسبـت سره اوچت دی ستــا اصحــابؓ
ستــا نسبــت ســره اوچــت دی پـــه هــر بــاب
ورتـــه کــلـــه ذَ اسـمـــان ستــوري رسيـــړې
لــکـــه نــمــر غــونــدې روښـانـــه شي ځـليـړې
ستــا نسبــت ســره ګــلـونـو کښـي ښـکـلا ده
ستــا نسبــت ســره ښــائستـــه هـره فـضـا ده
پـــه نسبـــت دے مـحـفـلـونـه ښائستـه کيـړې
لــکـــه نــمــر غــونــدې روښـانـــه شي ځـليـړې
ستــا نسبـــت ســره ښـائستـــه احمدعلـي دے
ستــا نسبـــت ســره ښائستــه هـريـو ولـي دے
رحــمـتــونـــه ستـــا نسبـــت ســره وريـــړې
لــکـــه نــمــر غــونــدې روښـانـــه شي ځـليـړې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کـلـه بـه درځـم نبـي ! ﷺستـا ښـکلي ګلزار ته
ډيـر ډيـر مـې يادېږي چې زۀ درشم دغې ښار ته

ډیر ډیر مې یادیږی ستا د در ښکلی ګلونه نن
ډیر ډیر مې یادیږی ستا د در تول محفلونه نن
کله به زهٔ درشم ستا کوڅې ته او زهٔ لار ته
کله به درځم نبی ! ﷺستا ښکلې ګلزار ته
ډیر ډیر مې یادیږی ستا یاران دَ مدینې نبی ! ﷺ
ډیر ډیر مې یادیږی ستا مکان دَ مدینې نبی! ﷺ
بوځے الهی مې دَ رسول اللّٰه ﷺدیار ته
کله به درځم نبی ! ﷺستا ښکلې ګلزار ته
ډیر ډیر مې یادیږی ستا دَ حسن رناګانې نن
ډیرې مې یادیږی ستا دَکلی هواګانې نن
یوځلے مې بوځه الهی دغے بهار ته
کله به درځم نبی ! ﷺستا ښکلې ګلزار ته
بوځه الهی مې احمدوائی خپل حبیب له تهٔ
بوځه الهی مې ددَنیا دغې طبیب له تهٔ
خدایه نظر وکړے دَ رحم په ما بیمار ته
کله به درځم نبی ! ﷺستا ښکلې ګلزار ته

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کله به درځم نبی ! ﷺستا ښکلے دربار ته
سترګې مې نیولی دی رسوله! ﷺستا دیدار ته
ستا حُسن ته نهٔ رسی سحر د دې دُنیا ښکلے

ستا حُسن تـه نۀ رسیږي نمردي دُنیا ښکلے
نـۀ رسیـږی یو ځیز په ښکلا کښې ستا رُخسار ته
کـلـه بـه درځـم نبـی ! ﷺستـا ښـکلے دربار ته
تـۀ یـې هـم مـمتاز په کائنات کښې په ټول اَل سره
تۀ یې هم ممتاز په کائنات کښې هر کمال سره
نـۀ رسیـږی یـو بشـر دُنیـا کښې ستا یو یار تـه
کـلـه بـه درځـم نبـی ! ﷺستـا ښـکلے دربار ته
تـاج هـم دَ شـا هانو به سم نه کړم ستا دستارسره
تـخـت بـه دَ شا هانو زۀ سم نه کړم ستا دربار سره
نـــۀ رسیـــږی یـــو ځیـــز دَ دُنیــا دغـې دربـار تـــه
کـلـه بـه درځـم نبـی ! ﷺستـا ښـکلے دربار ته
هـر صـفـت سـره یې تۀ ممتاز په کائنات کښې نن
وائی احمد وائی ثانی نۀ لرے صفات کښې نن
تـاج دَ سپیـنو سروهم نۀ رسیږی ستا دستار ته
کـلـه بـه درځـم نبـی ! ﷺستـا ښـکلے دربار ته

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

صـادق امیـن ښـکلے دے دَرب نیازبین ښکلے دے
مـاتـرے قـربـان کـړے ربـه! رهبر دَ دین ښکلے دے
رهبـر زمـا هغـه دے هـم دَهـرچا هغـه دے
تـل مـقتـدا هغـه دے نور اورنا هغـه دے

شفيع دَ مذنبين دَ هر حسين ښکلے دے
ماترے قربان کړے ربه! رهبر دَ دين ښکلے دے
دَ نور باران هغه دے روح دَجهان هغه دے
دَ رحمت سپوږمے هم دے داسے عيان هغه دے
رحمت دَ عالمين ګل همنشين ښکلے دے
ماترے قربان کړے ربه! رهبر دَ دين ښکلے دے
نوراني نمر هغه دے نور دَ سحر هغه دے
مشك وعنبر هغه دے سپوږمے دَ سر هغه دے
رهبر دَ دين هغه دے په ربّ ميئن ښکلے دے
ماترے قربان کړے ربه! رهبر دَ دين ښکلے دے
رهبر دَ نور او نمر دے وايم خير البشر دے
سکون دَ هر نظر دے علاج دَ هر پرهر دے
طبيب دَ عالمين تل په يقين ښکلے دے
ماترے قربان کړے ربه! رهبر دَ دين ښکلے دے
وائي احمدعلي نن، تاج دے دَ هر بشر
عزت دَ هر بشر ، وايمه مختصر
ياد په طٰه سره هم تل په يٰسين ښکلے دے
ماترے قربان کړے ربه! رهبر دَ دين ښکلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حسين دَ کائنات دے تول ګلزار دَ مديني
نسبت سره اُوچت دے دَ تاجدار دَ مديني

هر دراو هر محفل ددغې در دے ډیر اوچت
هر لاره هر منزل ددغې در دے ډیر اوچت
رښا صورت هر در دے په ګفتار دَ مدینې
حسین دَ کائنات دے ټول ګلزار دَ مدینې
چمن ئې دے ښائسته ډیر خوشبوداره دَجهان
چمن ئې دے ښائسته او هره لاره دَجهان
خوشبو هر ځائے پرته ده په لار دَ مدینې
حسین دَ کائنات دے ټول ګلزار دَ مدینې
هر ګل ئې خوشبودار دے لا ثانی په هرصفت
هر ګل ئې خوشبودار دے مثالی په هر صفت
اُوچت دَ هریو ښار نه دے دا ښار دَ مدینې
حسین دَ کائنات دے ټول ګلزار دَ مدینې
هوا ئې خوشبوداره دَ دُنیا ده هر ساعت
هوا ئې خوشبوداره په هرخوا ده هر ساعت
احمدعلي ښائسته دے هر ګفتار دَ مدینې
حسین دَ کائنات دے ټول ګلزار دَ مدینې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ دَخدائے نه مدینه کښې مسکن غواړم
زۀ دَ خدائے نه مدینه کښې مدفن غواړم
زۀ طالب دَ مدینې دَ ګلستان یم
زۀ طالب ددې چمن په دے جهان یم

زۀ لـه خـدائـے نـه پـه دُنیا دا چمن غـواړم
زۀ دَ خـدائـے نـه مدینـه کښې مدفن غواړم
زۀ طـــالــب یـم دَ رســول الـلّٰـــه ﷺ دَ در
زۀ طـــالــب یـم دَ رســول ﷺ دَ هــر دلبــر
پـه مـحشـر کښې زۀ مـلـگـرے حسنؓ غواړم
زۀ دَ خـدائـے نـه مدینـه کښې مدفن غواړم
زۀ طـــالــب یـم دَ رســول ﷺ دَ انـواراتـو
زۀ طـــالــب دَ مـدیـنـې یـم دَ بـاغـــاتـو
مـدیـنـــه کښـې وسیـدل زنـکـدن غـواړم
زۀ دَ خـدائـے نـه مدینـه کښې مدفن غواړم
زۀ احــمــدعــلــی طـالـب دَ مـدیـنـې یـم
زۀ طـالـب پـه مـدیـنـه کښې دَ روضې یـم
مـعـطَــر پـــه مـدیـنــه زۀ بـدن غـواړم
زۀ دَ خـدائـے نـه مدینـه کښې مدفن غواړم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ طـالـب دَ پاک رسول ﷺ دَ خوږ وطن یـم
زۀ طـالـب دَ مـدیـنـې ښـائستـۀ چمن یـم
چــې نسبـــت ســـره اُوچتـــه پـــه طــه ده
مـرتبـه کښـې لــه اَسـمـانـه هم اعـلـیٰ ده
طـلبـگـــار زۀ پـــه دُنیـــا دَ دې گـلـشـن یـم

زۀ طالب دَ مدینې ښائسته چمن یم
په ښائست کښې لکه ګل دَ ګلستان ده
په ښائست کښې تاج په سر دَ هر سلطان ده
طلبګار ددغې در په هر سُخن یم
زۀ طالب دَ مدینې ښائسته چمن یم
هم مدفن دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ دے
هم مسکن دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ دے
طلبګار ددغې در زۀ دَ دیدن یم
زۀ طالب دَ مدینې ښائسته چمن یم
هریو درئې نورانی لکه آفتاب دے
احمد وائی نورانی لکه مهتاب دے
دغې درپسې اے خلقو! زۀ غمژن یم
زۀ طالب دَ مدینې ښائسته چمن یم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډیر مې بېقراره دے دا زړۀ په مدینې پسې
ډیریم بېقراره پاك رسوله! ﷺ ستاروضې پسې
ډیره مې یادیږی ستا روضه دَ مدینې ښکلے
ډیره مې یادیږی ستا کوڅه دَ مدینې ښکلے
ډیریم بیقراره پاك رسوله! ﷺ ستاکوڅے پسې
ډیر مې بېقراره دے دا زړۀ په مدینې پسې

ډېر ډېر مې يادېږي در ديوار دَ مدينې دَ در
ډېر ډېر مې يادېږي نور انوار دَ مدينې دَ در
هر يو څيز يادېږي په دُنيا ستا تذکرې پسې
ډېر مې بېقراره دے دا زړۀ په مدينې پسې
ډېر ډېر مې يادېږي پاك چمن دَ مدينې ښکلے
ډېر ډېر مې يادېږي پاك وطن دَ مدينې ښکلے
هر مؤمن کړېږي ستا په نور او په جلوے پسې
ډېر مې بېقراره دے دا زړۀ په مدينې پسې
ما احمدليکلے دا صفت دے ستا دَ در ښکلے
ستا صفت سره په دې دُنيا دے هر بشر ښکلے
ذکر تذکره کښې دی هر څوك ستا مرتبې پسې
ډېر مې بېقراره دے دا زړۀ په مدينې پسې

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

مونږ له راکړے ستا له مخه رب قرآن رسوله ! ﷺ
تا نه قربان تا نه قربان تا نه قربان رسوله ! ﷺ
چې پکښې پروت دے هدايت دَ ټول جهان دَ پاره
چې پکښې پروت دے هدايت دَ مسلمان دَ پاره
دا دے په مونږ باندې دَ پاك الله احسان رسوله ! ﷺ
تا نه قربان تا نه قربان تا نه قربان رسوله ! ﷺ
چې پکښې پروت دے نصيحت دَ ټول اُمت دَ پاره

چې پکښې پروت دے نُور حکمت دَ ټول اُمت دَ پاره
دا نازل کړے دے اللّٰه دَ پاس اسمان رسوله ! ﷺ
تانه قربان تانه قربان تانه قربان رسوله ! ﷺ
پکښې پراته دي احکامات دَ مسلمان دَ پاره
پکښې پراته دي احکامات هر يو انسان دَ پاره
هادي دُنيا کښې دَ دُنيا دَ هر انسان رسوله ! ﷺ
تانه قربان تانه قربان تانه قربان رسوله ! ﷺ
چې پکښې پروت دے احمد وائي حقيقت دَ جهان
چې پکښې پروت دے احمد وائي حقيقت دَ انسان
داسے به نۀ وي بل کتاب ښۀ عاليشان رسوله ! ﷺ
تانه قربان تانه قربان تانه قربان رسوله ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ارمان دَ مدينې منورې په زړۀ لرم
ارمان دَ مدينې زۀ دَ کوڅې په زړۀ لرم
ارمان مې دے په زړۀ په مدينه کښې دَ مسکن
ارمان مې دے په زړۀ په مدينه کښې دَ مدفن
ارمان دَ مدينې دَ نظارې په زړۀ لرم
ارمان دَ مدينې منورې په زړۀ لرم
ارمان مې دے په زړۀ چې يو وار وُکړم ئې ديدن
کړيږي مدينې پسے قسم دے مې بدن

ارمــان دَ مــدیــنــې دَهــر حــصــې پــه زړهٔ لــرم
ارمــان دَ مــدیــنــې مــنــورې پــه زړهٔ لــرم
ارمــان دَ مــدیــنــې مــې یــو حــصــه شوه دَ بدن
احــمــد وائــی پــه دې وجــه دُنــیاکښې یم غمژن
قــســم دے ارمــانــونــه دا نــعــرې پــه زړهٔ لــرم
ارمــان دَ مــدیــنــې مــنــورې پــه زړهٔ لــرم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ربَ چــې پــیــداکــړے ئــې دَ مــخــه دا دُنــیــا ده
څــوك دے مــحــمــد عــربی ﷺ ؟ نور رنړا رنړا ده
هــم دَ اســمــانــونــو هــم دَ زمکې دے سبب هغه
فــخــرِ دَ عــجــم دے هــم دے فــخــرِ دَ عرب هغــه
دا ویــنــا لــیــکــلــے پــه دُنیا کښې عــلــمــاء ده
بــره ستــوری تــول شــولــو رنــړا پــه دغې نور سره
تول شول نورانی زمونږه پاك نبی حضور ﷺ سره
هــم پــه اســمــانــونــو کښې خوره تریــنــه ضیا ده
نــمــر دَ اســمــانونو رنړا شــوے پــه حضور ﷺ سره
در دَ اســمــانــونــو رنړا شــوے پــه حضور ﷺ سره
هــم ئــې نــورانــی دَ کــائــنــات هــره ویــنــا ده
وائــی احــمــدوائــی نــورانی ورسره مونږ یو تول
مــونږه ئې امتیان یو لاثانی ورسره مونږ یو تول

هـــريـــو ادا ئـــي مـــنــفـــرده او جُـــدا ده
څوك دے مـحـمـد عـربـي ﷺ؟ نور رڼا رڼا ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُـور ډ کُـل جهـان ئـي عـاشـقـان تـالـه راځـي
تـا بـانـدي مـېـئـن تهول انـسـانـان تـالـه راځـي
نُــور ډ هــدايــت ئــي ډ دُنـيـــا د دغـــي در
نُــور ډ شــريـعـــت ئــي ډ دُنـيـــا د دغـــي در
دلتـــه ددي نـور دا طـــالـبــان تــالــه راځـي
تـا بـانـدي مـېـئـن تهول انـسـانـان تـالـه راځـي
نُـور ډ لامـكـــان ئـي مـنـوَره پـــه جهـــان
نُـور ئـــي حـق بيـان ئـي منـوَره پـــه جهـــان
خوبښ ډ هـرانسـان ئـي مسلمان تـالـه راځـي
تـا بـانـدي مـېـئـن تهول انـسـانـان تـالـه راځـي
نُـور ډ هـريـو در ئـي لاثـانـي پـه هـرصـفـت
نُـور ډ پـاس قـمـر ئـي لاثـانـي پـه هـر صـفـت
ستـا تـعـريف وئـيـونـكـي ثـنـاخـوان تـالـه راځـي
تـا بـانـدي مـېـئـن تهول انـسـانـان تـالـه راځـي
شـمـع بـلــه تـــهٔ ډ هـدايــت ئـي ډجهـــان
وائـي احـمـدوائـي ستـانـه زارشـمـه قـريـان
بــاريـــارسلامـونـــه ډ رحـمٰـن تـالـه راځـي
تـا بـانـدي مـېـئـن تهول انـسـانـان تـالـه راځـي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هـرڅـائـے کښـې رڼا ده پـه نبـي آخـرزمان سـره
هرڅائـے کښې رڼا ده په ښائستهٔ دغې قرآن سره
هر ځائـے کښـې رڼا ده پـه سـردار دَ مُرسلانو نن
هرڅائـے کښـې رڼا ده پـه تـاجدار دَ مُرسلانو نن
هرڅائـے رڼا شوے دے په پاك نبي سلطان ﷺ سره
هـرڅـائـے کښـې رڼا ده پـه نبـي آخـرزمان سـره
کـور کـلـے رڼـا دے دَ کـونینـو پـه سـردار سـره
کـور کـلـے رڼا دے دَ کـونینـو پـه غـمخـوار سـره
کـور کـلـے رڼـا دے پـه مشـفـقـه مهـربـان سـره
هـرڅـائـے کښـې رڼا ده پـه نبـي آخـرزمان سـره
عـرش اولامـکـان دے رڼـا شـوے پـه طـٰـه سـره
بـره هـر اسـمـان دے رڼـا شـوے پـه طـٰـه سـره
هـرطـرف رڼـا دے پـه نبـي مـاهِ تـابـان سـره
هـرڅـائـے کښـې رڼا ده پـه نبـي آخـرزمان سـره
هـريـو قـول دے نور دَ محـمـد خيـرالبشـر زمـونـږ
وائـي احـمـد وائـي نـوراني دے پيـغـمبـر زمـونـږ
هـرڅـائـے رڼا ګـانې دی پـه دغې پـاك انسـان سـره
هـرڅـائـے کښـې رڼا ده پـه نبـي آخـرزمان سـره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دیدن له پاك رسوله ! ﷺ ستا دربار له به درځمه
دیـدن لـه دَ دُنیـا دغـي بهار لـه بـه درځمـه
دیـدن لـه بـه درځمـه اے رحمت دَ کُلِ عالمـه
دیـدن لـه بـه درځمـه محتـرمـه ، مکـرّمـه
دیـدن لـه دُدُنیـا دغـي ګلـزار لـه بـه درځمـه
دیـدن لـه دَ دُنیـا دغـي بهار لـه بـه درځمـه
دیـدن لـه بـه درځمـه عـزت منده قـدردانـه
دیـدن لـه بـه درځمـه اے نبـي اٰخرزمانـه
دیـدن لـه ستا دَ درکوځي انوار له به درځمه
دیـدن لـه دَ دُنیـا دغـي بهار لـه بـه درځمـه
دیـدن لـه بـه درځمـه مهربـانـه پـه اُمَت
دیـدن لـه بـه درځمـه پـه دُنیا کښي دَ جنت
دیـدن لـه ستا د درکوځي انوار له به درځمه
دیـدن لـه دَ دُنیـا دغـي بهار لـه بـه درځمـه
دیـدن لـه بـه درځمـه اے زما دَ زړګـی سـره
دیـدن بـه درځمـه اے زما ښائستـهٔ دلبـره
حسیـن دَ کائنات ښکلے رُخسار له به درځمه
دیـدن لـه دَ دُنیـا دغـي بهار لـه بـه درځمـه

ديـدن لــه بــه درځـمــه احـمـد وائـې دَ مـردان
هـم دغــه تــمــنـا لـرم هـم دا مـې دے ارمــان
قسـم دے ډيـر يـاديږے مې ديدار له به درځمه
ديـدن لــه دَ دُنيـا دغـې بهار لـه بـه درځـمــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ځـان تــه مې اوغـواړه دَ دوجهـان سـرداره ! ﷺ
اے سيَـدالابــراره ﷺ ! زمــا دَ زړهٔ قــرارئـې
مــاتـــه مــعــلــومــه ده حسيـن ئـې
مــحبــوب دَ ربُّ الــعٰــلــميــن ئــې
ثانـې دے نشتـه په دُنيـا کښې ښـُسنداره! ﷺ
اے سيَـدالابــراره ﷺ ! زمــا دَ زړهٔ قــرارئـې
دَ طبيبــــانــو هــم طبيـــب ئــې
د زړهٔ تــکــور دَ هــر غــريــب ئــې
ستــا نــه زاريــږي دَ دُنيــا خلق مــالداره
اے سيَـدالابــراره ﷺ ! زمــا دَ زړهٔ قــرارئـې
تــهٔ ئـې کــامــل پــه هــر صــفــت
ستـــا دے کــامــل تـول شــريــعــت
ستاشريعت ده کاميابـې تولـه تاجداره! ﷺ
اے سيَـدالابــراره ﷺ ! زمــا دَ زړهٔ قــرارئـې
احــمــد ګــويــا ستــا پــه صــفــت دے

اميـــدوار ستـــــا دَ شـــفــــاعـــت دے
شفيع محشر کښي ئي دار نګ اُمت دَ پاره
اے سيَدالابـــراره ﷺ ! زمـــا دَ زړهٔ قـــرار ئـــي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وطــن دَ هــاشــمی ﷺ راتــه يــاديــږي د دُنيــا
چــمــن دَ پــا ك نبــی ﷺ راتـــه ياديږي د دُنيا
يــاديــږي مــي وطــن ښــکـلـے چمن دَ مدينې
ياديږي مي ښائستـهٔ ښکلے مدفن دَ مدينې
دا در دَ هـــر ولـــی راتـــه يـــاديـــږي د دُنيـــا
چــمــن دَ پــا ك نبــی ﷺ راتـــه ياديږي د دُنيا
يــاديــږي مــي هــر در دَ هاشمی خيــر البشر
يــاديــږي مــي دلبــر دَ کــائــنــات دَ بحــر وبــر
امـــام دَ هـــرنبـــی راتـــه يـــاديــږي پـــه دُنيـــا
چــمــن دَ پــا ك نبــی ﷺ راتـــه ياديږي د دُنيا
يــاديـــږي مــي تــاجــدار دَ رسولانــو دَ دُنيــا
يــاديـــږي مــي غــمــخوار دَ رسـولانــو دَ دُنيــا
قســم دے دا ســخی راتــه يــاديــږي پــه دُنيــا
چــمــن دَ پــا ك نبــی ﷺ راتـــه ياديږي د دُنيا
يــاديــږي مــي مــحبوب دَ ربّ اکبــر دَ دوجهــان
يـــاديـــږي مـــي رښـــا دَ هـــريـــو در دَ دوجهـــان

قسم دے دا مکی راته یادیږی دَ دُنیا
چمن دَ پاك نبی ﷺ راته یادیږی د دُنیا
یادیږی ددي درزما صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ
یادیږی ددي درزما حسنؓ سره سلمانؓ
ددغي درعلیؓ راته یادیږی دَ دُنیا
چمن دَ پاك نبی ﷺ راته یادیږی د دُنیا
یادیږی مي دا دروائي احمد ددي جهان
یادیږی مي محبوب دَ هر مکان او لامکان
دَ پاك نبی ﷺ نوسی راته یادیږی دَ دُنیا
چمن دَ پاك نبی ﷺ راته یادیږی د دُنیا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسم دے هاشمی ﷺ راته یادیږی دَ دُنیا
امام دَ هر نبی ﷺ راته یادیږی دَ دُنیا
یادیږی مي ډیر ډیر هغه محبوب دَ ربِ منّان
یادیږی مي ډیر ډیر هغه محبوب دَ کُل جهان
قسم دے دا مکی را ته یادیږی دَ دُنیا
امام دَ هر نبی ﷺ راته یادیږی دَ دُنیا
یادیږی مي ډیر ډیر هغه دلبر دَ دلبرانو
یادیږی مي ډیر ډیر هغه افسر دَ افسرانو
قسم دے مدنی راته یادیږی دَ دُنیا

امام دَ هر نبي ﷺ راته یادیږي دَ دُنیا
یادیږي مې ډیر ډیر هغه رهبر دَ کُل جهان
یادیږي مې ډیر ډیر خیر البشر دَ کُل جهان
سخیانو کښې سخی راته یادیږي دَ دُنیا
امام دَ هر نبي ﷺ راته یادیږي دَ دُنیا
احمد علي ! یادیږي ستا دلبر دَ هر بشر
یادیږي دے ډیر ډیر دَ کائنات شمس وقمر
دَ پاك نبي ﷺ نوسي راته یادیږي دَ دُنیا
امام دَ هر نبي ﷺ راته یادیږي دَ دُنیا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هریو ګل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
هر محفل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے په هر ګل کښې
لاثاني دے دَ دُنیا په هر محفل کښې
په سُنبل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
هر محفل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے هر چمن کښې
ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے پاك وطن کښې
تَحمُّل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
هر محفل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے

ښائست پروت دَ محمد ﷺ په بحر وبر دے
ښائست پروت دَ محمد ﷺ په هر خبر دے
په مُنګل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
هر محفل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے په هرقول کښې
ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے په ماحول کښې
خپل هم بل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
هر محفل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
په هر ځائے کښې ښائست پروت دَ پاک نبی ﷺ دے
اے احمد علی! اثر دَ هاشمی ﷺ دے
تل په تل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے
هر محفل کښې ښائست پروت دَ محمد ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په هر مقام هغه محبوب دَ ربِ اکبر یادیږی
نورانی نور دے په لقب خیر البشر یادیږی
هغه محبوب دَ کائنات دے دَ هر در دلته کښې
هغه محبوب دَ کائنات دے پیغمبر دلته کښې
دَ دلبرانو په دُنیا کښې یو دلبر یادیږی
هغه محبوب دَ ملائکو دَ اسمان هم دے
هغه محبوب دَ ملائکو دَجهان هم دے

په هر صفت سره کامله معطّر یادیږی
هغه محبوب دَ انبیاؤ مُرسلانو هم دے
هغه محبوب دَ صالحانو متقیانو هم دے
داسے محبوب داسے دلبر دَهر نظر یادیږی
هغه محبوب دَ علماؤ امامانو ټولو
هغه محبوب دَ کائنات دَ اُستاذانو ټولو
داسے محبوب دے په لقب باندې قمر یادیږی
هغه محبوب دے هم دَ ستورو چې رڼا دی بره
هغه محبوب دَ هریو څیز دے چې پیدا دی بره
داسے محبوب دے په لقب باندې هم نمر یادیږی
هغه محبوب دَ کُل مخلوق دے په جهان کښې چې دی
هغه محبوب دَ کل مخلوق دے په اسمان کښې چې دی
داسے محبوب وائی احمد هریو سحر یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خپل خپلوان دی کهٔ عرب او کهٔ عجم
اے نبی! ﷺ تهٔ ئې دَ ټولو محترم
تهٔ عالی ئې په نسب کښې دَ جهان
تهٔ عالی ئې په عرب کښې عالیشان
تهٔ رڼا ئې دَ دُنیا دَهر تورتم
اے نبی! ﷺ تهٔ ئې دَ ټولو محترم

تــهٔ بهتــر پــه خـلائـق کښې دَ جهــان ئــې
تــهٔ عــالــی پــه مـرتبــه کښې دَ اسمان ئې
هــر بشــر شــهٔ ستــا پـه نـور نـورانـی سم
اے نبـــی! ﷺ تـــهٔ ئــې دَ ټــولـو مـحتــرم
انبيــاؤ کښــې بهتــر پـــه کــائـنــات ئــې
مـجـمـوعــه پـه کــائـنات کښې دَ صفات ئې
ستــا پـــه يــاد ســره ختـمـيـږی هـريـو غـم
اے نبـــی! ﷺ تـــهٔ ئــې دَ ټــولـو مـحتــرم
احــمــد وائـــی اطـمـيـنـان دَ هـر بشـر ئـې
تــاج دُنيــا کښـې دَ عــزت دَ هـريـو سـر ئـې
دا بيـــان دے ستـــا صــفــت ســره ډيــر کــم
اے نبـــی! ﷺ تـــهٔ ئــې دَ ټــولـو مـحتــرم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه بنـګـلا کښـې ثـانـی ستـا دَ ګلزار نشتـه
مـحـمـده! ﷺ ثــانـــی ستــا دَ انـوار نشتــه
کــلـــه رســـی ستـــا انــوارو تـــه دا نــمــر
کــلـــه رســـی ستـــا انــوارو تـــه قـمــر
ستـا رخسـار پـه شـان دُنيا کښې رخسار نشته
مـحـمـده! ﷺ ثــانـــی ستــا دَ انـوار نشتــه
هــر ســحــر ستـــا پـــه رڼـا ســره رڼـا دے

بحر وبر ستا په رڼا سره رڼا دے

بحر وبر کښې ستا په شان بل سردار نشته

محمده! ﷺ ثانی ستا دَ انوار نشته

رڼاګانې ستا دَ نور نه تل خورېږی

ستا په نور سره دُنیا تولـه ځلیږی

هم سخی ئې ستا په شان وفادار نشته

محمده! ﷺ ثانی ستا دَ انوار نشته

دَ انوارو نه ستا ډك دغه جهان دے

احمد وائی نورانی په تا آسمان دے

اے حسینه! ﷺ ستا په شان حُسندار نشته

محمده! ﷺ ثانی ستا دَ انوار نشته

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بهترین نرم مزاجه په مزاج ئې

محمده ! ﷺ دَ شاهانو دَ سرتاج ئې

مهربان په هر بشر ددې جهان ئې

نرم خویه په دُنیا کښې عالیشان ئې

هم طبیب دَ مریضانو دَ علاج ئې

محمده ! ﷺ دَ شاهانو دَ سرتاج ئې

ستا سنت بلـه ډیوه ددې جهان ده

ستا سنت بلـه ډیوه دَ هر انسان ده

تــهٔ بشيــرئـي هم نـذيـراو هـم سـراج ئـي
مـحـمـده ! ﷺ دَ شـاهـانو دَ سـرتـاج ئـي
پـــه لـقــب خيــر الــورىٰ ســره يـاديـږے
پـــه لـقــب نـور الهُـدىٰ سـره يـاديـږے
مـخـــالف دَ بـدعتــونـو بـدرواج ئــي
مـحـمـده ! ﷺ دَ شـاهـانو دَ سـرتـاج ئـي
ستـــا نسبـت ســره اوچـت دے هـر بشــر
ستـــا نسبـت ســره اوچـت دے هـر يـو در
اے احـمـدعـلــى ! ددغـي در مـحتـاج ئـي
مـحـمـده ! ﷺ دَ شـاهـانو دَ سـرتـاج ئـي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ابتـــدا دَ هـــر نيـــكـى دے مـحـمد ﷺ
انتهـــا دَ هـــر نيـــكـي دے مـحـمـد ﷺ
غـــريبـــانــو لــــه رڼـــا دَ هـدايـــت ده
هـم شـــاهـــانــو لـــه رڼـــا دَ هـدايــت ده
تــل بنـــګـلا دَ هـــر نيـــكـى دے مـحـمـد ﷺ
ابتـــدا دَ هـــر نيـــكـي دے مـحـمـد ﷺ
اوّلـيـــن پـــه كـــائـنـــات كښـي پـه لقب دے
اٰخـريـن پـــه كـــائـنـات كښـي پـه لـقـب دے
نــور رڼـــا دَ هـــر نيـــكـى دے مـحـمـد ﷺ

ابتدا دَ هر نیکی دے محمد ﷺ
انبیاؤ کښې آخر باندې یادیږی
کائنات دغه ددُوی په نور ځلیږی
تل بقا دَ هر نیکی دے محمد ﷺ
ابتدا دَ هر نیکی دے محمد ﷺ
اے احمدعلی ! دَدوی په نور ښائسته شه
دَ نیکانو دَ تولکی یوه حصه شه
مقتدا دَ هر نیکی دے محمد ﷺ
ابتدا دَ هر نیکی دے محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بې نقطې زمونږ نبی دے محمد ﷺ
عالیشانه هاشمی دے محمد ﷺ
نقطه نشته ئې په نوم کښې دَ جهان
بې نقطې دے دَ شاهانو دا سلطان
مقتدا دَ هر ولی دے محمد ﷺ
عالیشانه هاشمی دے محمد ﷺ
بې نقطې دے تول سیرت دَ محمد ﷺ
بې نقطې دے شریعت دَ محمد ﷺ
بهترینه مدنی دے محمد ﷺ
عالیشانه هاشمی دے محمد ﷺ

هريو عيب نه پيدا شوے هغه پاك
مرتبى ته ئې حيران دى ټول افلاك
قبائل كښې قريشى دے محمد ﷺ
عاليشانه هاشمى دے محمد ﷺ
اے احمده! هغه نۀ لرى څه داغ
هريو ګل دے خوشبودار ددې باغ
هم مكى هم مدنى دے محمد ﷺ
عاليشانه هاشمى دے محمد ﷺ

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

تۀ بنګلا دَ هرچمن ئې ترابده اے احمده! ﷺ
مينه تاسره دَ ربّ ده بې حسابه اوبې حده
ستاپه مخ دى رڼا شوى آسمانونه دَ جهان
ستا په مخ دى رڼا شوى مكانونه لامكان
اے صادقه او امينه ! او حامده ، محمده ! ﷺ
مينه تاسره دَ ربّ ده بې حسابه اوبې حده
تۀ رحمت دَهرعالم ئې دا پخه مې عقيده ده
نُور رڼا دَ هرتورتم ئې دا پخه مې عقيده ده
نورانى ئې دَ ازل نه نورانى ئې ترابده
مينه تاسره دَ ربّ ده بې حسابه اوبې حده
هم طبيب دَهربيمار ئې بهترينه تاجدار ئې

تۀ سکون دَ زړه قرارئي تۀ محبوب دَرب غفارئي
هرقول دے لاثانی دے نه دے نه دے بے مقصده
مینه تاسره دَ ربّ ده بې حسابه اوبې حده
هم هادی ئې دَ هر در نور رڼا دَ هرسحر
ستا ښائست ته نۀ رسیږی رڼا شوې دا قمر
اے احمده! حق وینا ده ، محمده! ﷺ محمده! ﷺ
مینه تاسره دَ ربّ ده بې حسابه اوبې حده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې پیدا شۀ محمد ﷺ نبی اکرم
نورانی ټول کائنات شو هغه دم
کورکښې جوړه خوشحالی دَ عبدالله شوه
کافران شول په خفګان دَ ټول عالم
شیطانان دَټول عالم شول په خفګان
دَ ابلیس په کور کښې جوړ شولو ماتم
تیرې لاړې شوې رخصت دَ ضلالت
رڼاګانې شوې دُنیاکښې چم په چم
خزان لاړو شو رخصت له دې دُنیا نه
سپرلے راغے دَ الله فضل وکرم
کوڅې ډکې دَ مکې شولې دَ نوره
هریو څیز دَ مدینې شو محترم

چـا چـې دوی بـانـدې ایـمـان راوړے دلتـه
دَ شـاهـانـونـه اُوچـت دے مـقـدم
اے احـمـدعـلـی ! دا ټول ئې غـلامـان دی
کـه عـرب دے دَ دُنیـا کـه عـجـم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے جانان په تصوَر کښې دَ جهان وینمه
پـه تـصـوَر کښـې زهٔ مـېلمهٔ دَ لامکان وینمـه
پـه تـصـوَر کښې مـکـه او مدینـه پرتـه ده
په تـصـوَر کښـې مـې دَ پاك رسول ﷺ روضه پرته ده
پـه تـصـوَر کښې زهٔ محبوب دَ پاك سبحان وینمـه
پـه تـصـوَر کښـې مـې ګلونه دَ مکې پراته دی
پـه تـصـوَر کښـې مـې یـادونه دَ مکې پراته دی
پـه تـصـوَر کښـې مـدینـه پـه هرزمـان وینمـه
پـه تـصـوَر کښـې مـې پـرتـه هره ادا دَ نبی ﷺ
هـریـو ادا ده مـنـفـرده اوجُـدا دَ نبـی ﷺ
پـه تـصـوَر کښـې دا محبوب دَ هرانسان وینمه
په تصوَر کښې مې ښکلا دَ محمد ﷺ پرته ده
رنـا رنـا دَ هـرصبـا دَ مـحـمـد ﷺ پـرتـه ده
هـر سـاعت زهٔ دا نورانی ښائسته سلطان وینمه
پـه تـصـوَر کښـې زما پروت خیر الابرار نبی ﷺ دے

په تصوّر کښې زما پروت هغه تاجدار نبی ﷺ دے
وايم احمد په تصوّر کښې ئې هر آن وينمه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګلونه د چمن د محمد خير البشر ﷺ
مولیٰ دے کړه نصيب هم په دُنيا او په آخر
ګلونه دې نصيب شه هم خوشبو ددې مکان
مولیٰ دې کړه ښائسته هم په سنت او په قرآن
لعلونه دې نصيب شه د نبيانو د افسر
مولیٰ دے کړه نصيب هم په دُنيا او په آخر
لعلونه دې نصيب شه هم ياقوت او هم مرجان
نصيب دې دغه در شه په دُنيا کښې عاليشان
نصيب دې شه خوشبو ددغې ځائے مشك وعنبر
مولیٰ دے کړه نصيب هم په دُنيا او په آخر
نصيب دې شۀ خوشبو ددغې ګل او د ګلزار
نصيب دې شۀ خوشبو د مرسلانو د تاجدار
نصيب دې شۀ رڼا د دغې در روښانه نمر
مولیٰ دے کړه نصيب هم په دُنيا او په آخر
نصيب دې شۀ رڼا د دغې نور او د عرفان
نصيب دې شۀ رڼا د کائنات دا عاليشان
احمده ! شۀ نصيب دې ملګرتيا د پيغمبر ﷺ
مولیٰ دے کړه نصيب هم په دُنيا او په آخر

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هروختې هر ساعت مې په خيالونو کښې راځے
بنۀ خلقوله رسوله! ﷺ په خوبونو کښې راځے

طٰهٰ او مزمل سره یٰسینه دَجهان
ګلونه تاج په سر دَ ربَ نيازيينه دَ جهان
قرآن کښې ځائې په ځائې په آيتونو کښې راځے
بنۀ خلقوله رسوله! ﷺ په خوبونو کښې راځے

محفل دے نوراني دے د دُنيا دَ لامکان
قسم دے نوراني دے ستا په نور بره آسمان
عظيم په هرصفت سره نومونو کښې راځے
بنۀ خلقوله رسوله! ﷺ په خوبونو کښې راځے

صديقؓ عمرؓ عثمانؓ سره په زړونو کښې وسېږے
عليؓ سره سلمانؓ سره په زړونو کښې وسېږے
اصحابوؓ کښې حسانؓ له په نعتونو کښې راځے
بنۀ خلقوله رسوله! ﷺ په خوبونو کښې راځے

رڼا دے کرۀ دُنيا کښې زما کور کلے وطن
ښائسته دے دَ احمدعلی دَ زړۀ ګړلو چمن
مسلمؒ له بخاري له حديثونو کښې راځے
بنۀ خلقوله رسوله! ﷺ په خوبونو کښې راځے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

یاالله مابو ځے دَ رسول ﷺ ښکلے ګلزار ته
بیا بیا ما بوځے دَ رسول الله ﷺ دربار ته
بیا بیا ما بوځے دَ رسول ﷺ ښکلے چمن له تۀ
بیا بیا ما بوځے دَ رسول الله ﷺ وطن له تۀ
بیا بیا مابوځے مدینه کښې پاك مدفن له تۀ
یا الله مابوځے مهربانه حسندار ته
یاالله مابوځے دَ رسول ﷺ ښکلے ګلزار ته
بیا بیا ما بوځے مزمل او مدثر له تۀ
بیا بیا مابوځے نورانی شمس وقمر له تۀ
بیا بیا مابوځے دَ دُنیا دَ در سحر له تۀ
بیا بیامابوځے دَ اُمت هغې غمخوار ته
یاالله مابوځے دَ رسول ﷺ ښکلے ګلزار ته
بیا بیا مابوځے ما امام دَ مُرسلانو له
بیا بیاما بوځے ما امام دَ متقیانو له
بیا بیا مابوځے ما امام دَ امامانو له
بیا بیاما بوځے دَ شاهانو تاجدار ته
یاالله مابوځے دَ رسول ﷺ ښکلے ګلزار ته
بیا بیا ما بوځے دَ احمد دا تمنا ده تل

بیا بیا ما بوځے داپه زړۀ کښې ئې دُعا ده تل
بیــا بیــا مــا بوځے دا ئې او التـجـا ده تـل
بیـا بیـا مـا بـوځـے نورانی خیر الابرار ﷺ تـه
یاالله مابـوځے دَ رسول ﷺ بڼکلے ګلزارته

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ نبیــــانــــو تــــاج دَ ســــرئــــې
خــــوږ زمــــونــــږه پیــــغــــمبــــرئــــې
تــــۀ نیــــازبیــــن ئــــې دَمــــولــــیٰ هــــم
مهــــربــــانــــه پــــه هــــرچــــا هــــم
حــــق بیــــان دَ ربَ اکبــــرئــــې
خــــوږ زمــــونــــږه پیــــغــــمبــــرئــــې
ستــــا ویــــنــــا رڼــــا رڼــــاده
دَ حــــکــــمــــت نــــه ډکــــه داده
لاثــــانــــی پــــه هــــراثــــرئــــې
خــــوږ زمــــونــــږه پیــــغــــمبــــرئــــې
ربَ نــــازل پــــه تــــا قــــراٰن کــــړۀ
رهــــنــــمــــائــــې دَ جهــــان کــــړۀ
پــــه هــــرقــــول کښــــې مــــعــــطــــرئــــې
خــــوږ زمــــونــــږه پیــــغــــمبــــرئــــې
پــــه اخــــلاقــــو بهــــتــــریــــن ئــــې

هـــم صـــــادق ئـــې هـــم امیـــن ئـــې
دَ رحـــمـــــت ســـپـــوږمے افســـر ئـــې
خـــوږ زمـــونـــــږه پیـــغـــمبـــر ئـــې

نـــمـــونـــه تـــــهٔ بهتـــریـــن ئـــې
هـــم طــــــه ئـــې هـــم یٰسیـــن ئـــې
دَ دُنیـــــا رنـــــا ســـحـــــر ئـــې
خـــوږ زمـــونـــــږه پیـــغـــمبـــر ئـــې

دَ احـــــمـــــد دَ زړه ســـکـــون ئـــې
قـــدردان پـــــه هـــر مـــضـــمـــون ئـــې
دَ دُنیـــــا دَ دراختـــــــر ئـــې
خـــوږ زمـــونـــــږه پیـــغـــمبـــر ئـــې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هــر طــرف رنــا دے دَ نبیــانــو پــه امـام سره
هر طرف ښائسته دے په حضرت خیر الانام سره
هــرطــرف رنــا دے نــورانــی پــه هــر صفت سره
هــرطــرف رنــا دے روحــانــی پــه حقیقت سره
هــریــو دریــادیــږی پــه دې وجــه احتــرام سره
هر طرف ښائسته دے په حضرت خیر الانام سره

هــرطــرف رنــا دے نــورانــی ورتــه وئیلــے شــی
هــرطــرف رنــا دے لاثــانــی ورتــه وئیلــے شــی

یــادپــه مــنـوّرپــه هــردرپــه اهتـمـام سـره
هـر طرف ښائسته دے په حضرت خیر الانام سره
هـــرطـــرف رڼـــا دے مـنـوّره دَجهـــان دغـــه
هــرطـــرف رڼـــا دے منوّره عـــالیشـــان دغـــه
داســـے بـــه یـــادیـــږی هـریـو درپـه دې دوام سـره
هـر طرف ښائسته دے په حضرت خیر الانام سره
هـــرطـــرف رڼـــا احـمـدوائـــی دَ مـردان دَدر
هــرطــرف رڼـــا دے احـمـدوائـــی دَ جهـان دَ در
هرڅائـے منوّردے دا هرهروخت ماهِ تمام سره
هـر طرف ښائسته دے په حضرت خیر الانام سره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راتــه مـســکــن دَ مـحـمـد خیـر البشـر ﷺ یـادیـږی
چـي پـه دُنیـا کښـي نـورانـی بـره پـه نمر یادیـږی
راتـــه یـــادیـــږی هم کوڅـي ددغـي در دَ نبی ﷺ
راتـــه یـــادیـــږی تـل ذرې د دغـي در دَ نبـی ﷺ
پـــه رڼـا ګـانـو کښـي رڼـا بـره قـمـر یـادیـږی
راتـــه مـســکــن دَ مـحـمـد خیـر البشـر ﷺ یـادیـږی
راتـــه یـــادیـــږی هـــر ګـفـتـار ددغـي در دَ نبـی ﷺ
راتـــه یـــادیـــږی نـور انـوار د دغـي در دَ نبـی ﷺ
راتـــه رڼـــا دَ کـــائـنـات دَهـر سـحـر یـادیـږی

راتــه مســکــن دَ مـحـمـد خیـرالبشـر ﷺیــادیـږی
راتــه یــادیــږی مـحـفـلونــه ددې در دَ نبـی ﷺ
راتــه یــادیــږی تـهـول ګـلـونــه دَ دې در دَ نبـی ﷺ
مـاتـه حسین پـه کـائـنـات کښـې معطَـر یادیـږی
راتــه مســکــن دَ مـحـمـد خیـرالبشـر ﷺیــادیـږی
راتــه یــادیــږی تـهـول یــاران دَ دغـې در دَ نبـی ﷺ
راتــه یــادیــږی عــاشـقــان دَ دغـې در دَ نبـی ﷺ
راتــه احـمـده ! ددې در هـریـو ګـو هـر یــادیـږی
راتــه مســکــن دَ مـحـمـد خیـرالبشـر ﷺیــادیـږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

روان شــۀ اے نسیـمــه پــه سفـر دَ مـدیـنـې
دیــدن لــه لاړ شـــۀ لاړ شـــۀ دَ دلبـر دَ مـدیـنـې
نسیـمــه لاړ شــه لاړ شــه مـدیـنې تـه کړه سفر
بیـا هلتــه مدینــه کښې پـه هر دروکړه نظر
بیــا راوړه مــالــه هلتــه نـه خبـر دَ مـدیـنـې
دیــدن لــه لاړ شـــۀ لاړ شـــۀ دَ دلبـر دَ مـدیـنـې
نسیـمه لاړ شه لاړ شه نور چې نۀ شی تۀ ایسار
نسیـمــه لاړ شــه لاړ شــه پــه سفــر کـوه تلوار
شـروع کـړه زرکـړه زرکـړه خپـل سفـر دَ مدینې
دیــدن لــه لاړ شـــۀ لاړ شـــۀ دَ دلبـر دَ مـدیـنـې

نسیمه زما یوسه دَ خپل ځان سره سلام
سلام مې پاك رسول ﷺ ته کړه عرض په احترام
امام دَ مدینې دے پیغمبر ﷺ دَ مدینې
دیدن له لاړ شه لاړ شه دَ دلبر دَ مدینې
سلام ورته ووایه اے نسیمه په ادب
بادشاه چې دَ عجم دے هم بادشاه دے دَ عرب
هر ځائے په دوی سره دے معطَر دَ مدینې
دیدن له لاړ شه لاړ شه دَ دلبر دَ مدینې
بیان ورته بیا حال کړه دَ احمدعلی دَ در
کړیږی هغه تاپسې زخمی لری ځیګر
هروخت لری په زړهٔ کښې دا اثر دَ مدینې
دیدن له لاړ شه لاړ شه دَ دلبر دَ مدینې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ هر چا دَ زړګی سر دے
دا زمونږه پیغمبر دے
دَ رحمت سپوږمے دے دلته
دَ شفقت سپوږمے دے دلته
دَ دُنیا تیرو کښې نمر دے
دا زمونږه پیغمبر دے
دا سے نشته رهنما بل

داسے نشتـــــــه نـــوررنـــا بـــل
هـــر صـــفـــت ئـــي مـــنـــوَر دے
دا زمــــونــــــړه پیــــغــــمبـــــر دے
هـــم عـــلاج دَهـــــريــــو غـــم دے
هـــم عـــلاج دَهـــر مــــاتـــم دے
مـــعــــالــــج دَهـــــر بشـــــر دے
دا زمــــونــــــړه پیــــغــــمبـــــر دے
ربَ قـــــــراٰن ورلـــــــــه ورکـــــړے
حــــق بیـــــان ورلـــــــه ورکـــــړے
دَ دُنیـــــــــا دَ دراختــــــــــر دے
دا زمــــونــــــړه پیــــغــــمبـــــر دے
پــــــه اخـــلاقـــو ســـره بیـــل دے
نـــورانـــی ئـــي هـــر مـــحـــفـــل دے
پــــه تیـــرو کښـــي پـــاس قـــمـــر دے
دا زمــــونــــــړه پیــــغــــمبـــــر دے
اے احـــــمـــــده ستــــــا دلبــــــر دے
پــــه دُنیــــا کښـــي ستـــا رهبـــر دے
هـــريـــوقـــول ئـــي مـــعـتبـــــر دے
دا زمــــونــــــړه پیــــغــــمبـــــر دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے دَ دوجهـــــــــــــان افســـــــــره! ﷺ
اے زمـــــونـــــــږه پیـــــغـــمبـــــره! ﷺ
تـــــــهٔ ئـــــي حُســـــن دَ اســــمــــــان
تـــــــهٔ ئــــي حســـــن دَ جهــــــــان
اے دَ دوجهـــــــــــــان دلبــــــــــره! ﷺ
اے زمـــــونـــــــږه پیـــــغـــمبـــــره! ﷺ
رهـــــنــــمــــــا دَ هــــــر بشـــــر ئـــــي
نـــــور رنــــــا دَهــــــريـــــو درئـــــي
اے حسیـــــن شـــمـــــس وقـــمـــره! ﷺ
اے زمـــــونـــــــږه پیـــــغـــمبـــــره! ﷺ
ربَ قـــــــرآن درلــــــــــه درکـــــــړے
عـــــــاليشــــــــان درلـــــــه درکــــــړے
اے مـــــحبـــــوب دَ ربَ اکبـــــــره! ﷺ
اے زمـــــونـــــــږه پیـــــغـــمبـــــره! ﷺ
احـــــــاديــــــث دے عـــــاليشـــــان دي
يـــــا يــــاقـــوت دي يــــا مـــرجـــان دي
قيـــمتــــــى لــــــــه هـــــر ګـــو هــــره!
اے زمـــــونـــــــږه پیـــــغـــمبـــــره! ﷺ
پـــــــه اخـــلاقـــو بـــي مثـــــال ئـــي
مـــجـــمـــوعـــــه دَ هـــر کـــمـــال ئـــي

اے حسیـــــن خیـــــر البشـــــره! ﷺ
اے زمـــونـــــږه پیـــغـــمبــــره! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

امیـد لـرم لـه خدایـه ستـا مـکـان لـه بـه درځمه
رسـولـه! ﷺ دَ دُنیـا ستـا ګـلستان له به درځمه
دیـدن لــه بــه درځمــه کـۀ لیـکلـے وی رحمٰن
چـمن لــه بــه درځمــه کـۀ لیکلـے وی رحمٰن
ستـا کـور کـلی تـه تـاله او عـثمانؓ له به درځمه
رسـولـه! ﷺ دَ دُنیـا ستـا ګـلستان له به درځمه
دیـدن لـه بـه درځمـه کـه راضی شو ربّ رحمٰن
دیـدن لــه بــه درځمــه کـۀ اللّٰـه شـو مهـربـان
اٰفـتـاب له ستـا دَحُسن پاس اٰسمان له به درځمه
رسـولـه! ﷺ دَ دُنیـا ستـا ګـلستان له به درځمه
دیــدن لـــه بــه درځمــه کـۀ وغـواړي زما ربّ
چـمن لـه بــه درځمــه کـه وغـواړي زما ربّ
هـر درلـه احـمد وائـی عـالیشـان لـه به درځمه
رسـولـه! ﷺ دَ دُنیـا ستـا ګـلستان له به درځمه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ رهبـــرانـــو ئـــي رهبـــر حبیبــــــه! ﷺ
نـــورانـــی نـــور ئـــي پیـــغـــمبـر حبیبـــه! ﷺ

هـــر يـــورهبــر دَجهـــان تـــاپســـے دے
صـــديـــق اکبــرؓ دَ جهـــان تـــاپســـے دے
رڼـــا رڼـــائـــي دَ هـــر در حبيبـــــه ! ﷺ
نـــورانـــی نـــورئـــي پيـــغـــمبـــر حبيبـــه ! ﷺ
رهبـــران تـــول دی ستـــا دَنـــور طـــالبـــان
طـــالبـــان تـــول دی ستـــا دَ نـــور عـــالـــمـــان
رڼـــا قـــمـــرئـــي بـــره نـــمـــر حبيبـــه ! ﷺ
نـــورانـــی نـــورئـــي پيـــغـــمبـــر حبيبـــه ! ﷺ
سپـــورے دُنيـــا کښـــي دَ رحـــمـــت ئـــي بـــره
پـــاس لـــه اسـمـــانـــه ډيـــر اُوچـــت ئـــي بـــره
نـــورانـــی نـــورئـــي هـــم بشـــر حبيبـــه ! ﷺ
نـــورانـــی نـــورئـــي پيـــغـــمبـــر حبيبـــه ! ﷺ
ستـــا دَ رڼـــا مثـــل مثـــال نـــه ويـــنـــم
ثـــانـــی دے څـــوك دَ نـــور جـــمـــال نـــه وينم
مشك وعـــنبـــر ئـــي مـــعـــطّـــر حبيبـــه ! ﷺ
نـــورانـــی نـــورئـــي پيـــغـــمبـــر حبيبـــه ! ﷺ
احـــمـــد ليـــکـــلـــے ستـــا صـــفـــت دے کـــم
تـــانـــه قـــريـــان دغـــه عـــرب عـــجـــم
بـــي لتـــا نشتـــه مـــي دلبـــر حبيبـــه ! ﷺ
نـــورانـــی نـــورئـــي پيـــغـــمبـــر حبيبـــه ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تہول نورانی شو ستاله مخه دا عالم رسوله ! ﷺ
اے محترم رسوله ! ﷺ اے مکرّم رسوله ! ﷺ

ستا په سبق سره هر څائے رنړا شولو
ستا په سبق سره حسین ددي دُنیا شولو
ختم شو ختم ستا په نور سره هر غم رسوله ! ﷺ
اے محترم رسوله ! ﷺ اے مکرّم رسوله ! ﷺ

تا په خپل نور سره ښائسته هریو بشر کړلو هم
تا په خپل نور سره روښانه هریو در کړلو هم
خبر کړۀ تا له هر نقصان بنی ادم رسوله !ﷺ
اے محترم رسوله ! ﷺ اے مکرّم رسوله ! ﷺ

نورانی تا کړل هم ستوری دَ اسمان په چت
لاثانی تاکړل تہول ستوری دَ جهان په چت
ختم کړۀ ختم دَ دُنیا نه تا تورتم رسوله ! ﷺ
اے محترم رسوله ! ﷺ اے مکرّم رسوله ! ﷺ

تیاري شوي ختمي رنړاګاني په هرلور شوي په تا
ختمي شوي ختمي رنړاګاني کور په کور شوي په تا
عرب ښائسته شو هم ښائسته شولو عجم رسوله ! ﷺ
اے محترم رسوله ! ﷺ اے مکرّم رسوله ! ﷺ

دَجهالت تورو تیرو کښي بره نمر ښکاره شوے

دَ جهالت تورو تيرو کښې پاس قمر ښکاره شوے
احمد ليکلے تول بيان دے په قلم رسوله ! ﷺ
اے محترم رسوله ! ﷺ اے مکرّم رسوله ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر طرف ښائسته دے ستا په حُسن په ښکلا سره
شال دَ حُسن خوند کوی رسول اللّٰه ﷺ ډير تا سره
شال دَ حُسن خوند کوی په سر باندې اے ستا نبی ﷺ
ياد په دے صفت ئې ياد ئې سيّدالوریٰ سره
بل دَ مزمل لباس اغستے په جهان دے تا
زلفې دے ښائسته دی په واليل اذا يغشیٰ سره
مخ دے نورانی لکه دَ حُسن پاس قمر دے دا
ياد دے دغه مخ دے په قرآن کښې والضحیٰ سره
سترګې ښکلے ستادی هم رسوله ! ﷺ دَ دُنيا دَ در
داسے سترګې چرته دی هم نشته دَ بل چا سره
باغ ته نۀ رسيږی ستا باغونه د دُنيا دا تول
نۀ مې اوريدلی دی احمده ! په وينا سره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قربان لتانه په هر حال حبيبه ! ﷺ
نشته دے نشته څوک دَ سيال حبيبه ! ﷺ
قربان قربان دے دَ روضې نه شمه
دَ مدينې منوّرې نه شمه

قــربــان قــربــان دے دَ جـمــال حبیبــه ! ﷺ
نشتــه دے نشتــه څوک دَ سیال حبیبه ! ﷺ
قــربـــان زهٔ ستـــا دَ ګــل ګـلانــو نـــه شــم
قــربــان زهٔ ستـــا دَ عــاشـقــانــو نــه شــم
قــربــان دے زهٔ لــه هــر کــمـال حبیبــه ! ﷺ
نشتــه دے نشتــه څوک دَ سیال حبیبه ! ﷺ
قــربــان قــربـــان دے دَ ویــنــا نــه شمــه
قــربــان قــربـــان دے نــور رنــا نــه شمــه
لاثـــانـــی تــهٔ ئـي پــه مثـــال حبیبــه ! ﷺ
نشتــه دے نشتــه څوک دَ سیال حبیبه ! ﷺ
احــمــد قـــربــان دے دَ وطــن نـــه شـــی دا
قــربــان قــربــان دے دَ لــمــن نــه شـی دا
قــربــان قــربــان زهٔ ستــا دَ آل حبیبــه ! ﷺ
نشتــه دے نشتــه څوک دَ سیال حبیبه ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستـا لــه بـرکـتـه یُو په نیغه لار روان رسوله ! ﷺ
تـانـه قـربان تـانـه قربان تانه قربان رسوله ! ﷺ
تـا دَ تـوحیـد سبـق ښودلے کُل عالم ته نبی ﷺ
هـم تـا عـرب دے ښـودلے هم عجم ته نبی ﷺ
دا په دُنیا کښي دے په مونږه ستا احسان رسوله ! ﷺ

تانه قربان تانه قربان تانه قربان رسوله ! ﷺ

ستا په تعليم سره خبر مونږ دَ اسلامه شولو

ستا په تعليم سره خبر دَ پاك كلامه شولو

دَ هر نعمت نه دا نعمت دے عاليشان رسوله ! ﷺ

تانه قربان تانه قربان تانه قربان رسوله ! ﷺ

ستا په قدم باندې قدم ايښے روان يُو مونږه

ستا په رښا پسې روان په هر مكان يُو مونږه

مونږه په جمع ستا دَ نُوريوُ طالبان رسوله ! ﷺ

تانه قربان تانه قربان تانه قربان رسوله ! ﷺ

ستا دَ رحمت سپورې دَلاندې دا احمدعلى دے

ستا دَ عظمت سپورې دَلاندې دا احمدعلى دے

ياد په دُنيا دے در په درستا ثناخوان رسوله ! ﷺ

تانه قربان تانه قربان تانه قربان رسوله ! ﷺ

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

تهٔ ئې سلطان دَ هر سلطان حبيبه ! ﷺ

په سر ستا تاج دے دَجهان حبيبه ! ﷺ

تهٔ ئې رښا دَهريو در دَ جهان

تهٔ ئې رښا نوراني نمر دَ آسمان

تهٔ رښا نمر ئې عاليشان حبيبه ! ﷺ

په سر ستا تاج دے دَجهان حبيبه ! ﷺ

تـــا ســـره میـنـــه عـلامـــت دَ فــلاح
نشتـــــه دے نشتـــــه بـل نسبـت دَ فـلاح
تـهٔ ئـي مـحبـوب دَ پاك سبحـان حبيبـه ! ﷺ
پـــه ســـر ستـــاتـــاج دے دَجهـــان حبيبـــه ! ﷺ
درود ســـلام عـــاشـــقـــان وائـــی پـــه تـــا
ســحـــر مـــابـنـــام دَا جهـــان وائـــی پـــه تـــا
پـــه تـــا بنـــائستـــهٔ دے گـلستـان حبيبـــه ! ﷺ
پـــه ســـر ستـــاتـــاج دے دَجهـــان حبيبـــه ! ﷺ
بـــي لتـــانشتـــــه دَ ژونـــدون څـــــهٔ مـــزه
بـــي لتـــا نشتـــــه دَ مـــضـــمـــون څـــهٔ مـــزه
دا دَا حـــمـــد دے حـــق بيـــان حبيبـــــه ! ﷺ
پـــه ســـر ستـــاتـــاج دے دَجهـــان حبيبـــه ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راتـــه حسيـــن دَ كـــائـنـــات خيـــر الابـــرار ﷺ يـــاديـــږی
چـي پــه لـقـب بــانـدي محبوب دَ ربّ غفار يـاديـږی
هغـــه حسيـــن دَ كـــائـنـــات پـــه هـــر صفت هغـــه دے
هغـــه حسيـــن دَ كـــائـنـــات پـــه ټول صورت هغـــه دے
حسيـــن دُنـيـــا كـښـي پـــه سيـرت پـه هر يو دار يـاديـږی
راتـــه حسيـــن دَ كـــائـنـــات خيـــر الابـــرار ﷺ يـــاديـــږی
حسيـــن دُنـيـــا كـښـــي دَ هـــر ګـل نـــه دَ ګـلـونـو نـه دے

حسین دُنیا کښې هر محفل نه محفلونو نه دے
ماته حسین دَ هریو حُسن تاجدار یادیږی
راته حسین دَ کائنات خیر الابرار ﷺ یادیږی
حَسین دَ حُسن په دُنیا دَ هر سحر هغه دے
حسین دَ حُسن په دُنیا کښې رڼا نمر هغه دے
حسین دُنیا کښې دَ دُنیا په هر ګفتار یادیږی
راته حسین دَ کائنات خیر الابرار ﷺ یادیږی
حسین دَ حُسن په دُنیا کښې تاج دَ سر هغه دے
حسین دَ حُسن په دُنیا کښې نُور قمر هغه دے
ماته دُنیا کښې دے دَ حُسن تول انوار یادیږی
راته حسین دَ کائنات خیر الابرار ﷺ یادیږی
حسین دَ حُسن په دُنیا کښې منفرد ئې جُدا
حُسین دَ حُسن په دُنیا کښې ئې احمد وائی دا
راته دَ حسن ستا دُنیا کښې هر ګلزار یادیږی
راته حسین دَ کائنات خیر الابرار ﷺ یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رحمت په سر دَ هر انسان حبیبه ! ﷺ
تا نه قربان تا نه قربان حبیبه ! ﷺ
تهٔ ئې رحمت دَ کل عالم دَ پاره
تهٔ ئې رحمت عرب عجم دَ پاره

سپوږمے دُنیا کښې عالیشان حبیبه ! ﷺ
تا نه قربان تا نه قربان حبیبه ! ﷺ
ته ئې رحمت دَ هر بشر دَ پاره
ته ئې رحمت دَ بحر وبر دَ پاره
دَ حق دُنیا کښې ئې نشان حبیبه ! ﷺ
تا نه قربان تا نه قربان حبیبه ! ﷺ
ستا دَ شفقت دَ سپوری لاندې یمه
ستا دَ رحمت دَ سپوری لاندې یمه
احمد لیکلے حق بیان حبیبه ! ﷺ
تا نه قربان تا نه قربان حبیبه ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ارمان لرم دَ مدینې حبیبه ! ﷺ
بې لتا یمه بې اسرې حبیبه ! ﷺ
دا مې ارمان دَ دې جهان په زړۀ دے
دا مې بیان دَ دې جهان په زړۀ دے
چې بس یو وار مې وُلیدې حبیبه ! ﷺ
بې لتا یمه بې اسرې حبیبه ! ﷺ
راته یادیږی ستا محفل دَجهان
ستا اوریدل او ستا وئیل دَ جهان
یادیږی ستا راته جلوې حبیبه ! ﷺ

بـي لتـــايـمــــه بـي اسـري حبيبـــه ! ﷺ
تـــاتــه ولاړ وے لاس پــه نـــام هـلـتــه كـښـي
ډيـــر پـــــه ادب او احتــــرام هـلـتـــــه كـښـــي
ذَ مــديـــنــــي مــــنــوَري حبيبـــــه ! ﷺ
بـــي لتـــايـمـــــه بـي اسـري حبيبـــه ! ﷺ
ډيـــر بــختـــور دي چـي ځــوك تـــاســره دي
تـــول مـــنـــوَر دي چـــي ځـــوك تـــاســره دي
تـــاســــره تـــولــے دي مــزي حبيبـــــه ! ﷺ
بـــي لتـــايـمـــــه بـي اسـري حبيبـــه ! ﷺ
ستـــا ذَ روضــے هــم لـوئــے مقـام دے نبي! ﷺ
نــورانـــي نـــور ذَ هـــر مـابـنـام دے نبـي ! ﷺ
رنـــا دي تـــاســـره كـــوځـــي حبيبـــــه ! ﷺ
بـــي لتـــايـمـــــه بـي اسـري حبيبـــه ! ﷺ
ستـــا پـــه صـفــت زه احـمـد مـوړ بــه نشـم
ستـــا ذَ صـفـــت نـــه بـغـيـــر جـوړ بــه نشـم
خـونـد كـوي خـونـد ستـــا تذكري حبيبـه ! ﷺ
بـــي لتـــايـمـــــه بـي اسـري حبيبـــه ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـــديـــنــــي تـــــه روانيـــــږم راكــــړه غـــاره
د الـلّـــــه نـــــه هــم تــــۀ دغــــه سـفـــر غـواړه

لوئي مقام هم دَ مکې او مدينې دے
نوراني دي معطره دغه دواړه
هر يو ځائے دَ مدينې ټول نوراني دے
که ئې مينځ دے د دُنيا او که ئې غاړه
خدائے نصيب دې کړه ديدار دَ مدينې
په مکه کښې هم نصيب دې شۀ ولاړه
اے احمده ! دَ ديدار ئې لوئي اثر دے
په ديدار ئې ابادېږي دَ زړۀ شاړه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قربان قربان ستانه حرم حبيبه ! ﷺ
قربان لتانه ټول عالَم حبيبه ! ﷺ
ووړۀ اسمانونه ټول قربان لتانه
قربان قربان دا ټول جهان لتانه
تيرو کښې نور ئې دَ تورتم حبيبه ! ﷺ
قربان لتانه ټول عالَم حبيبه ! ﷺ
قربان لتانه دا ګلونه بنګلي
قربان لتانه ټول باغونه بنګلي
بنګلا بنائست ئې مکرّم حبيبه ! ﷺ
قربان لتانه ټول عالَم حبيبه ! ﷺ
عرش لامکان تانه قربان دَ جهان

دا تـول شـاهـان درنـه قـربـان دَجـهـان
قـربـان شـه ستـا لـوح وقـلم حبیبـه ! ﷺ
قـربـان لتـانـه تـول عـالَـم حبیبـه ! ﷺ
قـربـان عـرب د دي جهـان لتـانـه
قـربـان قـربـان ستـا دَهـريـو ادا نـه
درنـه قـربـان دا تـول عـجـم حبیبـه ! ﷺ
قـربـان لتـانـه تـول عـالَـم حبیبـه ! ﷺ
قـربـان لتـانـه زۀ احـمـد دَمـردان
قـربـان لتـانـه دَ دُنـيـا دا بيـان
اے عـزت مـنـده مـحـتـرم حبیبـه ! ﷺ
قـربـان لتـانـه تـول عـالَـم حبیبـه ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نـورانـی نـورئـي دَ آفتـاب حبیبـه ! ﷺ
حُسـن دَ ګـل ئـي دَ ګـلاب حبیبـه ! ﷺ
حُسـن ښـكـلا دَ اسـمـانـونـو ئـي تـه
حُسـن قسـم دے دَ بـاغـونـو ئـي تـه
پـه خپـل ښائسـت كښـي لاجواب حبيبه ! ﷺ
نـورانـی نـورئـي دَ آفتـاب حبیبـه ! ﷺ
حُسـن دَ ګـل دَ مـخ دے ستـا دَ مـخ
دَ هـر مـحـفـل دَ مـخ دے ستـا دَ مـخ

داسې به نۀ وي په يو باب حبيبه ! ﷺ
نوراني نور ئې دَ آفتاب حبيبه ! ﷺ
حُسن دَ تور زلفو ستا يادېږي
ښائست دے دلته په هرخوا يادېږي
مثال دے نشته دَ شبَاب حبيبه ! ﷺ
نوراني نور ئې دَ آفتاب حبيبه ! ﷺ
حُسن ته نۀ رسيږي ستا قمر
حسن دے ستا ددې دُنيا قمر
اے دَ خالق مالك توّاب حبيبه ! ﷺ
نوراني نور ئې دَ آفتاب حبيبه ! ﷺ
احمد دَ حُسن ستا تعريف کړے دے
ما قافيه کښې په رديف کړے دے
حسين ئې ښکلے بې حساب حبيبه ! ﷺ
نوراني نور ئې دَ آفتاب حبيبه ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په انبياؤ کښې دَ ټولو نه بالائې نبی ﷺ
په مخلوقاتو کښې دَ ټولو نه اعلیٰ ئې نبی ﷺ
تاج دَ لولاك دے پسر کړے درته ربّ زمونږه
داسے دُنيا کښې پاك رسوله ! ﷺ مصطفیٰ ئې نبی ﷺ
شال دَ يٰسين دے په وجود باندې ټول پروت دے نبی

داسے حسین دَ کائنات بدرالدجیٰ ئې نبی
جوړه دَ حُسن په دُنیا کښې اچولے ده تا
دَ دلبرانو ئې دلبر شمس الضحیٰ ئې نبی
زمکه په تاباندې ښائسته ده ددُنیا دغه نن
داسے یاد شوے په دُنیا کښې په هرځائې نبی
په اوّلین سره یاد شوے تول جهان کښې ئې ته
دَ مُرسلانو په آخر کښې انتهائې نبی
لکه چې څنګه ته رهبر ئې دَ احمد دلته کښې
داسے رهبر په کائنات کښې دَهر چا ئې نبی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے دَهر کور قلعې بُنیاد حبیبه! ﷺ
اے دَ هرچا دَ زړه مراد حبیبه! ﷺ
دَ هریو کور دَ در بُنیاد ئې نبی ﷺ
مضبوط په عزم کښې فولاد ئې نبی ﷺ
مقصود دُنیا کښې دَ عباد حبیبه! ﷺ
اے دَهر کور قلعې بُنیاد حبیبه! ﷺ
ته ئې بُنیاد دَ شریعت دَ کور
ته ئې بُنیاد دَ هر سنت دَ کور
موسم سپرلے ئې دَ بلاد حبیبه! ﷺ
اے دَهر کور قلعې بُنیاد حبیبه! ﷺ

تــــهٔ ئــې ســـکـــون دَ شـــريـعـــت دَ کــور
دلتــــه ئــې يـــاد پـــه لـوئـے نسبـت دَ کـور
زړونـــه تـــازه دی ستـــاپـــه يـــاد حبيبـــه ! ﷺ
اے دَهــرکـور قـلـعـي بُنيـاد حبيبـــه ! ﷺ
دَ عــزت دلتـــه ښـائستـــه تـاج نبـی ﷺ ئـي
لاثـــانــی دلتـــــه پـــه عــلاج نبـی ﷺ ئـي
دوا دَ هـــريـــو درد فـــريـــاد حبيبـــه ! ﷺ
اے دَهــرکـور قـلـعـي بُنيـاد حبيبـــه ! ﷺ
ستـــا پـــه نسبـت ســره اُوچـت يُـو مـونـږه
ډيـرزيـات يـاد شـوے پـه عزت يـو مـونـږه
اوچـت اوچـت دے ستـــا اولاد حبيبـــه ! ﷺ
اے دَهــرکـور قـلـعـي بُنيـاد حبيبـــه ! ﷺ
اے دَ احـــمـــدعـــلـــی دَ زړهٔ ټـــکـــوره
اے دَ حــضــرت عــلــیؓ اســلامـــی روره
صـــادق، امينـــه ! اے جـوّاد حبيبـــه ! ﷺ
اے دَهــرکـور قـلـعـي بُنيـاد حبيبـــه ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے دَ عــرب عــجـم صـــادق رسـولـــه ! ﷺ
اے دَ الـــلّٰـــه ســره لاحـق رسـولـــه ! ﷺ
مشـرق مـغـرب ستـا ثـنـاخـوان دی نبـی ﷺ

شمال جنوب ستا عاشقان دي نبي ﷺ
اے دَ هر يو صفت لائق رسوله ! ﷺ
اے دَ الله سره لاحق رسوله ! ﷺ
حق ستا دَ در نه په جهان کښې خور دے
هم په ځنګل او بيابان کښې خور دے
هميشه حق باندې ناطق رسوله ! ﷺ
اے دَ الله سره لاحق رسوله ! ﷺ
هر يو دَ دين چمن په تا آباد دے
دلته کښې هر وطن په تا آباد دے
اے ابتداء دَ خلائق رسوله ! ﷺ
اے دَ الله سره لاحق رسوله ! ﷺ
خطاکار دلته کښې معاف کړي ربّ دي
ګناه ګار دلته کښې معاف کړي ربّ دي
اے په هرچا باندې فائق رسوله ! ﷺ
اے دَ الله سره لاحق رسوله ! ﷺ
اے دَ احمد علي دلبره نبي ﷺ
اے دَ دُنيا خير البشره نبي ﷺ
ښکلا ښائسته دَ حدائق رسوله ! ﷺ
اے دَ الله سره لاحق رسوله ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ختم شوے نبوت په محمد ﷺ دے
ختم شوے شریعت په محمد ﷺ دے
بنده شوې سلسله ده دغه لاره
بنده شوې سلسله هر چا دَ پاره
ختم شوے هدایت په محمد ﷺ دے
ختم شوے نبوت په محمد ﷺ دے
ختم شوے هریو نور رڼا په دۀ ده
ختم شوے دلته کښې وفا په دۀ ده
ختم شوے عدالت په محمد ﷺ دے
ختم شوے نبوت په محمد ﷺ دے
ختم شوے دَ بڼکلا آغاز په دۀ دے
ختم شوے ضیاء آغاز په دۀ دے
ختم شوے هر صادقت په محمد ﷺ دے
ختم شوے نبوت په محمد ﷺ دے
ختمه شوې سلسله دَ انبیاء ده
ختمه شوې سلسله ددې رڼا ده
ختم شوے هر عزت په محمد ﷺ دے
ختم شوے نبوت په محمد ﷺ دے

ختمه شوي سلسله دغه ده پاکه
اے احمده! تپوس اُکړه له افلاکه
ختم شوے امامت په محمد ﷺ دے
ختم شوے نبوت په محمد ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې رهبر دَ رهبرانو په هر خوا دے
دَ سرسېورے دَ دُنیا دا مصطفیٰ ﷺ دے
دَ سر سېورے دَ سر چهت دَ هر بشر دے
نوراني دے منوّر لکه قمر دے
نمر دُنیا کښې رڼا شوې په دُنیا دے
دَ سرسېورے دَ دُنیا دا مصطفیٰ ﷺ دے
دَ سر سېورے دَ عالم دَ هر ولي دے
دَ سرسېورے دَ صدیقؓ، عمرؓ، عليؓ دے
دَ عثمانؓ دَ پاره سېورے راشه دا دے
دَ سرسېورے دَ دُنیا دا مصطفیٰ ﷺ دے
دَ سر سېورے دَ مفتي دَ هر امام دے
دَ سرسېورے په دُنیا کښې خاص وعام دے
ابتدا په کائنات کښې دَ رڼا دے
دَ سرسېورے دَ دُنیا دا مصطفیٰ ﷺ دے
دَ سرسېورے محدّث له په جهان دے

دَ سر سپورے په دُنیا دَ هر انسان دے
په مخلوق کښې دَ اعلاوو نه اعلیٰ دے
دَ سر سپورے دَ دُنیا دا مصطفیٰ ﷺ دے
دَ سر سپورے دے احمد له د مردان
دَ سر سپورے دے په زمکه په آسمان
دَ سر سپورے دَ هر ځوان دَهر بابا دے
دَ سر سپورے دَ دُنیا دا مصطفیٰ ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تذکره چې دَ رسول ﷺ دَ پاك وطن ده
دا عالي دَ پاك رسول ﷺ په پاك بدن ده
دا عالي ده ځکه ښار دَ محمد ﷺ دے
دا عالي ده داګلزار دَ محمد ﷺ دے
خوشبوداره دَ نبي ﷺ په پاك کفن ده
دا عالي دَ پاك رسول ﷺ په پاك بدن ده
دا عالي ده مرتبه کښې له آسمانه
دا عالي ده دَ مکان او لامکانه
تذکره ئې که پرون ده او که نن ده
دا عالي دَ پاك رسول ﷺ په پاك بدن ده
دا عالي ده هم دَ لوح او دَ قلم نه
دا عالي ده په دُنیا عرب عجم نه

مقدسه تذکره په پاك لمن ده
دا عالي دَ پاك رسول ﷺ په پاك بدن ده
اے احمده ! دا عالي ده له چانه
تپوس کولے شے دَ دین دَ علماء نه
مقدسه تذکره دَ پاك مدفن ده
دا عالي دَ پاك رسول ﷺ په پاك بدن ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر یشر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
بره نمر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
ستا په وجه پیدا شوے هر آسمان دے
ستا په وجه پیدا شوے هر انسان دے
هر یودر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
بره نمر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
ستا په وجه پیدا کړے ربَ ښکلا ده
ستا په وجه پیدا کړے ربَ رڼا ده
هر نظر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
بره نمر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
ستا په وجه پیدا کړی ربَ دی غرونه
ستا په وجه پیدا کړی ربَ سیندونه
هر حجر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے

بره نمر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
ستوري بره ستا په وجه رڼا شوی
ونی بوټی ستا په وجه پیدا شوی
هر شجر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
بره نمر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
ورځے شپے دی ستا په وجه پیدا شوی
ورځے بیا تولے په نُور ستا رڼا شوی
هر سحر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
بره نمر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
دَ احمد هم دَ مردان ئې ته باعث
دَ دُنیا دَ پاکستان ئې ته باعث
دا قمر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے
بره نمر ستا په لوئے شان باندې ګواه دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې خوب کښې چا لیدلے وی حضور ﷺ دَ مدینې
قائل دَ مرتبې به وی ضرور دَ مدینې
په خوب کښې دَ نبی ﷺ دیدن کوُل لوئے سعادت دے
قسم دے دَ مکې دیدن کوُل لوئے سعادت دے
اثر دَ محمد ﷺ دے په هر نُور دَ مدینې
قائل دَ مرتبې به وی ضرور دَ مدینې

ديدن لوئے سعادت دے دَنبی خير الانامﷺ
ديدن لوئے سعادت دے دا لری ډير لوئے مقام
سکون دَ هريوقلب دے پاك حضورﷺ دَ مديني
قائل دَ مرتبې به وی ضرور دَ مديني
طالب ته ملاويږی په طلب دغه نعمت
طالب ته ملاويږی په دُنيا دا سعادت
مقام ته نۀ رسيږی کوهِ طور دَ مديني
قائل دَ مرتبې به وی ضرور دَ مديني
احمدعلی ! طالب دے غواړی ربّ نه دا نعمت
دُنيا کښې ربّ نه غواړی دَ دُنيا دا سعادت
ناصر ورته ياديږی هم منصور دَ مديني
قائل دَ مرتبې به وی ضرور دَ مديني

نعتِ مصطفیٰﷺ

دَ دې دُنيا په هرمحفل کښې په حضورﷺياديږی
هغه محبوب دَ پاك اللّٰه دے چې په نور ياديږی
عالی نومونه دَ طٰه دی دَ دُنيا دَ در
عالی نومونه دَ رنړا دی دَ دُنيا دَ در
په ميدان بدر کښې دَ ربّ نه په منصور ياديږی
هغه محبوب دَ پاك اللّٰه دے چې په نور ياديږی
عالی يو نوم دے دَ نومونو نه خير الورىٰ دے

عـالـی یـو نـوم ئـې دَ نـومونو نه بدالدجیٰ دے
دَ ربَ دَ در نـه پـه هـر ځائـے کښې پـه منظور یادیږی
هـغـه مـحبـوب دَ پاك اللّٰه دے چې په نور یادیږی
عـالـی یـو نـوم ئې په نـومونو کښې یٰسین دے هم
عـالـی یونوم ئې په نومونو کښې امین دے هم
غمخوار دُنیا کښې هر طرف ته دَ مزدور یادیږی
هـغـه مـحبـوب دَ پاك اللّٰه دے چې په نور یادیږی
عالی یو نوم ئې دَ نومونو نه هم مصطفیٰ دے
عـالـی یو نوم ئې دَ نومونو نه شمس الضحیٰ دے
نـورانـی نور دے پـه هـر نور سره معمور یادیږی
هـغـه مـحبـوب دَ پاك اللّٰه دے چې په نور یادیږی
احـمـده ! نـوم ئې دے احمد په دے جهان دلته کښې
سپورے دُنیا کښې دَ رحمت دے دَ عالیشان دلته کښې
سـپـورے دَ سر پـه کـائـنـات کـښـې دَ مجبور یادیږی
هـغـه مـحبـوب دَ پاك اللّٰه دے چې په نور یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نـۀ رسیـــږی څـوك ستـــا حُسـن لامثـــال تـه
نـۀ افـعــال تـه ستــا رسولـه ! ﷺ نـه اقـوال تـه
نـــۀ دَ حُســـن ستـا مثـال پـــه یـو آسـمان شتـــه
نـــۀ دَ حُســـن ستـا مثـال پـــه ټـول جهـان شتـــه

نــهٔ رسيــړی دا خيــالــونــه ستـا يــو خيـال تــه
نــهٔ افـعــال تــه ستــا رسولــه ! ﷺ نــه اقـوال تــه
هــريــو قــول دے دلــريــاشــريــن حسيـن دے
مــقتـــدا د تـــول جهـــان دا پـــه يـقـيــن دے
نـــهٔ رسيـــړی اعـتـــدال ستـــا اعـتـــدال تـــه
نــهٔ افـعــال تــه ستــا رسولــه ! ﷺ نــه اقـوال تــه
نــهٔ رسيـــړی ستــا مــحـفـل تــه يـو مـحـفـل
لاثـــانـــی دی پـــه دُنيــا كښـي ستـــا كـتــل
نــهٔ رسيـــړی ښـوك ستــا حُسـن تــه جمال تـه
نــهٔ افـعــال تــه ستــا رسولــه ! ﷺ نــه اقـوال تــه
مــضــطــرب زړونـــه ستـــا يـــاد سـره رغيـــږی
لاعــلاجـــه خلق دلتــــه كښــي ښــهٔ كيـــږی
نــظــر دَ اُكــړه دَ حبشــے ښـائستـــهٔ بـلالؓ تــه
نـــهٔ رسيـــړی ښــوك ستـــا حُسـن لامثــال تــه
دَ احــمـدعـلـــی طبيـــب ئـــي لاثـــانـــی ئـــي
مـــعـــالـــج دَ تــولــو زړونــو روحـــانـــی ئـــي
نـــهٔ رسيـــړی دا دُنيـــا ستـــا يــو كـمــال تــه
نــهٔ افـعــال تــه ستــا رسولــه ! ﷺ نــه اقـوال تــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ فـلاح سـامـان دے پـروت پــه شـريعت كښي

دَ ړنا سامان لیدے شي په سنت کښې
هر یو قول دَ محمد ﷺ رڼا رڼا ده
هر یو قول دَ محمد ﷺ دَ دین ښکلا ده
دا ښائست دے دَ رسول الله ﷺ سیرت کښې
دَ ړنا سامان لیدے شے په سنت کښې
هر ادا دَ محمد ﷺ ګڼه یو ګل
دا سے وائي په باغونو کښې بُلبل
ستا مقام ته یو څیز نۀ رسي عزت کښې
دَ ړنا سامان لیدے شے په سنت کښې
هر یو کار دَ محمد ﷺ دے بیش قیمته
مرتبه ئې له آسمان نه ده اُوچته
ورته نۀ رسي یو څیز دلته قیمت کښې
دَ ړنا سامان لیدے شے په سنت کښې
اے احمدعلی ! دا لوئے مقام دَ چا دے
دا مقام دَ محمد رسول الله ﷺ دے
چې ملګرے دَمحشر دے مصیبت کښې
دَ ړنا سامان لیدے شے په سنت کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر ځائے دے ښائسته اے پاک رسوله ! ﷺ ستا جمال سره
یاد ئې په دُنیا کښې دلربا شرین مقال سره

هر ځائے دے ښائسته دَ کائنات ستا په اقوال نبی ﷺ
هر ځائے دے ښائسته دَ کائنات ستا په احوال نبی ﷺ
هر ځائے کښې ښکلا ده ستا دَ مخ دَ پاسه شال سره
یادئې په دُنیا کښې دلربا شرین مقال سره
زلفے دے والیل اذا یغشیٰ سره یادیږی هم
ذکر دَ دې زلفو دَ نیکانو سره کیږی هم
قدر ستا دَ زلفو دے دُنیا کښې دَ بلال سره
یادئې په دُنیا کښې دلربا شرین مقال سره
ستا عینین ښائسته دی بهترین دی په جهان دغه
نۀ لری ثانی دلته کښې نۀ په هر آسمان دغه
یادئې په دُنیا کښې ځائے په ځائے په دے کمال سره
یادئې په دُنیا کښې دلربا شرین مقال سره
ستا مدفن جنت دے یو ټکړه ده جنت دغه
وائی احمد وائی دلته کښې دا حقیقت دغه
هر چا واضح کړے ستا مقام دے په مثال سره
یادئې په دُنیا کښې دلربا شرین مقال سره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کۀ دَ حُسن شی راجمع ګلان ټول
ښۀ ښائسته حسین شی جمع کسان ټول
هریو ګل دَ ګلستان نه راجدا شی

دَ یـاقـوت سـره شـی جـمـع مـرجـان تـول
رنـاګـانـې رایـو ځـائـے دَهـر سـحـر شـی
سـتـوری دارنګ شـی تـول جـمـع روښان تـول
دَ سپـوږمـې او نـمـر رنـا هـم رایو ځائـے شـی
دَ ښـائـسـت شـی دارنګ جـمـع بیـان تـول
دَ دوی حُسـن دَ رسـول الـلّـه ﷺ نـه کـم دے
ورتـه نـهٔ رسـی دا جـمـع جـهـان تـول
اے احـمـدعـلـی ! هـم دا ورسـره یـو کـړه
ورتـه نـهٔ رسـی دا بـره آسـمـان تـول

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه سـنـت بـانـدې عـمـل کـړی بـخـتـور
شـریـعـت بـانـدی عـمـل کـړی بـخـتـور
هـر بـدبـخـت سـړے بـه لـرے وی سنت نه
لـرے لـرے بـه وی دے دَ شـریـعـت نـه
نـصـیـحـت بـانـدی عـمـل کـړی بـخـتـور
پـه سـنـت بـانـدې عـمـل کـړی بـخـتـور
دَسـنـتـو قـدردان تـول بـخـتـور دی
پـه سـنـت پسـے روان تـول بـخـتـور دی
هـدایـت بـانـدې عـمـل کـړی بـخـتـور
پـه سـنـت بـانـدې عـمـل کـړی بـخـتـور

بـخـتـور دي چـې دَ ديـن پــه لار روان دي
بـخـتـور دي چې دَ دين څوك عـاشقـان دي
پـه حـکـمـت بـانـدې عـمـل کړي بـخـتـور
پــه سـنـت بـانـدې عـمـل کـړي بـخـتـور
اے احـمـدعـلـی ! نيـکـان تـول بـخـتـور دي
تـابـعـدار دَ حـق بيـان تـول بـخـتـور دي
ښـۀ عـادت بـانـدې عـمـل کـړي بـخـتـور
پــه سـنـت بـانـدې عـمـل کـړي بـخـتـور

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشــه راشــه شـريـعـت شتــه
رنـاګـانـې دَ سـنـت شتــه
دَ دُنيـا تيـرو کښـې دلتــه
دَ دُنيـا خـولـو کښـې دلتــه
ديـن دَ پـاك ربَ الـعـزت شتــه
راشــه راشــه شـريـعـت شتــه
ښــۀ کـارونــه دَ دُنيـا کــړه
ښـۀ کـارونـه پـه هـر خـوا کـړه
ښـۀ انـجـام ئـې هـر سـاعـت شتـه
راشــه راشــه شـريـعـت شتــه
بـد کـارونـه پـريـږده پـريـږده

دریـــارونـــه پـــریـــږده پـــریـــږده
دیـــن دُنیـــا کښـــې غـــټ دولـــت شتـــه
راشـــــه راشـــــه شـــریـــعـــت شتـــــه
پـــریـــږده پـــریـــږه خـــطـــاګـــانـــې
ربَ نـــــه غـــواړه دُعـــاګـــانـــې
غـــواړه نـــور دَهـــدایـــت شتـــــه
راشـــــه راشـــــه شـــریـــعـــت شتـــــه
دَ شیـــطـــان نـــه تـــوبـــه ګـــار شـــه
اے احـــمـــده ! پـــه حـــق لار شـــه
لاره دا دَ صـــــداقـــــت شتـــــه
راشـــــه راشـــــه شـــریـــعـــت شتـــــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـوره مـې کـړه مـولـیٰ ددې دُنیـا دغـه ارمـان
دیـدن درنـه زهٔ غـواړم دَ نبـی ﷺ اخـرزمـان
دیـدن درنـه زهٔ غـواړم دَ طـه او دَ یٰسیـن
دیـدن درنـه زهٔ غـواړم دَ صـادق او دَ امیـن
پوره مې دا ارمـان کـړې دَ دُنیـا پـه دے مکان
دیـدن درنـه زهٔ غـواړم دَ نبـی ﷺ اخـرزمـان
دیـدن درنـه زهٔ غـواړم دَ خـاتـم الانبیـاء
ارمـان لـرم پـه زړه بـاندې دُنیـا کښې دا مولیٰ

مـولـىٰ تاتـه ګـران نـۀ دي هـرڅـۀ تاته دي اسان
ديـدن درنـــه زۀ غـــواړم دَ نبـــي ﷺ اخـــرزمـــان
ديـــدن درنـــــه زۀ غـــواړم دَ نبيـــانـــو دَ ســـردار
ديـــدن درنـــــه زۀ غـــواړمـــــه دَ سيّـــدالابـــرار
نـصيب كـړه اے مـولـىٰ زما ديدن ددې سلطان
ديـدن درنـــه زۀ غـــواړم دَ نبـــي ﷺ اخـــرزمـــان
ديـدن درنـــه زۀ غـــواړم دَشـفيـع الـمـذنبيـن
ديـدن درنـــه زۀ غـــواړم دَ امـــام الـمـرسليـن
قسـم دے ډيرياديږي مې محبوب دَ كل جهان
ديـدن درنـــه زۀ غـــواړم دَ نبـــي ﷺ اخـــرزمـــان
ديـدن درنـه زۀ غـواړمـه احـمـد دَ مـحـمـد ﷺ
رښـا درنـــه زۀ غـــواړمـــه دُنيـــا كښـې دَ لـحـد
پـوره مـې كـړه مـولـىٰ ددې دُنيـا دغـه بيـان
ديـدن درنـــه زۀ غـــواړم دَ نبـــي ﷺ اخـــرزمـــان

انعتِ مصطفىٰ ﷺ

حسيـن دے هـر ادا ده پاك رسوله ! ﷺ دَ جهان
پـه تـا دے نـازل كـړے ربّ مولـىٰ دغـه قـران
پـه تـا دے نـازل كـړے ربّ مولـىٰ دغـه كلام
لائـق دے پـــه دُنيـــا كښـې دَ ادب او احتـــرام
عـــالـىٰ پـه هـر صـفـت دے دَ دُنيـا لكـه اسمـان

حسین دے هر ادا ده پاك رسوله ! ﷺ دَ جهان
په تا دے نازل کړے ربّ ښائسته حسین کتاب
هادي دَ کل جهان دے دا په مثل دَ آفتاب
په حق باطل کښې فرق کوی څکه دے فرقان
حسین دے هر ادا ده پاك رسوله ! ﷺ دَ جهان
په تا دے نازل کړے ربّ کتاب دے بهترین
قسم دے داسے نشته په دُنیا کښې په یقین
په تا دے نازل کړے مولیٰ نور دَپاس آسمان
حسین دے هر ادا ده پاك رسوله ! ﷺ دَ جهان
په تا دے نازل کړے ربّ هادي دَ هدایت
کافی دے تا دَ پاره اے احمده ! هر ساعت
کامل دے په دُنیا کښې دَ اللّٰه دغه فرمان
حسین دے هر ادا ده پاك رسوله ! ﷺ دَ جهان

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دیدن دَ مدینې درنه زۀ غوارم په جهان
مولیٰ ددې جهان په زړۀ مې دے ارمان
دیدن درنه زۀ غوارمه دَ پاك رسول ﷺ دَ در
دیدن درنه زۀ غوارمه دَ سیّد البشر ﷺ
دیدن درنه زۀ غوارمه ددغې گلستان
مولیٰ ددې جهان په زړۀ مې دے ارمان

ديـدن درنـــه زۀ غـوارمـــه دَ پـاك خيـر الانـام
ديـدن درنـــه زۀ غـوارمـــه د دغـيې در تـمـام
مـولـىٰ درنـه زۀ غـوارمـه دَ حُسـن دا سـامـان
مـولـىٰ ددې جهـان پـه زړۀ مـې دے ارمـان
ديـدن درنـــه زۀ غـــوارم دَ ګـلـونـو ددې در
ديـدن درنـــه زۀ غـوارمـه روښـانـه دَ قـمـر
ديـدن درنـــه زۀ غـوارمـــه احـمـد زۀ دَ مـردان
مـولـىٰ ددې جهـان پـه زړۀ مـې دے ارمـان

۷ رمضان المبارك بمطابق
13جون 2016

تـمـت بـحـمـد اللّٰه تعالىٰ وبتـوفيقه ربنا تقبل منا انك انت السـمـيـع الـعـليـم وتـب عـلـيـنـا انك انت التوّاب الـرحيـم وصلى اللّٰه تعالىٰ علىٰ خير خلقه محمد واٰله واصـحـــابــه وازواجـــه واهـل بيتـــه اجـمـعيـن ومـــن تبـعـهـم بـــاحـســـان الـــى يـوم الـديـن .

(دویمه برخه)

بسم الله الرحمٰن الرحیم
حمد باری تعالیٰ

اے مالك دَ دوجهانه ! ستا تابع دے جهان ټول
ستانه غواړي په دُنیا کښې دَ دُنیا دا کسان ټول
تهٔ مشکل کشا زمانه ئې تهٔ مشکل کشا دَ دوی
داسے وائی په دُنیا کښې دَ دُنیا عالمان ټول
تهٔ موجود په هر مقام ئې تهٔ ناظرِ دَ ټول جهان ئې
خلاصه دا ده خلاصه دا ده دا خلاصه ده بیان ټول
تهٔ سکون دَ هر بشر ئې تهٔ سکون دَ هریو در
دا سے وائی په دُنیا کښې دَ دُنیا دا ولیان ټول
تهٔ خالق دَ هر اسمان ئې تهٔ خالق دَ ټول جهان
پیدا کړے تا هر څیز دے هر یو ګل ګلستان ټول
تهٔ رازق دَ هر انسان ئې تهٔ رازق ئې دَ حیوان
داسے وائی په دُنیا کښې دَ دُنیا دا مُلیان ټول
تهٔ مالك ئې دَ احمد دَ دُنیا دَ نیك او بد
په توفیق مې ستا لیکلے اے مولیٰ دا بیان ټول

دُعا

اے دَ ښـائسـتـــهٔ ښـائسـتـــهٔ ګلـونـو ربَّــه !
اے دَ مــضبـوطـو اسـمــانـونـو ربَّـــه !
درنـــه ښـائسـتـــهٔ ښـکـلـے ژونـدون غـواړمــه
دَ میـنـے ډك لـکــه مـجـنـون غـواړمــه
د کُـــل جهـــان دَبهـــارونـــو ربَّــــه !
اے دَ ښـائسـتـــهٔ ښـائسـتـــهٔ ګلـونـو ربَّــه !
ژونـدون ښـائسـتـــهٔ لـکــه دَګـل غـواړمــه
دَ کــامیــابــی درنـــه مـنـزل غـواړمــه
اے پـــه دُنیـــا کښـــي دَ بـاغـونـو ربَّــه !
اے دَ ښـائسـتـــهٔ ښـائسـتـــهٔ ګلـونـو ربَّــه !
درنـــه عـــزت زهٔ هـــر سـاعـت غـواړمــه
امــان هـــر ځـائے کښـي دَ ذلـت غـواړمــه
اے دَ دُنیـــا دَ قســمتـــونـــو ربَّـــه !
اے دَ ښـائسـتـــهٔ ښـائسـتـــهٔ ګلـونـو ربَّــه !
دَ عـــلـــم نـــور رښـــا دولـــت غـــواړمــه
درنـــه هـمـت غـواړم طـاقـت غـواړمــه
اے دَ دُنیـــا دَټـولـــو غـــرونـو ربَّـــه !
اے دَ ښـائسـتـــهٔ ښـائسـتـــهٔ ګلـونـو ربَّــه !
درنـــه دُنیـــا کښـي زهٔ صـحـت غـواړمــه

وجود کښې مینه محبت غواړمه
اے دَ دُنیا دَ نعمتونو رڼه !
اے دَ ښائسته ښائسته ګلونو رڼه !
درنه ایمان په هر مکان غواړمه
رڼا زۀ ستا نه دَ قرآن غواړمه
اے دَ آخر دَ ثوابونو رڼه !
اے دَ ښائسته ښائسته ګلونو رڼه !
درنه سنت دَ محمد ﷺ غواړمه
رڼا زۀ ستا نه دَ لحد غواړمه
اے دَ آخر دَ جنتونو رڼه !
اے دَ ښائسته ښائسته ګلونو رڼه !

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے دے قرآن زمونږه ښکلے پیغمبر ﷺ دے
داسے به بل نۀ وی لکه څنګ چې دا افسر دے
ښکلے دے قرآن په هر صفت ددې جهان سره
ښکلے مصطفیٰ ﷺ دے هر سنت ددې جهان سره
دا زمونږ نبی ﷺ دَ دلبرانو دا دلبر دے
داسے به بل نۀ وی لکه څنګ چې دا افسر دے
ښکلے دے قرآن دغه بُنیاد دَ شریعت دے تول
ښکلے مصطفیٰ ﷺ دے تل بُنیادَ هدایت دے تول

نُـور رنـا دُنيـا کښـي پـه لقـب خيـر البشـر دے
داسے بـه بـل نـۀ وي لـکـه څنګ چي دا افسر دے
شاه دے دَ هر شاه په سر دُنيا کښي دا نبي ﷺ زمونږ
ډيـر عـالـي نسـب دے دا مـکـي او مـدني زمـونږ
ياد په ټول جهان کښـي په محبوب دَ ربّ اکبر دے
داسے بـه بـل نـۀ وي لـکـه څنګ چي دا افسر دے
ښـکـلـے دے قـراٰن پـکښي ثواب دَ اٰخرت شتـه دے
اے احـمـدعلي ! ستا دَ نبي ﷺ سره نسبت شته دے
هريو په دے دوارو کښي هر ځائے کښي ستا رهبر دے
داسے بـه بـل نـۀ وي لـکـه څنګ چي دا افسر دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ياد په کور کو څه کښي په لقب ئي تۀ صادق امين
اے امـام الـمـرسليـن ، زار دے دَ نـامـي نـه شم
يـاد ئـي پـه قـراٰن کښـي مـزمـل او مـدثـر سره
يـاد ئـي ټول جهـان کښـي مـزمل او مدثـر سره
ياد ئي د دُنيا په حسينانو کښي ډير زيات حسين
اے امـام الـمـرسليـن ، زار دے دَ نـامـي نـه شم
ياد ئي پـه قـراٰن کښي پـه يٰسين او په طٰهٰ سره
يـاد ئي پـه دُنيـا کښـي دَ دُنيـا پـه مقتدا سره
اے دَ دوجهـــان دَ پـــاره اوّليـــن و اٰخـــريـــن

اے امـام الـمرسلیـن ، زار دے دَ نامـي نـه شم

یــاد ئـي نـور رنــا سره پــه سیَـد الـوریٰ سره

هم په مصطفیٰ ﷺ سره او هم بدرالدجیٰ سره

نشته نشتـه ستانه په دُنیا کښې بل څوك بهترین

اے امـام الـمرسلیـن ، زار دے دَ نامـي نـه شم

یاد پـه هـاشمـی ئي عربی ئي په دُنیا کښې تهٔ

یاد ئي دَ احـمدعـلی هم دلتـه په وینا کښې تهٔ

سـاقـی کـوثـرئـي هـم شـفیع ئي تـهٔ دَ مذنبین

اے امـام الـمرسلیـن ، زار دے دَ نامـي نـه شم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قـریــان درنــه قـریــان شـهٔ دَ جهـان دغـه ګلونـه

رسـولـه ! ﷺ شـهٔ قربان دَ هر اسمان درنه ګلونه

هــرګــل درنــه قــریــان شــهٔ دَ دُنیــا دَهـریــو در

هرګل درنـه قـریـان شـهٔ پــه هرخوا دَهریو در

قـریان درنـه قـریان شـهٔ پـه هر اَن دغـه ګلونـه

رسـولـه ! ﷺ شـهٔ قربان دَ هر اسمان درنه ګلونه

هــرګــل درنــه قــریــان شــهٔ دَ دُنیــا دَ ګـلستـان

هر ګـل درنـه قـریــان شـهٔ پـه کښې عـالیشـان

قـریـان درنـه قـریان شــهٔ عالیشان دغـه ګلونـه

رسـولـه ! ﷺ شـهٔ قربان دَ هر اسمان درنه ګلونه

هر ګل دَ هر جنت درنه قربان شۀ برابر
هر ګل عالی نسبت درنه قربان شۀ برابر
قربان درنه قربان شۀ دَ ښۀ شان دغه ګلونه
رسوله ! ﷺ شۀ قربان دَ هر اسمان درنه ګلونه
قربان درنه هر ګل دَ باغيچې شۀ دَ هر در
دُنيا چې په هغه سره وی دلته معطر
قربان درنه قربان شه دَ ريحان دغه ګلونه
رسوله ! ﷺ شۀ قربان دَ هر اسمان درنه ګلونه
قربان درنه احمد شۀ دَ دُنيا په هر يو در
قربان درنه قربان شۀ په هر خوا په هر يو در
قربان درنه قربان شۀ قدردان دغه ګلونه
رسوله ! ﷺ شۀ قربان دَ هر اسمان درنه ګلونه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر کله چې پيغمبر ﷺ دُنيا ته راغے
لکه نمر چې دَ سحر دُنيا ته راغے
د دُنيا نقشه بدله دا ساعت شوه
تياره هر ځائے نه دَ کفر نن رخصت شوه
هر کله چې رڼا نمر دُنيا ته راغے
لکه نمر چې دَ سحر دُنيا ته راغے
بيابان ددې جهان شولو اباد

پـــه دُنیــا کښــې هــر مــکــان شولو اباد
هــر کـلـه چـې پــاس قـمـر دُنیـا تـه راغـے
لــکـــه نـمـر چـې دَ سـحـر دُنیـا تــه راغـے
هـر طـرف تـه دا دُنیـا ښائسـتـهٔ ښائسـتـهٔ شوه
بهتـــريـنـــه دا دُنيـــا پـــه هـر حصـه شوه
د نبيـــانــو چــې افســر دُنيـــا تـــه راغـے
لــکـــه نـمـر چـې دَ سـحـر دُنیـا تــه راغـے
خـوشـحـالـی پـه هـر طرف شوې په دُنيا کښې
خـوشـحـالـی شوې په دُنيا کښې په هرخوا کښې
ګـل دُنيـا کښـې مـعـطـر دُنيـا تـه راغـے
لــکـــه نـمـر چـې دَ سـحـر دُنیـا تــه راغـے
دَ تــوحيـد چـمـن آبـاد شـو دا ســاعــت
بـوتـې اُوچ شـولـو دَ شـرك او دَ بـدعـت
چې مـحبوب دَ ربّ اکبـر دُنيـا تـه راغـے
لــکـــه نـمـر چـې دَ سـحـر دُنیـا تــه راغـے
لـونـه تـولـې عزت مندے دَ انسان شوے
قـدرداني دا دُنيــا کـښـې پـه جهـان شوے
چې دَ هـريـو درافســر دُنيـا تـه راغـے
لــکـــه نـمـر چـې دَ سـحـر دُنیـا تــه راغـے

دَ حسـد اُورونــه مـړه شـول دَجهــان
اے احمـده ! جـوړ دَ میـنـے شـو سـامـان
پـه بهتـرو کـېنـېِ بهتـر دُنیـا تـه راغـے
لـکـه نمـر چـېِ دَ سحـر دُنیـا تـه راغـے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ والـضُّـحـیٰ پـه لقـب یاد پـه هـر مـکان دے
دا څـوك دے یاره ! زمـونږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
په والـضُّـحـیٰ سره یاد شوے په قراٰن کښې چې دے
هـم پـه طٰـه سره یاد شوے په قراٰن کښې چې دے
عـالـی دُنیـا کښې پـه دُنیا کښې عـالیشان دے
دا څـوك دے یاره ! زمـونږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
تـذکـره شـوے ئې یٰسیـن سره قراٰن کښې چې ده
هـم پـه صـادق اوپـه امین سره جهان کښې چې ده
عــالــی هــمتــه دَ دُنیـا دغـــه انســان دے
دا څـوك دے یاره ! زمـونږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
څـائـے پـه څـائـے یاد دے دَ نبیانو په امام سره هم
څـائـے پـه څـائـے یاد دے په لقب ماهِ تمام سره هم
دغـه حسیـن دَ سـلطـانـانـو یـو سلطـان دے
دا څـوك دے یاره ! زمـونږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
څـائـے پـه څـائـے یاد دے په خاتم الانبیاء سره هم

ځائے په ځائے یاد دے اے احمده نُور رڼا سره هم
حُسن دُنیا کښې دَ دُنیا دَ ګلستان دے
دا څوك دے یاره ! زمونږ نبي اٰخرزمان ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کا ش مسکن مې مدینه دَ مصطفیٰ ﷺ وې
دَ طه ﷺ په نور سره رڼا رڼا وې
تل مسکن دَ مدینې دَ ربّ نه غواړم
تل وطن دَ مدینې دَ ربّ نه غواړم
کاش قبوله دلته کښې مې دا دُعا وې
دَ طهٰ ﷺ په نور سره رڼا رڼا وې
تل زۀ اُوسمه کوڅو کښې په دے در
هر ساعت دَ مینې وی په ما نظر
پوره شوے کاش مې دغه تمنا وې
دَ طه ﷺ په نور سره رڼا رڼا وې
په باغونو کښې اُوسیږمه زۀ هلته
هلته هلته پاتے کیږمه زۀ هلته
هر ساعت زما دَ یاره جوړ صبا وې
دَ طه ﷺ په نور سره رڼا رڼا وې
ما احمد ته وُے ګلزارئي مخامخ
راته هلته وے دربارئي مخامخ

تـــمـــنـــا دَ زړه پـــوره مـــې دَ دُنـيـــا وي
دَ طـــه ﷺ پـــه نـــور ســـره رڼـــا رڼـــا وي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کـاش سـاکـن پـه مدينـه کـښـې دَ طـه ﷺ وي
مـخـامـخ راتـه روضـه دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ وي
هـرسـاعــت مـې وے نـظـر پـه دغـې در
پـه مـکـان کـښـې اُوسيـدے دَ پيـغـمبر ﷺ
ټـول صـورت مـې ورســره رڼـا رڼـا وے
مـخـامـخ راتـه روضـه دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ وي
مـخـــامـخ راتـــه دربـــار دَ مـحـمـد ﷺ وي
مـخـامـخ راتـــه ګـلـــزار دَ مـحـمـد ﷺ وي
دغــــه در کـښــې اُوسيــدلــے پـــه دُنيـــا وي
مـخـامـخ راتـه روضـه دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ وي
مـخـامـخ راتـــه هـر يـاد دَ محـمـد ﷺ وي
مـــخــــامـــخ راتــــه اولاد دَ مـــحـــمـــد ﷺ وي
لاثــــانــــی ددغـــې در حُـســن پـــه مـــا وي
مـخـامـخ راتـه روضـه دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ وي
مــخـــامــخ راتــــه ګـلـونـــه دَ دې در وي
مــخـــامــخ راتـــه پـنـدونـــه دَ دې در وي
اَ وريــدلــے دلتـــه مـــا دغــــه ويـنـــا وي

مـخـامخ راتـه روضـه دَ مـصـطـفـىٰ ﷺ وي
مــخـــامـــخ راتـــه لـعـلـونـــه ددې در وي
اے احـمـده ! دَ رسـول ﷺ پـــه تـا نـظـر وي
نــقـل كـــړے دَ رســول ﷺ مـــې هـــر ادا وي
مـخـامخ راتـه روضـه دَ مـصـطـفـىٰ ﷺ وي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ديدن لـه پاك رسـوله ! ﷺ ستا وطن له به درځمه
ديدن لـه مديـنې تـه ستـا چـمـن له به درځمه
ديدن لـه بـه درځـمـه اے صـادقـه پـه ويـنـا
ديـدن لـــه بـــه درځـمـــه اے خـاتـم الانبيـاء
ديدن لـه مدينې تـه ستـالمن لـه بـه درځمه
ديدن لـه مديـنې تـه ستـا چـمـن له به درځمه
ديدن لـه بـه درځمـه اے محبوب دَ ربَ اكبره
ديدن لـه بـه درځـمـه بهتـرينو كبنې بهتـره
انوار لـه مـدينې تـه ستـا مـدفـن له به درځمه
ديدن لـه مديـنې تـه ستـا چـمـن له به درځمه
ديدن لـه بـه درځـمـه مـحمد خير البشره ﷺ
ديـدن لـــه بـه درځـمـه اے زمـا دَ زړګـى سـره
سـكـون لـه مـديـنـې تـه دَامن لـه بـه درځـمـه
ديدن لـه مديـنې تـه ستـا چـمـن له به درځمه

دیدن له به درځمه زۀ اولاد له دَحُسین
مدفن له به درځمه زه اولاد له دَ حُسین
اولاد له مدینې ته دَ حَسَن له به درځمه
دیدن له مدینې ته ستا چمن له به درځمه
دیدن له به درځمه اے رښا دَ هر سحر
دیدن له به درځمه احمد وائی مختصر
دیدن له ستا دَحُسن رڼا تن له به درځمه
دیدن له مدینې ته ستا چمن له به درځمه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کور مکان مې مدینه کښې دَ طٰهٰ وي
هر نظر مې په روضې دَ مصطفیٰ ﷺ وي
اُوسیدلے مدینه کښې دَ رسول ﷺ
په دُنیا کښې بس وي دا زما معمول
دَ درود سره سلام زما وینا وي
هر نظر مې په روضې دَ مصطفیٰ ﷺ وي
اُوسیدلے مدینه کښې په ادب
دا مې هلته کښې غوښتلے دَ خپل ربَ
احترام دَ دغې در مې مدّعا وي
هر نظر مې په روضې دَ مصطفیٰ ﷺ وي
اُوسیدلے مدینه کښې په سکون

مینــــه زړۀ کښــې مــې پــرتــه وے دَ جُـنـون
هــر نـــظــر مــې ددې درپـــه هــر صبــا وې
هر نظر مې پـه روضې دَ مـصـطفیٰ ﷺ وې
اُوسیــدلــے مــدینــه کښــې پـــه ښـــۀ شــان
اے احــمـــده ! مــخـتـصـر دے ستــا بیـــان
بـــس طـــالـــب دَ دغــې در دَهــر ضیـــاء وې
هر نظر مې پـه روضې دَ مـصـطفیٰ ﷺ وې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هــر انســـان بــه کــوږ روان وو کــۀ تــۀ نــۀ وې
تــول جهـــان بــه کــوږ روان وو کــۀ تــۀ نــۀ وې
هـــر طـــرف تــــه بــه تیــرے دَ ضــلالــت وې
مســلــمــان بـــه کــوږ روان وو کــۀ تــۀ نــۀ وې
جهــالــت بـــه پـــه خپــل زور اوپــه طاقـت وې
دا جـانـــان بـــه کــوږ روان وو کــۀ تــۀ نــۀ وې
پـــټ مـــخــلــوق بـــه تــول کــاږه وے دَ جهــان
دا عیـــان بـــه کـــوږ روان وو کـــۀ تــۀ نــۀ وې
دا دانـــا بـــه وے مـحـــروم دَ نیـغــے لار نـــه
هــر نــادان بــه کــوږ روان وو کــۀ تــۀ نــۀ وې
نـــۀ بـــابـــا بـــه نیـغــے لار بــانـدې وو تـلـے
دغـــه ځـــوان بــه کــوږ روان وو کــۀ تــۀ نــۀ وې

په غمونو کښې به ډوب وے دا انسان
سرګردان به کوړ روان وو که ته نه وې
دے انسان سره به پنډ وے د غمونو
په خفګان به کوړ روان وو که ته نه وې
اے احمدعلی ! هر کس به لوئي عاصي وو
جوړ شیطان به کوړ روان وو که ته نه وې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

که هر څيز ماله راکړے ربّ مولیٰ وي
قربان کړے به رسوله ! ﷺ ستانه ماوي
که راکړے ئې ګلونه دَجهان وي
ما شينلدلی دا ګلونه به په تا وي
که راکړي ئې ملکونه دَ جهان وي
په هرځائے کښې به هر ملك ستانه فدا وي
که راکړي ئې وي ستوري دَ اَسمان
ما تحفه کښې به درکړي تاله دا وي
که راکړے ئې وے بره اَسمانونه
قربان کړي به ماستوري ستانه دا وي
دا ارمان لرم په زړه مې تمنا ده
اے احمد علی ! خادم ئې په هرخوا وي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك روان چې په سنت شولو سعيد شو
دَ بدعت نه په دُنيا کښې ډير بعيد شو
هغه شرك نه په دُنيا کښې شو ډير لرے
هر کلمه چې دې په لاره دَ توحيد شو
دَ ظلمت په لاره کله چې روان شو
بيا دُنيا کښې مستحق دَ هر وعيد شو
اے احمده ! خبردار دَ هرې لار شئ
هر بشر په دې شاهد دے که شهيد شو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ثانی دې نشته دَ دُنيا په بحر وبر عربی
نشته دې نشته دے ثانی ستا په يو در عربی
ثانی دې نشته په مخلوق کښې نه په زمکه اسمان
ثانی دې نشته په مخلوق کښې په مکان لامکان
نشته دې نشته ستا پشان بل پيغمبر عربی
ثانی دې نشته دَ دُنيا په بحر وبر عربی
په لقب ياد ئې دَ دُنيا خير الوریٰ دَ جهان
په لقب ياد ئې په هرخوا په مصطفیٰ دَ جهان
په لقب ياد ئې دَ دُنيا خير البشر عربی
ثانی دې نشته دَ دُنيا په بحر وبر عربی

هم دَ معراج ښکلے دولت درله درکړے دے رب
هم دَ معراج ښکلے عزت درله درکړے دے ربّ
نوراني نور ئې په دُنيا کښې منوّر عربی
ثاني دې نشته دَ دُنيا په بحر وبر عربی
تهٔ اوّلين ئې په لقب باندې اے ماهِ تمام
تهٔ اٰخرين ئې په لقب باندې اے ماهِ تمام
داسے به نهٔ وی په دُنيا کښې څوك بهتر عربی
ثاني دې نشته دَ دُنيا په بحر وبر عربی
دَ مذنبينو به شافع ئې دَ محشر په ميدان
پوره شو دې سره هم دلته دَ احمد دا بيان
ما دې ليکلے ستا مقام ډير مختصر عربی
ثاني دې نشته دَ دُنيا په بحر وبر عربی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سيدالوری ﷺ زمونږه خاتم الرسل فقط
نورشمس الضحیٰ زمونږه خاتم الرسل فقط
نشته نشته بل نبی پس له محمده ﷺ څوك
اٰخری طٰهٰ زمونږه خاتم الرسل فقط
نشته نشته بل رسول پس له محمده ﷺ څوك
رهبر رهنما زمونږه خاتم الرسل فقط

نشته نشته نور رښا پس له محمده ﷺ بیا
تل دے مقتدا زمونږه خاتم الرسل فقط
اے احمده ! ستا رهبر ستا رهبر دَ ټولو دے
تل ده مُدّعا زمونږه خاتم الرسل فقط

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لاثانی دے خیر البشر ﷺ مدنی
داسے بهتر دے پیغمبر ﷺ مدنی
خیر البشر دے محمد ﷺ عربی
نور دَ دُنیا دے دَ لحد عربی
داسے رښا دے داسے نمر مدنی
لاثانی دے خیر البشر ﷺ مدنی
دَهریو تاج حُسن بنګلا نبی دے
بنګلا دُنیا کښې دَهر چا نبی دے
دَ حسینانو دے دلبر مدنی
لاثانی دے خیر البشر ﷺ مدنی
دَ امامانو هم امام هغه دے
دَ شپې هغه ماهِ تمام هغه دے
داسے رښا دے پاس قمر مدنی
لاثانی دے خیر البشر ﷺ مدنی
هم دَ عرب عجم امام هغه دے

محبوب د هرچا خاص وعام هغه دے
داسے دلبر دے دا رهبر مدنی
لاثانی دے خیر البشر ﷺ مدنی
احمد صفت ئې دے لیکلے دلته
په هر محفل کښې ماوئیلے دلته
اعلیٰ اعلیٰ دے په هر در مدنی
لاثانی دے خیر البشر ﷺ مدنی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے په دُنیا کښې دے حسین ماهِ تمام
دغه محمد عربی ﷺ دے زمونږ امام
ښکلے د قمر نه هغه ښکلے بره نمر نه دے
ښکلے د هرګل نه دے او ښکلے هر بشر نه دے
رب چې دے ورکړے پاس د عرش نه لوئے مقام
دغه محمد عربی ﷺ دے زمونږ امام
ښکلے په سیرت دے په دُنیا دغه امام زمونږ
ښکلے هر ساعت دے په دُنیا دغه امام زمونږ
دلته کښې ښائسته ورسره سحر ماښام
دغه محمد عربی ﷺ دے زمونږ امام
هریوې ادا کښې ئې دے نور د هدایت ښکلے
هریوې ادا کښې ئې دے نور د شریعت ښکلے

دا رنګ قيمتي ئي ذ دُنيا دے هر کلام
دغه محمد عربي ﷺ دے زمونږ امام
تاج ذَ نبوت دے پسر کړے ورته ربَ زمونږ
تاج ذَهر عزت دے پسر کړے ورته ربَ زمونږ
مېنې نه ئې ډك دے په دُنيا کښې هر پيغام
دغه محمد عربي ﷺ دے زمونږ امام
تاج ذَهر عزت ئې پسر کړے بنګلے دے
اے احمدعلي ! څکه دا زړۀ پرے تا بيللے دے
دغه شان بُنيادے ذَ هر حکم ذَ اسلام
دغه محمد عربي ﷺ دے زمونږ امام

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حُسن ذَ هريو ګلستان دے نبي ﷺ
حُسن ذَ زمکې ذَ اسمان دے نبي ﷺ
حُسن ذَ ګل دے ذَ دُنيا ذَجهان
ذَ هر محفل دے ذَ دُنيا ذَجهان
حسين ډير زيات په دے جهان دے نبي ﷺ
حُسن ذَ هريو ګلستان دے نبي ﷺ
حُسن ښائست ذَ هر قمر هغه دے
حُسن ښائست ذَبره نمر هغه دے
داسے حسين په هر مکان دے نبي ﷺ

حُسن دَ هريو ګلستان دے نبي ﷺ
حُسن دُنيا کښې دَ لعلونو دے هم
دَ کائنات ښائسته څيزونو دے هم
حُسن په تاج کښې دَ مرجان دے نبي ﷺ
حُسن دَ هريو ګلستان دے نبي ﷺ
حُسن رنها دَ هر سحر هغه دے
حُسن دُنيا کښې دَ هر در هغه دے
ښائست دا رنګ دَ لامکان دے نبي ﷺ
حُسن دَ هريو ګلستان دے نبي ﷺ
حُسن بڼکلا دَ هر چمن هغه دے
احمده! حُسن دَ هر تن هغه دے
دَ هريو حُسن يو سلطان دے نبي ﷺ
حُسن دَ هريو ګلستان دے نبي ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قربان دَ مصطفیٰ ﷺ نه دَ اولاد نه دَ رسول ﷺ
قربان ترينه قربان دغه دُنيا کښې تول عقول
هر څه ترينه قربان زما دَ کور د دغې در
هر څۀ ترينه قربان په هر يو لور ددغې در
قربان ترينه قربان ددې دُنيا دا تول اُصول
قربان ترينه قربان دغه دُنيا کښې تول عقول

هر څـۀ تـريـنـه قـربان ددې دُنيا ددې جهـان
هر څۀ تـريـنـه قـربان هم دَ دې زمکې او اَسمان
قـربان تـريـنـه هم لوح ورسره عرش هم بشمول
قـربان تـريـنـه قـربان دغه دُنيا کښې تول عقول
قـربان تـريـنـه قـربان زما مور پلار دغـه دولت
قـربـان تـريـنه قـربـان زمـا اولاد دا هـر سـاعـت
مولىٰ دغې مقصد کښې دا هرڅۀ کړه تۀ قبول
قـربان تـريـنـه قـربان دغه دُنيا کښې تول عقول
قـربـان تـريـنـه قلـم دغـه بيـان احمده ! ستا
قـربـان تـريـنـه قـربـان دَ ګـلـونـه دَ دُنيـا
قـربان تـريـنـه عـقـول او هـم دا صاحب العقول
قـربان تـريـنـه قـربان دغه دُنيا کښې تول عقول

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

يـاديـرې راتـه خـاتم الـرُّسـل ﷺ دَ مـديـنـې
تسـکـيـن دَ کـائـنـات دے ښائسته ګـل دَ مدينې
يـاديـرې راتـه سيـد الـورىٰ ﷺ ددې جهـان
يـاديـرې راتـه احسن الـورىٰ ﷺ هغـه انسـان
يـاديـرې دَ نبـى ﷺ راتـه مـحـفـل دَ مـديـنـې
تسـکـيـن دَ کـائـنـات دے ښائسته ګـل دَ مدينې
ياديرې مې ډير ډير هغه سردار دَدوجهان ﷺ

يـاديـږى مـې ډير ډير هغه تاجدار دَ دوجهان ﷺ
يــاديـــږي دَ نبــى ﷺ راتـــه منـزل دَ مـديـنـې
تسـكـيـن دَ كـائـنات دے ښائسته ګل دَ مدينې
يــاديــــږي راتـــه طٰـهٰ ويٰسيـن خيـر البشـر ﷺ
يــاديــږي دُ دُنيــا راتــه حسيـن هـغـه قمـر ﷺ
يــاديــــږي مــې رنـا دَ نبـى ﷺ تـل دَ مـديـنـې
تسـكـيـن دَ كـائـنات دے ښائسته ګل دَ مدينې
يــاديــــږي مـې امـــام دَ مُرسـلانـو انبيـاء ﷺ
يــاديــــږي مــې امـــام دَ اوليـــاء او اتـقيـاء ﷺ
يــاديــــږي دَنبــى ﷺ راتـــه تـول خپـل دَ مدينې
تسـكـيـن دَ كـائـنات دے ښائسته ګل دَ مدينې
ياديـږى مـې احـمده ! دَ اُمّت هغه غمخوار ﷺ
ياديـږى مـې ډير ډير هغه محبوب دَ ربّ غفار
يــاديــــږي دَ رسـول اللّٰـــه ﷺ مې تلل دَ مدينې
تسـكـيـن دَ كـائـنات دے ښائسته ګل دَ مدينې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رسـولـه ! ﷺ نشته نشته په دُنيا کښې دے مثال
ثـانــى پــه دُنيـــا نـهٔ لـرے پـه حال او استقبال
ثانـى پـه دُنيـانـهٔ لـرے هـرکـوټ کښې په دُنيا
ثانـى پــه دُنيـا نــهٔ لـرے دُنيا کښې پــه هر خوا

ثانـی دے دلتـه نشتـه پـه دُنیا کښې دَ جمال
ثانـی پـه دُنیـا نۀ لـرے پـه حال او استقبال
ثانـی پـه دُنیـا نـۀ لـرے پـه زمکـه دَجهـان
ثانـی دغـه شـان نۀ لـرے هم بـره پـه آسمـان
ثانـی دے دلتـه نشتـه پـه دُنیـا کښې دَ کمال
ثانـی پـه دُنیـا نۀ لـرے پـه حال او استقبال
ثانـی پـه دُنیـا نـۀ لـرے خوشبو کښې په جهان
ثانـی پـه دُنیـا نـۀ لـرے پـه تـلو کښې په جهان
ثانـی دے دلتـه نشتـه پـه دُنیـا کښې دَ یو حال
ثانـی پـه دُنیـا نـۀ لـرے پـه حال او استقبال
ثانـی دے دلتـه نشتـه دې دُنیا کښې په صفت
احمـدعلـی ! عـظیم ثې دې دُنیا کښې هر نسبت
انوار ددې جهان دی پاك رسوله ! ﷺ ستا اقوال
ثانـی پـه دُنیـا نـۀ لـرے پـه حال او استقبال

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسـم دے مدینـه ده منـوّره پـه حـضـور ﷺ
رنـا ئې هـر حـصـه ده منـوّره پـه حضور ﷺ
قسـم دے مدینـه کښې منوّر شجر وحجر دی
رنـا پـه کـائـنـات کښې دَ دُنیـا پـه بحروبر دی
حسینـه ګـلـدستـه ده منـوّره پـه حضور ﷺ

قسم دے مدینه ده منوّره په حضور ﷺ

قسم دے منوّر دے هریو در ذ مدینې

روښانه په دُنیا دے بره نمر ذ مدینې

حسینه هر شغله ده منوّره په حضور ﷺ

قسم دے مدینه ده منوّره په حضور ﷺ

قسم دے منوّر دی تهول باغونه ددې در

قسم دے منوّر دی محفلونه ددې در

ذ ربّ لویه بدله ده منوّر په حضور ﷺ

قسم دے مدینه ده منوّره په حضور ﷺ

ساکن ذ د مدینې دی منوّر ددغې در

احمدعلی ! په تا هم دے ددغې در اثر

قسم دے ډیره ښهٔ ده منوّره په حضور ﷺ

قسم دے مدینه ده منوّره په حضور ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دلبر ذ دلبرانو دے دلبر ذ مدینې

افسر ذ افسرانو دے افسر ذ مدینې

دلبر ذ دلبرانو دے حضرت رسول اللّٰه ﷺ

دلبر ذ مؤمنانو دے حضرت رسول اللّٰه ﷺ

رهبر ذ رهبرانو دے رهبر ذ مدینې

دلبر ذ دلبرانو دے دلبر ذ مدینې

دلبــــر دَ دلبــــرانــو دے دلبـــر دَ هـــر بشـــر
دلبــــر دَ دلبــــرانــو دے دلبـــر دَ هـــر يـــو در
محبوب په خلائق کښې دے بشر دَ مدينې
د لبــــر دَ دلبــــرانــو دے دلبـــر دَ مـــديـــنـــې
دلبــــر دَ دلبــــرانــو دَ عـــرب او دَ عـــجـــم دے
دلبــــر دَ دلبــــرانــو دَ دُنيـــا دَ ټـول عـــالـم دے
محبوب دے په دُنيـا دَ رَبّ اکبـر دَ مدينې
د لبــــر دَ دلبــــرانــو دے دلبـــر دَ مـــديـــنـــې
دلبــــر دَ دلبــــرانــو دَ احــمــد دَ جهـــان
دلبــــر دَ لبــــرانــو دے دَ زمـــکــې دَ اسـمـــان
حسين په کائنات کښې دے سحر دمدينې
د لبــــر دَ دلبــــرانــو دے دلبـــر دَ مـــديـــنـــې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رنــــاګــــانـــې پـــه دُنيـــا دي ستـــا دَ مـخ
رنــــاګــــانـــې پـــه هــرخــوا دي ستـــا دَ مـخ
ستـــا دَ پـــه مخ پـــه رنـــا هر يـو څيز رنـا دے
رنــــاګــــانـــې ستـــادي ستـــادي ستـــا دَ مـخ
ستـــا دَ مـخ پـــه رنـــا بــره نـمـر روښان دے
دا انـــوار دلتـــــه پـــــه مــــادي ستـــا دَ مـخ
رنـــا ستـــوري ټـول دي ستـــا پـــه رنـــا نـور

رنـــا ګــانـــې دلتــــه دا دی ستـــا دَ مــخ
پـاس قـمـر دے رنـا شـوے ستـا پـه نـور
رنـــا ګـــانـــې دَ صبــا دی ستـــا دَ مــخ
اے احــمــدعــلــی ! رنـا پــه دے رنـایـو
رنـــا ګـــانـے دَ بڼـکــلا دی ستـــا دَ مـخ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے دَ پــاك الــلّــه مـحبـوبــه ﷺ! دَ دُنیـا
مـخـلـوقـاتـوتـه مطلوبــه ! ﷺ دَ دُنیـا
تـهٔ ئـې سـپـورے پـه دُنیا کښې دَ رحـمـت
تـهٔ ئـې سپـورے پـه دُنیا کښې دَ شـفـقـت
عبـدالــلّــه تــه اے مـنسـوبــه ! دَ دُنیـا
اے دَ پــاك الــلّــه مـحبـوبــه ﷺ! دَ دُنیـا
تــهٔ ئــې نـمـر دَ کُـل جهـان دَ هـدایـت
تــهٔ سـحــر ئـې ددې دیـن دَ شـریـعـت
اے صـــابـــر لـــکــــه ایّــوبـــه ! دَ دُنیـــا
اے دَ پــاك الــلّــه مـحبـوبــه ﷺ! دَ دُنیـا
تــهٔ بڼــکــلا ئــې دَ دُنیـــا دَ هــریـو ګـل
تــهٔ بڼــکــلا ئـې دَ دُنیـا دَ هــر مـحـفـل
اے عـــابـــد لـــکـــه یـعـقـوبـــه ! دَ دُنیـا
اے دَ پــاك الــلّــه مـحبـوبــه ﷺ! دَ دُنیـا

تـــهٔ امـــام ئـــې احــمــد وائـــی دَ هـــر در
تـــهٔ امـــام ئـــې دَ نبیـــانـــو ئـــې افســـر
بهتــریــن ئــې تــه مــکـتــوبــه ! دَ دُنیــا
اے دَ پـــاك الـلّـــه مــحبــوبــه ﷺ! دَ دُنیــا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے دَ دوجهـــان حسیـــنــــه ! ﷺ دَ دُنیـــا
بهتـــریـــنـــه نیـــازبیـــنـــه ! ﷺ دَ دُنیـــا
تـــاتـــه حُســـن دَ یـــو ګـــل کـلـــه رسیـــږی
حُســن تـــاتـــه دَ مــحــفــل کـلـــه رسیـــږی
اے پـــه رَبّ بـــانــدې میـئـنـــه ! دَ دُنیـــا
اے دَ دوجهـــان حسیـــنــــه ! ﷺ دَ دُنیـــا
نــهٔ قــمــر درتــه پــه حُســن رسیـدلـے
نــهٔ دا نــمــر درتــه پــه حُســن رسیـدلـے
اے صـــادقـــه! اے امیـــنـــه ! دَ دُنیـــا
اے دَ دوجهـــان حسیـــنــــه ! ﷺ دَ دُنیـــا
هــر چــمــن دے ستـــا دَ حُســن نــه قــربـــان
هــر وطــن دے ستـــا دَ حُســن نــه قــربـــان
اے مـــحبـــوب دَ رَبّ متیـــنـــه ! دَ دُنیـــا
اے دَ دوجهـــان حسیـــنــــه ! ﷺ دَ دُنیـــا
دغـــه ستـــوری تـــاتـــه تـول پـــه تـمـاشـا دی

ستوری تول ددي جهان درنه فدا دي
هر بهترنه بهترينه ! دَ دُنيا
اے دَ دوجهان حسينه ! ﷺ دَ دُنيا
اے احمدعلی ! دا هرڅۀ چي تول دا دي
قدرمنده ستا رسوله! ﷺ په رنا دي
رحمة للعٰلمينه ! ! دَ دُنيا
اے دَ دوجهان حسينه ! ﷺ دَ دُنيا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ديدن مي ستا دَ کورکوخي دلته ارمان دے نبی ﷺ
بي له دي دلته کنبي په ما دا ژوندون ګران دے نبی ﷺ
ديدن ارمان مي ستا دَ کورکوخي د دغي دردے
ديدن ارمان مي ستا دَ نُورروضي د دغي دردے
دلته دا زړۀ مي له دے وجے په خفګان دے نبی ﷺ
ديدن مي ستا دَ کورکوخي دلته ارمان دے نبی ﷺ
دا تمنا مي په دُنيا ددغي در دلته ده
دغه دُعا مي په دُنيا ددغي در دلته ده
ستا تذکري سره روښانه تول جهان دے نبی ﷺ
ديدن مي ستا دَ کورکوخي دلته ارمان دے نبی ﷺ
دغه علاج دے په دُنيا دَ بيمارانو تولو
دغه علاج دے په دُنيا دَ انسانانو تولو

علاج دُنیا کښې هم په زمکه په اسمان دے نبی ﷺ
دیدن مې ستا دَ کورکوخې دلته ارمان دے نبی ﷺ
هم اطمینان دَ هر بشر دے دَ دُنیا دَ در
هم اطمینان دَ هریو در دے دَ دُنیا دَ در
دَ احمد دلته کښې صادق دغه بیان دے نبی ﷺ
دیدن مې ستا دَ کورکوخې دلته ارمان دے نبی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته هر درنه په دُنیا کښې ستا مکان دے نبی ﷺ
ستا دَ ښائست په حُسن جوړ هر ګلستان دے نبی ﷺ
ستا په ښائست سره جوړ شوی دَ دُنیا ګلونه
جوړ شوی جوړ دی ستا ښائست هم دا ګلونه
ستا دَ ښائست نه دلته جوړ هریو بیان دے نبی ﷺ
ښائسته هر درنه په دُنیا کښې ستا مکان دے نبی ﷺ
ستا دَ ښائست نه دی جوړ شوی تول تا جونه دَ سر
ستا دَ ښائست نه دی جوړ دا باغونه دَ در
ستا په ښائست سره ښائسته هریو انسان دے نبی ﷺ
ښائسته هر درنه په دُنیا کښې ستا مکان دے نبی ﷺ
ستا دَ ښائست نه رنا ګاني دَ دُنیا خورے دی
ستا دَ ښائست نه وفاګانې دَ دُنیا خورے دی
ستا په ښائست سره ښائسته ګل دَ ریحان دے نبی ﷺ

ښائسته هر درنه په دُنیا کښې ستا مکان دے نبی ﷺ
ستا دَ ښائست نه جوړے شوے ګلدستې دی ټولې
ستا دَ ښائست نه جوړے شوے دا حصې دی ټولې
جوړ دَ ښائست نه دے دُنیا کښې هر مرجان دے نبی ﷺ
ښائسته هر درنه په دُنیا کښې ستا مکان دے نبی ﷺ
ستا دَ ښائست نه جوړه شوې دَ دُنیا حیا ده
ستا دَ ښائست نه جوړه شوې زما داوینا ده
ستا دَ ښائست تعریف کوُونکے رب رحمٰن دے نبی ﷺ
ښائسته هر درنه په دُنیا کښې ستا مکان دے نبی ﷺ
ستا دَ ښائست نه جوړه شوې مې وینا ښکلے ده
وینا احمده په دُنیا کښې دغه ستا ښکلے ده
څکه ښائسته مې ټول لیکلے دا بیان دے نبی ﷺ
ښائسته هر درنه په دُنیا کښې ستا مکان دے نبی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

له هرڅه هره قیمتی ستا هر بیان دے نبی ﷺ
په مرتبه کښې ډیر اُوچت بره آسمان دے نبی ﷺ
له هرڅه هره قیمتی ده ستا وینا دَ جهان
له هرڅه هره قیمتی ده ستا وینا دَ قرآن
داسے عظیم په کائنات کښې دا قرآن دے نبی ﷺ
له هرڅه هره قیمتی ستا هر بیان دے نبی ﷺ

لـه هـر ګـو هـره قیـمتـی دے ستـا ګفتـارِ دَ حق
لـه هـر ګـو هـره قیـمتـی دے ستـا ګلزارِ دَ حق
تـائیـد کـوُونـکـے دے دَ دوجهان رحمٰن دے نبی ﷺ
لـه هـر ګـو هره قیمتی ستـا هر بیان دے نبی ﷺ
لـه هـر ګـو هـره قیـمتـی لـه هر مرجـانـه دغـه
تپـوس کـولـې شـې دُنیـا کښې تـهٔ دَ چانـه دغـه
دا مـې یقیـن دے د دُنیـا دا مې ایمان دے نبی ﷺ
لـه هـر ګـو هره قیمتی ستـا هر بیان دے نبی ﷺ
لـه هـر ګـو هـره قیـمتـی دغــه وینـا دَ ټـولـو
احـمـده ! وایـه قیـمتـی دلتـه هـم دا دَ ټـولـو
لـه هر ګـو هره قیـمتی ستـا هر اعلان دے نبی ﷺ
لـه هـر ګـو هره قیمتی ستـا هر بیان دے نبی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ملـګـرے په محشر کښې به زما شی محمد ﷺ
دُنیـا کښـې مانـه دلته کۀ رضا شی محمد ﷺ
دُنیـا کښـې کـۀ مې کـړی وی کـارونـه دَ سنت
مـحشـر کښې بیا به هلته مې دوا شی محمد ﷺ
کـارونـه کـۀ مې کړی دَ رسول ﷺ وی دَ رضـا
سـکـون به زما هلته په هرخوا شی محمد ﷺ
مـحبوب به په محشر مې شی محبوب دَ دوجهان

محبوب کۀ زما دلته په رښتيا شی محمد ﷺ
علاج بـه دَ هـر زخـم دَ مـحشر مـيِ شـی دَ در
علاج بـه دَ دُنيا دَ هـر بـلا شـی مـحـمد ﷺ
غـمـونـه بـه مـيِ هيـر شـی دَ دُنـيـا د دغـيِ در
يو واريِ کـه مـيِ زړۀ تـه اشنا راشی محمد ﷺ
زخمـونـه دَ ځيګر بـه ميِ ټول جوړ شی دَ جهان
زخـمـی ځيـګـر دَ پـاره کـۀ دوا شی محمد ﷺ
احـمـدعـلـی نسبت ئيِ دَ فلاح دے علامـت
کامياب به شمه هلته کۀ ګويا شی محمد ﷺ

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

دَ فـلاح لار دَ پـاره دلـتـه کـښـيِ سـامـان دے نبی ﷺ
داسـے دُنـيـا تـه راليـږلـے ربّ رحمٰن دے نبی ﷺ
فـلاح پـه لاره کـښـيِ پـرتـه ده دَ خيـر البشـر
فـلاح پـه لاره کـښـيِ پـرتـه ده دَ هـر نُـور ونـظـر
داعـی دُنـيـا کـښـيِ پـه دُنيا دَ حق بيـان دے نبی ﷺ
دَ فـلاح لار دَ پـاره دلـتـه کـښـيِ سـامـان دے نبی ﷺ
فـلاح پـه لار کـښـيِ دَ نبـی ﷺ ده دوجـهـان دَ پـاره
فـلاح پـه لار کـښـيِ دَ نبی ﷺ ده هـر انـسـان دَ پـاره
نُـور دَ نـظـر پـه کـائـنـات دَ هـر انـسـان دے نبی ﷺ
دَ فـلاح لار دَ پـاره دلـتـه کـښـيِ سـامـان دے نبی ﷺ

نـۀ پـه سيـرت بـانـدې ئې داغ شتــه دَ دُنيا پـه در
نـۀ پـه صـورت باندې ئې داغ شتـه پـه هر خوا پـه در
داسـے دُنيا کښې پيدا شوے پاك انسان دے نبي ﷺ
دَ فـلاح لار دَ پـاره دلتـه کښې سـامـان دے نبي ﷺ
فـلاح پـــه لار کښـې دَ نبـي ﷺ ده نيـغـــه لاره دا
دَ فــلاح لاره بـــلـــــه نشتـــــه تـــا دَ پـــاره دا
احـمده ! سپـورے هـر بشـرلـه دَ آسمان دے نبي ﷺ
دَ فـلاح لار دَ پـاره دلتـه کښې سـامـان دے نبي ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ رهبــرانــو پـــه دُنيــا کښـې يـو رهبـر دے نبـي
وايـه دا څوك دے؟ دا زمـونـږه پيـغمبر دے نبي ﷺ
وايـه دا څوك دے؟ دا زمـونـږه پيـغمبر دے نبي ﷺ
دَ رهبـــــرانـــو دا رهبـــــر دے دَ دُنيــــــا دَ در
دَ رهبـــرانـــو دَ دُنيــــا دے پـــــه هـــرخـــوا ددر
دَ دلبـــرانـــو دَ دُنيـــا دغــــه دلبـــر دے نبـــي ﷺ
وايـه دا څوك دے؟ دا زمـونـږه پيـغمبر دے نبي ﷺ
دَ رهبـــرانـــو دَا رهبـــردے دَ دُنيـــا پـــــه لاره
داســے دلبـــر دے دا بشـــر دے دَ دُنيـــا پـــــه لاره
دلتـــه دُنيـــا کښـې دَ يـخ والـي دَ نظـر دے نبي ﷺ
وايـه دا څوك دے؟ دا زمـونـږه پيـغمبر دے نبي ﷺ

دَ رهبـــرانـــو دے رهبـــر دَ امـــامـــانـــو هـغـــه
دَ رهبـــرانـــو دے رهبـــر دَ صـــالـحـــانو هـغـــه
داسے افسـر پـه افسـرانو کښې افسـر دے نبی ﷺ
وایـه دا څـوك دے؟ دا زمـونـږه پیـغمبر دے نبی ﷺ
هـم پـه امـام دَ انبیـاؤ بـانـدي یـاد هغـه دے
هـم دَ دُنیـا دَ شـریـعـت ښائسـتـهٔ بُنیـاد هغـه دے
محبوب دُنیا کښې دغه شان دَ رَبّ اکبر دے نبی ﷺ
وایـه دا څـوك دے؟ دا زمـونـږه پیـغمبر دے نبی ﷺ
نـهٔ پـه تـعـریف بـانـدي مـاړهٔ ئـي دَجهان خلق شول
نـهٔ پـه تـعـریف بـانـدي مـاړهٔ ئـي دَ مردان خلق شول
احـمده ! څـکـه چې دَ هرچا دَ زړهٔ سـر دے نبی ﷺ
وایـه دا څـوك دے؟ دا زمـونـږه پیـغمبر دے نبی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محبوب دُنیا کښې دَ اللّٰه ربُّ العزت دے نبی ﷺ
وایـه دا څـوك دے؟ دازمـونـږ دَ شـریعت دے نبی ﷺ
محبوب دُنیا کښې دے محبوب دَ محبوبانو هغه
محبوب دُنیا کښې دے محبوب دَ مرسلانو هغه
محبوب دُنیا کښې په هرځائے کښې هرساعت دے نبی ﷺ
وایـه دا څـوك دے؟ دازمـونـږ دَ شـریعت دے نبی ﷺ
مـحبـوب دُنیـا کښـې دَ ولیـانو متقیـانو هغـه

محبوب دُنیا کښې دَ نیکانو صالحانو هغه
دلته په سر سپورے هر ځائے کښې دَ رحمت دے نبي ﷺ
وایه دا څوک دے؟ دا زمونږ دَ شریعت دے نبي ﷺ
هغه امام دَ انبیاؤ مرسلانو ټولو
هغه امام په دَ عالمانو امامانو ټولو
دغه امام په کائنات کښې دَ اُمت دے نبي ﷺ
وایه دا څوک دے؟ دا زمونږ دَ شریعت دے نبي ﷺ
محبوب زما دے هم محبوب دے دَ مردان دَ خلقو
احمده ! هم هغه محبوب دے دَ اسمان دَ خلقو
داسے مقام په کائنات کښې دَ عظمت دے نبي ﷺ
وایه دا څوک دے؟ دا زمونږ دَ شریعت دے نبي ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې پیدا کله طٰه ﷺ شو ورځ دَ ګل وه
هر طرف رڼا شو ورځ دَ ګل وه
ورځ دَ ګل وه خوشحالي شوې په هر لور
ورځ دَ ګل وه خوشحالي شوې کور په کور
هر وجود دَ میني بیا شو ورځ دَ ګل وه
هر طرف رڼا شو ورځ دَ ګل وه
ورځ دَ ګل وه په عرب کښې خوشحالي وې
ورځ دَ ګل وه هر مکتب کښې خوشحالي وې

هر مکتب کښې سبق دا شو ورځ دَ ګل وه
هر طرف رڼا رڼا شو ورځ دَ ګل وه
ورځ دَ ګل وه ټول عجم په خوشحالو وو
ورځ دَ ګل وه ټول عالم په خوشحالو وو
مصطفیٰ ﷺ چې مصطفیٰ شو ورځ دَ ګل وه
هر طرف رڼا رڼا شو ورځ دَ ګل وه
ورځ دَ ګل وه آسمانونه وو خوشحاله
ورځ دَ ګل وه جهانونه وو خوشحاله
چې ښکاره کله صبا شو ورځ دَ ګل وه
هر طرف رڼا رڼا شو ورځ دَ ګل وه
ورځ دَ ګل وه اے احمده ! دَ جهان
خوشحالي وې په دُنیا کښې په آسمان
چې خاتم دَ انبیاء شو ورځ دَ ګل وه
هر طرف رڼا رڼا شو ورځ دَ ګل وه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په کائنات کښې په صادق او په امین یادیږی
په مخلوقاتو کښې بهتر نه بهترین یادیږی
تاج دَ لولاك دے پسر کړے دَ عزت دَ جهان
داسے دُنیا کښې معززه دا حسین یادیږی
انبیاء ټول ترینه وو وروستو دَ معراج په شپه

ځکـه امـام دَ انبیـاء او مُرسلین یـادیـږی
پـه والضـحیٰ سره ستائیلے ربَ قراٰن کښې هغه
داسے قـراٰن کښې پـه دُنیا دَربَ متین یادیږی
سـپـوږمے دُنیا کښې دَ رحـمت دے دَ دُنیا دَ در
ځکـه رحـمت پـه کائنات دَ عالمین یادیږی
دَ نفسی نفسی چې نعرې شی په محشر کښې کله
دَ هغـه وخت هلتـه شفیـع دَ مذنبین یادیږی
احمده ! هیـر درنه نن ځکه دَ کوثر جام نهٔ دے
هغـه ساقـی دَ خپـل اُمت دَ یوم الدین یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چـې اوچـت شـو لـه اٰفتـاب دَ مخ نـقـاب
هـغـه ورځ دَ پیـدائـش وه دَ اٰفتـاب
پټ چې ګـل وهٔ په غوټۍ کښې خوك خبروو
هم پـه دې کښـې مخ پټ کړے دے ګلاب
دَ مهتـاب پـه حُسن هـغـه وخـت شـو
چـې شـو لـرے ئې دَ مـخ نـه تـورسحـاب
دا هـرڅـهٔ چـې بـره تیـر شول پـه حساب دی
حُسـن نـه لـرى دَ پـاك رسول ﷺ حسـاب
اے احـمـده ! پـه خپـل حُسن لاثـانـی دے
ورتـه نـهٔ رسـی اٰفتـاب او نـهٔ مهتـاب

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـخ ددې جهان دے ښائسته کړے ربّ امین سره
مـخ ددې جهـان دے بهتـريـن پـه بهتـريـن سره
مـخ ددې جهان دے ښائسته شوې په حضرت نبی ﷺ
مـخ ددې جهـان دے اُوچت شـوې پـه اُوچت نبی ﷺ
هر ځائے کښې رحمت دے په رحمت دَ عالمين سره
مـخ ددې جهـان دے بهتـريـن پـه بهتـريـن سره
مـخ ددې جهان دے ښائسته شوې په تاجدار نبی ﷺ
مـخ ددې جهان دے ښـائسـتـهٔ شـوې پـه غمخوار نبی ﷺ
مـخ دَ هـر قـمـر دے ښـائسـتـهٔ شوې پـه يٰسين سره
مـخ ددې جهـان دے بهتـريـن پـه بهتـريـن سره
مـخ بـره دَ سـتـورو ښـائسـتـه شوې پـه احمد نبی ﷺ
مـخ بـره دَ سـتـورو رڼـا کـړے مـحـمـد ﷺ نبـی
ستـورې تـول ښـائسـتـهٔ دی پـه شفيـع المذنبين سره
مـخ ددې جهـان دے بهتـريـن پـه بهتـريـن سره
مـخ دَ بـره نـمـر دے رڼا شوې پـه حضـور ﷺ سره
مـخ دَبـره نـمـر دے نـورانـی پـه دغـې نـور سـره
بـره رڼـا نـمـر دے ښـهٔ صـورت پـه نيـازبيـن سـره
مـخ ددې جهـان دے بهتـريـن پـه بهتـريـن سره
مـخ کښـې دَ ګـل حُسـن دَ نبيـانـو دَتـاجدار دے تول

مخ کښې دَ ګل حُسن دَنبيانو دَ سردار دے ټول
ګل دے ښائسته شوې رحمة اللعٰلمين سره
مخ دَدې جهان دے بهترين په بهترين سره
مخ دَ هر بشر دے ښائسته شوې په نبی ﷺ سره
وائی احمد وائی ښائسته شوې هاشمی سره
هريو څيز ښائسته دے اوّلين او آخرين سره
مخ دَدې جهان دے بهترين په بهترين سره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې پيدا زمونږ امام ﷺ شو ورځ دَ ګل وه
چې پيدا خير الانام ﷺ شو ورځ دَ ګل وه
چې پيدا شو اوّلين دَدې جهان
چې پيدا شو آخرين دَدې جهان
چې ښکاره قمر تمام شو ورځ دَ ګل وه
چې پيدا زمونږ امام ﷺ شو ورځ دَ ګل وه
چې پيدا شولو امين دَ ټول عرب
چې پيدا شولو يٰسين دَ ټول عرب
چې نبی دَ خاص وعام شو ورځ دَ ګل وه
چې پيدا زمونږ امام ﷺ شو ورځ دَ ګل وه
چې پيدا شولو سحر دَ هريو در
چې پيدا شولو دلبر دَ هريو در

چــې بــادشــاه دَهــر کــلام شــو ورځ دَ ګــل وه

چــې پيـدا زمـونـږ امام ﷺ شو ورځ دَ ګل وه

چــې پيـــدا شــولــو احــمــده ! دا ســلــطــان

خــوشــحــالــۍ شــوې پــه مــکــان اولامــکــان

متبــــدا دَديـــن اســــلام شـــو ورځ دَ ګـــل وه

چــې پيـدا زمـونـږ امام ﷺ شو ورځ دَ ګل وه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ رهبـرانـو پــه تـولـګـی کښــې رهـنما يادېږي

هغــه رهبـر دَ رهبـرانـو مـصطفیٰ ﷺ يـاديـږي

هغــه رهبـر دَ رهبـرانـوپـه دُنيـا کښې د ے نن

هغـه رهبـر دَ رهبرانو په هر خوا کښې دے نن

رڼـا قـمـر دَ پـاس قـمـر نــه پـه هر خوا يـاديـږي

هغــه رهبـر دَ رهبـرانـو مـصطفیٰ ﷺ يـاديـږي

هــغـــه رهبـر هــغـــه امام دَ عـالـمـانـو تـولـو

امـــام امـــام دے پـــه دُنيـــا دَ مُـرسلانـو تـولـو

پـه کـائـنـات کښـې مـقـتـدا چې دَهرچا يادېږي

هغــه رهبـر دَ رهبـرانـو مـصطفیٰ ﷺ يـاديـږي

هغـه رهـبـر پـه هـريـو کـار کښې دَ دُنيا زمونږه

هغه رهبر په هريو کار کښې په هر خوا زمونږه

داسـے رهبـر ددې دُنيــا زمــا او ستــا يــاديـــږي

هغه رهبر دَ رهبرانو مصطفیٰ ﷺ یادیږی
هغه رهبر زما ډیوه دَ هریو کار دَ پاره
هغه رهبر زما ډیوه دَ هریو ښار دَ پاره
زما دُنیا کښې اے احمده ! تل زما یادیږی
هغه رهبر دَ رهبرانو مصطفیٰ ﷺ یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تاج دَ نبوت رسوله ! ﷺ خوند کوی دَ تاسره
هر طرف زما دے نن په دغې نُور زما سره
تاج دَ نبوت دے زما کړے دا جهان دے تول
تاج دَ نبوت دے زما کړے هر اسمان دے تول
هر طرف زما دے ستا دَ حُسن په بریښنا سره
هر طرف زما دے نن په دغې نُور زما سره
تاج دَ نبوت دے زماګانې په هر در کړلې
تاج دَ نبوت دے زماګانې په هر سر کړلې
هرطرف ښائسته شو نورانی ستا په دُعا سره
هر طرف زما دے نن په دغې نُور زما سره
تاج دَ نبوت دے ښائسته کړے هریو در دے نن
تاج دَ نبوت دے ښائسته کړے هرمنظر دے نن
ستا دَ نبوت په شان بل نشته تاج دَ چا سره
هر طرف زما دے نن په دغې نُور زما سره

تــاج دَ نبــوت دے رنــا کــړے صــحرا ګــانې دی
تــاج دَ نبوت دے ښــائسته کړی فضا ګــانې دی
داســے تــاج بــه نهٔ وی پــه دُنیــا کښــې انبیاء سره
هــر طــرف رنــا دے نــن پــه دغــې نُــور رنــا سره
داســے دَ نبــوت دے ښــائسته کــړے زما کور کلے
نشتــه نشته دلته په دُنیا کښې داســے تاج ښکلے
یــاد دے دَ احــمدعلــی دُنیــا کښــې پــه وینا سره
هــر طــرف رنــا دے نــن پــه دغــې نُــور رنــا سره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چــې پیــدا نبــی سلــطــان شــو ورځ دَ ګــل وه
چــې حسیــن دا تــول جهــان شــو ورځ دَ ګــل وه
ورځ دَ ګــل وه چــې پیــدا دَربَ مــحبوب شــو
ورځ دَ ګــل وه چــې ظــاهــر زمــونږ مطلوب شو
قــدردان هــریــو انســان شــو ورځ دَ ګــل وه
چــې پیــدا نبــی سلــطــان شــو ورځ دَ ګــل وه
سپــرلــے راغــے پــه دُنیــا دَهــدایــت
هــرطــرف تــه شــوه رنــا دَ شــریعــت
ختــم دلتــه هــر خــزان شــو ورځ دَ ګــل وه
چــې پیــدا نبــی سلــطــان شــو ورځ دَ ګــل وه
هــر غــریــب ســړے خــوشحالــه دَ دُنیا شــو

خوش نصیب سړے خوشحاله دَ دُنیا شو
په هر ځائے امن واَمان شو ورځ دَ ګل وه
چي پیدا نبی سلطان شو ورځ دَ ګل وه
هر مالدار په خوشحالو باندي شو سر
خوشحالی شوي دَ دُنیا په هریو در
دَ سکون پیدا سامان شو ورځ دَ ګل وه
چي پیدا نبی سلطان شو ورځ دَ ګل وه
ټول خوشحالو داګلونه دَ جهان شول
ټول خوشحاله دا باغونه دَ جهان شول
لاثانی هر ګلستان شو ورځ دَ ګل وه
چي پیدا نبی سلطان شو ورځ دَ ګل وه
دَ بدعت تیري دُنیا نه شوي رخصت
ختم ختم شو ددي جهان ظلمت
هریو در دلته روښان شوورځ دَ ګل وه
چي پیدا نبی سلطان شو ورځ دَ ګل وه
هریو درشو قیمتی لکه ګوهر
هریو درشو دَ دُنیا ټول معطّر
جوړ دَ مشکو چي باران شو ورځ دَ ګل وه
چي پیدا نبی سلطان شو ورځ دَ ګل وه
دَ رحمت سپوږمے دُنیا باندي شو خور

دَ عــزت ســپــورے دُنيــا بــانــدې شــو خــور
مــوړ پــه ميـنــه هــر مــکـان شــو ورځ دَ ګـل وه
چــې پيــدا نبــی ســلطــان شــو ورځ دَ ګــل وه
تـــاج پـــه ســـر کـــړهٔ دَ عـــزت هـــريـــو بشـــر
اے احـــمـــدعـــلـــی !تـــهٔ واوره مـــخـتـصـــر
عـــزت مـــنـــده هـــر بيـــان شـــو ورځ دَ ګـــل وه
چــې پيــدا نبــی ســلطــان شــو ورځ دَ ګــل وه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه کـائـنـات کـښـې لاثانی پـه ټول جهان يادېږی
هغه محبوب په کائنات کښې دَ رحمٰن يادېږی
تـول مُـرسـلان دے مـقـتـديـان دی دَ دُنيـا د در
دا تـول وليــان دے مقتـديــان دی دَ دُنيــا دَ در
پـه دے صـفـت سـره امـام ډير عاليشان يادېږی
هغه محبوب په کائنات کښې دَ رحمٰن يادېږی
اديـان منسوخ شول په دوی سره دُنيا کښې تول
اديـان مـنـسـوخ شـول پـه دُوی سره هرخواکښې تول
پـه کتـابـونـو کـښـې کتـاب ئـې دا قرآن يادېږی
هغه محبوب په کائنات کښې دَ رحمٰن يادېږی
پــه هــر صــفـت ســره کـامـل دے پـيـدا کـړے ربّ
پـه هـر نـسـبـت سـره کـامـل دے پـيـدا کـړے ربّ

داسې عظیم په کائنا کښې دا انسان یادیږی
هغه محبوب په کائنات کښې دَ رحمٰن یادیږی
نورانی نورئي دے سنت دَ هریو در ده رښا
نورانی نورئي دے سنت ښه معتبر ده رښا
په طریقو کښې دا بهتره دَ سلطان یادیږی
هغه محبوب په کائنات کښې دَ رحمٰن یادیږی
دغې دُنیا ته دے راغلے دَ عرب په زمکه
دغې دُنیا ته دے راغلے دَ نسب په زمکه
احمده ! درئي معتبر په هر بیان یادیږی
هغه محبوب په کائنات کښې دَ رحمٰن یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پیدا دَ ربّ محبوب شو ورځ دَ ګل وه
پیدا ښائسته مطلوب شو ورځ دَ ګل وه
ورځ دَ ګل وه هریو ګل په خوشحالۍ وۀ
ورځ دَ ګل وه هر محفل په خوشحالۍ وۀ
را ظاهر ښائسته مکتوب شو ورځ دَ ګل وه
پیدا دَ ربّ محبوب شو ورځ دَ ګل وه
هر طرف ته اطمینان راغے په در
هر طرف ته حق بیان راغے په در
تل سکون دَ قلب قلوب شو ورځ دَ ګل وه

پیــدا دَ ربَ مــحبــوب شــو ورځ دَ ګــل وه
راغـلــه راغـلــه میـنــه راغـلــه پــه هـر در
راغـلــه راغـلــه میـنــه زړهٔ کښـې دَ بشــر
زړهٔ دَ ربَ میـنــه کښـې ډوب شو ورځ دَ ګل وه
پیــدا دَ ربَ مــحبــوب شــو ورځ دَ ګــل وه
اے احمدعـلـی ! ښائستـه هریو صورت شو
دَ فــلاح پــه لار روان دَ شــریــعــت شــو
نــورانــی شــمــال جنوب شو ورځ دَ ګل وه
پیــدا دَ ربَ مــحبــوب شــو ورځ دَ ګــل وه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګل دَ ګـل پـه ورځ مـکـه کښـې چې پیدا شو
هــرطــرف ددې جهــان رڼــارڼــا شــو
دَ مــکــې لارې کــوڅــې تــولــې رڼـاشــوے
رڼـا ګـانـې هـر طـرف تـه پـه هـر خوا شوے
چــې پیــدا زمــونــږه سیّــدالــوریٰ ﷺ شــو
هــرطــرف ددې جهــان رڼــارڼــا شــو
هـــریـــو زړهٔ شـــو مـــنَـــوره دَجهـــان
نـــورانـــی شـــوه دغـــه زمـکـــه اواٰسـمـــان
چــې پیــدا کـلــه مـحبـوب دَ انبیــاء شــو
هــرطــرف ددې جهــان رڼــارڼــا شــو

تـول عــرب پــه رڼـاګـانـو ګـبـنـې شـو ډوب
هـريـو مـکـتـب پـه رڼـاګـانـو ګـبـنـې شـو ډوب
چــې پـيـــدا کــلـــه خـــاتـم الانبيـــاء شــو
هـــرطـــرف ددې جـهـــان رڼـــارڼـــا شــو
ډَ عــجـم تـورتـم تـيـري تـولـې رخـصـت شـوې
هــر طــرف تـــه رڼــاګــانــې ډَ سـنـت شـوې
چــې پـيـــدا کــلـــه رهـبـر ددې دُنـيـــا شــو
هـــرطـــرف ددې جـهـــان رڼـــارڼـــا شــو
رڼــاګــانــې پـــه مـردان ګـبـنـې راخــورې شـوې
اے احـمـده ! تـول جـهـان ګـبـنـې راخـورې شـوې
چــې پـيـــدا کــلـــه مــحـبـوب ډَ اولـيـــاء شــو
هـــرطـــرف ددې جـهـــان رڼـــارڼـــا شــو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هــرانـســـان بـــه کــوږ روان وو کـــۀ تـــۀ نـــۀ وې
وران بـــه دلـتـــه هـر مـکـان وو کـۀ تـۀ نـۀ وې
هــر بـشـــر بـــه پـــه ســر کــړی وو غـمـونـــه
هــر انـســان بــه پــه خـفـګـان وو کـۀ تـۀ نـۀ وې
هــر طــرف تـــه بـــه ظــلـمـونـه پـه جـهـان وو
هــرانـســان بــه جــوړ شـيـطـان وو کـۀ تـۀ نـۀ وې
رڼــاګـــانــې بـــه دُنـيـا ګـبـنـې نـــۀ وے نـــۀ وې

تور تورتم به تول جهان وو کۀ تۀ نۀ وې
دَ انصاف خبره چا به نۀ کوله
کور دَ ظلم به ودان وو کۀ تۀ وې
دَ توحید وینا به نۀ وه خوره شوې
په هر ځائے کښې به خزان وو کۀ تۀ نۀ وې
دَ احمد وینا به نۀ وه ددې در
تباه شوې به مردان وو کۀ تۀ نۀ وې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وایه تل وایه مسلمانه ! دا صلوۃ وسلام
وایه زیات وایه له هر چانه ! دا صلوۃ وسلام
وایه درود دغه دے امر دمولیٰ زمونږه
وایه درود دغه دے امر دَ طٰهٰ زمونږه
تپوس کۀ وکړې تۀ له مانه دا صلوۃ وسلام
وایه زیات وایه له هر چانه ! دا صلوۃ وسلام
درود سلام سره علاج کیږي دَ هر بشر
بدله ده ډیره ډیر ثواب کیږي دَ هر بشر
تپوس کولې شې اے ځوانه دا درود سلام
وایه زیات وایه له هر چانه ! دا صلوۃ وسلام
دا یو طاقت دے دَ هر زړۀ دَ مسلمان دَ پاره
دا یو طاقت دے په دُنیا کښې تول جهان دَ پاره

دَ سترګوره توره قدردانه ! دا صلوة وسلام
وایه زیات وایه له هر چانه ! دا صلوة وسلام
دَ جنتونو هم سبب دے په دُنیا کښې دغه
دَ رحمتونو هم سبب دے په دُنیا کښې دغه
خبر کړه ځانه له دي بیانه دا صلوة وسلام
وایه زیات وایه له هر چانه ! دا صلوة وسلام
هم دَ نبی ﷺ سره په دغې تعلق جوړیږی
دَ هر ولی سره په دغې تعلق جوړیږی
تپوس تهٔ وکړه له دُنیا نه دا صلوة وسلام
وایه زیات وایه له هر چانه ! دا صلوة وسلام
درود سلام وایه سبب دَ شفاعت دے هم
احمده ! وایه دا سبب دَ غټ نسبت دے هم
وایه تل وایه ځوانه ! دا صلوة وسلام
وایه زیات وایه له هر چانه ! دا صلوة وسلام

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پیدا هر څهٔ دی ددُنیا دغه ټول ستا له مخه
دا ټول ښیزونه په هر خوا دغه ټول ستاله مخه
بره سپوږمی بره دا نمردی پیدا ستاله مخه
ستوری دی ټول بره رڼا دغه ټول ستاله مخه
دَ دُنیا غرونه دریابونه ونې بوټی دا ټول

دا هـر څـه دلتـه دي پيـدا دغـه تهول ستـالـه مـخـه
پـاس اسمـانونـه پيدا کـړي ستـالـه مخـه دي رب
ډك دي دَ حُسـن دَبڼـکـلا دغـه تهول ستـالـه مـخـه
احـمـده ! ستـا دا مـختـصـر دے دَ جهـان دا بيـان
دا هـر څـة دلتـه دي فـدا دغـه تهول ستـالـه مخـه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ياد شوے ځائے په ځائے ئي په هر کور کښې په صِفت
رسـولـه ! ﷺ ستـا وجـود دے تهول عـالَم لره رحمت
تيـرو کښـې رنهـا تـهٔ ئي دَ دُنيـا پــه هـر طـرف
هـر بـاغ کښـې بنـکـلا تـهٔ ئي د دُنيـا پــه هـرطـرف
تـقسيـم دے ستـا لــه درنــه دَ دُنيـا تهول شـرافت
رسـولـه ! ﷺ ستـا وجـود دے تهول عـالَم لره رحمت
تيـرو کښـې رنهـا تـهٔ ئي دَ تـوحيـد پــه هـريـو در
رنهـا ئـي تهـول جهـان دَ پـاره بـره رنهـا نـمـر
تيـرے دي ختـمـے شـوے ستـا پـه نُور دَجهـالـت
رسـولـه ! ﷺ ستـا وجـود دے تهول عـالَم لره رحمت
نـرمـي ده ستـا سبـق هـريـو بشـر تـه دَ جهـان
نـرمـي ده ستـا سبـق هـريـو دلبـر تـهٔ دَجهـان
هـرقـول دے رنها نـمـر دے هـريـو قول دے نصيحت
رسـولـه ! ﷺ ستـا وجـود دے تهول عـالَم لره رحمت

بُنیا دد هرعزت دے په دُنیا کښې دَ هر تن

بُنیادَ هر خوشبوئي په دُنیا دَهر چمن

هر درس کښې ستا خوشبو ده حقیقت دے صداقت

رسوله ! ﷺ ستا وجود دے تهول عالَم لره رحمت

هر درس دے نوراني دے احمد وائي دَ مردان

هر درس دے نوراني دے لاثاني دے عاليشان

بُنیاد په کائنات کښې دے دا درس دَهر عظمت

رسوله ! ﷺ ستا وجود دے تهول عالَم لره رحمت

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستا له برکته نوراني دے تهول جهان رسوله ! ﷺ

تا نه قربان رسوله ! ﷺ تا نه قربان رسوله ! ﷺ

ستا له برکته نوراني بره اسمان دے تهول

ستا له برکته نوراني دغه جهان دے تهول

رنها دے تلې بره ده په لامکان رسوله ! ﷺ

تا نه قربان رسوله ! ﷺ تا نه قربان رسوله ! ﷺ

ستا له برکته تهول عالم کښې برکت پروت دے

هم په عرب کښې په عجم کښې برکت پروت دے

ستا دے برکت چې نازل شوے دے قران رسوله ! ﷺ

تا نه قربان رسوله ! ﷺ تا نه قربان رسوله ! ﷺ

ستا له برکته دا اُمت دَهر عذابه بچ دے

ستا له برکته دا اُمت له هر عتابه بچ دے
ته ئي دُنيا کښې دَ نجات فلاح سامان رسوله! ﷺ
تا نه قربان رسوله! ﷺ تا نه قربان رسوله! ﷺ

ستا له برکته رحمتونه په جهان وريږى
ستا له برکته رحمتونه له آسمان وريږى
نورانى تا سره دے بره هر آسمان رسوله! ﷺ
تا نه قربان رسوله! ﷺ تا نه قربان رسوله! ﷺ

ستا له برکته دا احمد ليکلے نعت په قلم
نورانى نور دے په دُنيا کښې دَا عرب او عجم
نورانى نور دے دَ دُنيا ستا هر بيان رسوله! ﷺ
تا نه قربان رسوله! ﷺ تا نه قربان رسوله! ﷺ

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ځار دي دَ روضې نه شمه يا نبى! ﷺ
ځار دي دَ کوڅې نه شمه يا نبى! ﷺ
ربَ درله نوم اېښے مصطفىٰ ﷺ چې دے
دا ټولو نومونو کښې اعلىٰ چې دے
ځار دغې نامې نه شمه يا نبى! ﷺ

نوم دے هم خيرالورىٰ، نورالهدىٰ
نوم دے هم شمس الضحىٰ،صدرالعلىٰ
ځار دي تذکرې نه شمه يا نبى! ﷺ

ستـــا رضــا رضــا ده دَ رحــمٰــن رحيــم
ستـــا رضـــا رضـــا ده دَ الــلّٰـــه کـــريــم
ځـــاردي هـــر جـلـوې نـــه شـمـــه يا نبی ! ﷺ

هـــريـــو ذره ده ستـــا د دربـــکـــلـــے
هـــريـــو ذرَه ده مـــعـــطّـــر بـــکـــلـــے
ځـــاردي هـــر ذرّې نـــه شـمـــه يـا نبی ! ﷺ

ځـــاردي دَ مـــکـــان دَ ګـــلستـــان نـــه شم
ځـــاردي پـــه دُنيـــا دَ هـــر بيـــان نـــه شم
ځـــاردي مـــرتبـــې نـــه شـمـــه يـــا نبـــی ! ﷺ

ځـــاردي دَ اســـلام ســـره دَ مـيـنـــے شـم
ځـــاردي خـــاص وعـــام ســـره دَ ميـنـــے شـم
ځـــاردغـــه جـذبـې نـه شـمـــه يـا نبی ! ﷺ

ځـــاردي دَ دُنيـــا دَ هـــريـــو ګـــل نـــه شـم
ځـــاردي پـــه دُنيـــا دَ هـــر مـــنـــزل نـــه شم
ځـــارد بـمـدينـې نـــه شـمـــه يـا نبـــی ! ﷺ

ځـــاردرنـــه احـمـدعـلـی پـخـپـلـــه شـم
ځـــاردي پـــه دُنيـــا دَ هـــر مـحـفـلـــه شـم
ځـــاردي هـــر حـصـې نـــه شـمـــه يـا نبی ! ﷺ



نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښنګ چې محمد ﷺ ډیر عالیشان دے
داسے ربّ ورکړے خپل قرآن دے
ښنګ چې پاك نبی ﷺ رښا رښا ده هم
ښنګ چې پاك نبی ﷺ تولـه وفا ده هم
ښنګ چې پاك نبی ﷺ دَ در ښکلا ده هم
داسے نازل کړے ربّ منّان دے
ښنګ چې محمد ﷺ ډیر عالیشان دے
ښنګ چې په رحمت باندې یاد شوے دے
ښنګ چې لوئے نسبت باندې یا د شوے دے
ښنګ چې په عظمت باندې یاد شوے دے
داسے تول قرآن دَ ربّ بیان دے
ښنګ چې محمد ﷺ ډیر عالیشان دے
ښنګ چې ده ښکلا دَ هر چمن نبی ﷺ
ښنګ چې ده ښکلا دَ هر یو تن نبی ﷺ
ښنګ چې ده ښکلا دَ نن پرون نبی ﷺ
دغه شان دا حسن دَ جهان دے
ښنګ چې محمد ﷺ ډیر عالیشان دے
ښنګ چې دے هادی په هدایت ښکلے
ښنګ چې دے ناصح په نصیحت ښکلے
ښنګ چې دے احمده ! په نسبت ښکلے

داسې راليږلے ربِ رحمٰن دے
څنګ چې محمد ﷺ ډير عاليشان دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ما ته قسم دے هر ادا دَ پيغمبر ﷺ ياديږی
هره ادا راته دَ سيّد البشر ﷺ ياديږی
په ادا ګانو ئې فدا دغه ګلونه دی ټول
په ادا ګانو ئې فدا دغه باغونه دی ټول
ما ته دَ حُسن کائنات کښې دا افسر ياديږی
هره ادا راته دَ سيّد البشر ﷺ ياديږی
په ادا ګانو ئې فدا دی آسمانونه بره
په ادا ګانو ئې فدا دی جنتونه بره
راته دلبر دَ دلبرانو برابر ياديږی
هره ادا راته دَ سيّد البشر ﷺ ياديږی
په ادا ګانو کښې ښکلا ئې جهان پرته ده
په ادا ګانو کښې ښکلا ئې آسمان پرته ده
دغه انداز راته محبوب دَربَ اکبر ياديږی
هره ادا راته دَ سيّد البشر ﷺ ياديږی
په ادا ګانوئې فدا دی انسانان دَجهان
په ادا ګانوئې فدا دی دغه زمکه آسمان

وائــي احــمــد مــاتــه يــخ والــے دَنـظــر يــاديــږي
هــره ادا راتــه دَ سيّــد البشــر ﷺ يــاديــږي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ديدن له پاك رسوله ! ﷺ ستا كوڅې له به درځمه
سـلام لـره سـلام لـه مـديـنـې بـه درځـمـه
ديـدن لـه بـه درځـمـه ستا رسوله ! ﷺ ستا دَ در
ديـدن لـه بـه درځـمه ستـا رسـولـه ! ﷺ دَ نظر
ديدن لـره ستـا نـور لـه ستا جلوې له به درځمه
سـلام لـره سـلام لـه مـديـنـې بـه درځـمـه
ديـدن لـه بـه درځـمـه ستـا رسـولـه ! ﷺ دَ چمن
ديـدن لـه بـه درځمه پاك رسـولـه ! ﷺ دَ وطن
ديـدن لـه دَ هـرڅيـز هـرے ذرې لـه بـه درځـمـه
سـلام لـره سـلام لـه مـديـنـې بـه درځـمـه
ديـدن لـه بـه درځـمه ستا رسوله ! ﷺ دَ محفل
ديـدن لـه بـه درځـمـه ستـا دَ حُسـن دَ هـر ګل
ديـدن لـه ستـا دَحُسـن تـذكـرې لـه بـه درځـمـه
سـلام لـره سـلام لـه مـديـنـې بـه درځـمـه
ديـدن لـه بـه درځـمـه ستـا دَ نـور او دَ جـمـال
ديـدن لـه بـه درځـمـه ستـا دَ حُسـن لامثـال
ديدن لـه ستـا دَ كور هـرے حصې له به درځمه

سلام لره سلام له مدينې به درځمه
ديدن له به درځمه ستا دَ حُسن دَ اٰفتاب
ديدن له به درځمه ستا دَ حُسن لاجواب
ديدن لره ستا لوئے مرتبې له به درځمه
سلام لره سلام له مدينې به درځمه
ديدن له به درځمه ستا مکان له دَجهان
احمدعلی ليکلے دا بيان دے په ښۀ شان
ديدن له ستا دَ حُسن نظارې له به درځمه
سلام لره سلام له مدينې به درځمه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ياديرې مې جانان دَ تورو زلفو
حسين ښکلے انسان دَ تورو زلفو
چې خپله ئې تعريف کړے دے ربّ
ذکر شته په قراٰن دَ تورو زلفو
والليل سره ئې ذکر په قراٰن شته
واضحه دے بيان دَ تورو زلفو
هرڅوك ترينه ځارېږي دَجهان
هرڅوك دي مدح خوان دَ تورو زلفو
هرڅوك کوئی صفت ئې په دُنيا کښې
دا تول دي عاشقان دَ تورو زلفو

هــر حُســـن دَجهـــان تـــرينـــه فـدا دے
ګـــلـــونـــه دي قـــريــــان دَ تـــوروزلـــفــو
احـــمـدعـلـــى ! هـــم تــــۀ تـــرينـــه فـدا ئــي
عـــظيـــم دے دا ســـلـــطــــان دَ تـــوروزلـــفـــو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هرڅـۀ پـه دي دُنيا ددې جهان درنه لوګـے کړم
کۀ دغه پوره نۀ وي پاس اسمان درنه لوګـے کړم
دَ تـن سـره دُنيـا زۀ خپـل سـر درنـه لوګـے کـړم
پـه سر کښي دَ ربّا نه ډك چشمان درنه لوګـے کړم
دا زړۀ دَ خپـل وجـود درنــه فـدا ددې جهـان کـړم
دا روح کـۀ پـوره نۀ وي دا ټول ځان درنه لوګـے کړم
هـرڅـۀ درنـه لـوګـے پاس لـه زمکـے لـه اسمانـه
قسـم دے تـانــه بـره لامـکـان درنـه لوګـے کړم
دَ فـرش نـه پـاس لـه عرشه دا هرڅه درنه قربان کړم
خـوشبـو سـره ګـلونـه ګلستان درنه لوګـے کړم
قـــريــان درنــه قـــريــان کـړمـه لعلونـه دَ جهـان
يـاقـوت سـره دُنيا کښي هر مرجان درنه لوګـے کړم
احمده ! کۀ دا کم وي په ګفتار باندې دُنيا کښي
هـر ځائـے کښي هر ساعت به هر بيان درنه لوګـے کړم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تــهٔ ښــکــلا دَ هــر چــمن ئې مــحــمــده ! ﷺ
روح دُنیــا کښــې دَ بــدن ئــې مــحــمــده ! ﷺ

پــه تیــرو کښــې تــهٔ ډیوه دَ هدایــت ئــې
لــکــه نــمــر دَ کوروطن ئې مــحــمــده ! ﷺ

تــهٔ ســکــون دَ هــریو درد دَ هــر مــحــفــل ئــې
تــهٔ ســکــون دَ هــریو تــن ئــې مــحــمــده ! ﷺ

ستــا دَ نُــور نــه خــوره شــوې هــر رڼــا ده
داسې یاد پــه خپــل مسکن ئې محمده ! ﷺ

دَ اخــلاقــو پــه جهــان کښــې خــزانــه ئــې
قیــمتــی لــه هــر مــعدن ئې مــحــمــده ! ﷺ

ستــا وجــود دَ مــینــې هــم دے عــلامــت
ډک دَ میــنــے پــه لــمــن ئــې مــحــمــده ! ﷺ

پــه حسیــن بــانــدې مــئیــن ئــې دَجهــان
هــم بــابــا تــهٔ دَ حَســن ئــې مــحــمــده ! ﷺ

دَ صبــا دَ پــاره هــم تــهٔ هــدایــت ئــې
لــکــه ښــکــه چې دَ نــن ئې مــحــمــده ! ﷺ

پــه ګــفتــار کښــې ئــې تــهٔ خوږ لــه هــر ګبینــه
داســے یــاد پــه هــر ســخُــن ئــې مــحــمــده ! ﷺ

احمد تابانديِ مئين ددي جهان دے
څنګ چي مونږ بانديِ مئين ئي محمده ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دا انسان وو کوږ روان چي پيدا نۀ وي
هر انسان وو په خفګان چي پيدا نۀ وي
سر دَجهل په هر لور وو اُوچت شوي
نۀ وو نور نۀ وو ايمان چي پيدا نۀ وي
بتان هر ځائے کښې پراته دَ جهالت وو
مشران وو جاهلان چي پيدا نۀ وي
معززه په دُنيا بانديِ څوك نۀ وي
دَ ذلت وو تول سامان چي پيدا نۀ وي
سترګے پټے وے دَ حق نه په هر در
نۀ رڼا وه نۀ عرفان چي پيدا نۀ وي
ستا راتلو سره رڼا په طرف شوه
مخکښې هر ځائے وو خزان چي پيدا نۀ وي
دَ انسان نه انسان جوړ شو په جهان
کار کولو هر شيطان چي پيدا نۀ وي
دَ اسلام آغاز په دوی سره دے شوي
نۀ مؤمن وو مسلمان چي پيدا نۀ وي

دَ احمدعلي پشان عاصي کسان وو
تـول روان وو کـوږ روان چي پيدا نـهٔ وي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګـل ورځ دَ نبی ﷺ ده پـه دُنيـا کښي دَ مولود
وائـي وائـي پـه نبی ﷺ بـانـدي درود
ورځ دَ ولادت ده دَ حـضـرت خيـرالابـرار
ورځ دَ ولادت ده دَ کـونيـنـو دَ سـردار
وائـي درود وائـي درود وائـي پـه محمود
ورځ دَ ولادت ده دَ دُنيـا دَ سـعـادت
ورځ د ولادت ده پـه دُنيـا کښـي دَ عـظـمت
وائـي درود وائي مدينـه کښي پـه موجـود
ورځ دَ ولادت ده دَ نبيـانـو دَ امـام
ورځ دَ ولادت ده دَ دُنيـا مـاهِ تـمـام
وائـي درود وائـي دَ کـونيـنـو پـه مسعود
وائـی درود وائـی هـم احـمـد ددي جهـان
دغـه درود نـور دے دَ لـحـد ددي جهـان
نـهٔ وائـی دُنيـا کښـي درود څوك چي وی مردود

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دُنيـا تـه راغـے
رڼـا صـورت هـغـه هـر خـوا تـه راغـے

رڼا شوه زمکه او آسمان په نبي ﷺ
رڼا شوه زمکه دا جهان په نبي ﷺ
رڼا رڼا هر يو دانا ته راغے
رڼا صورت هغه هر خوا ته راغے

هغه نبي ﷺ دَ انسانانو دے هم
هغه نبي ﷺ هم دَ پيريانو دے هم
بره چې غرله دَ صفا ته راغے
رڼا صورت هغه هر خوا ته راغے

هم دَ عرب هغه نبي ﷺ يا ديږي
مقتدا يو دا هاشمي يا ديږي
کله چې کله غار حرا ته راغے
رڼا صورت هغه هر خوا ته راغے

رڼا رڼا شولو عجم په هغه
رڼا رڼا شولو عالم په هغه
دُنيا ښائسته شوه چې دُنيا ته راغے
رڼا صورت هغه هر خوا ته راغے

احمدعلي ! هغه رهبر زمونږه
رڼا روښانه بره نمر زمونږه
کله چې کله ما او تا ته راغے
رڼا صورت هغه هر خوا ته راغے

تمت بحمد الله وبتوفيقه ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك
انت التواب الرحيم * وصلى الله تعالىٰ على خير خلقه محمد وآله واصحابه واهل
بيته اجمعين. آمين يارب العلمين برحمتك يا ارحم الراحمين
21 جون 2016 بمطابق ماهِ رمضان المبارك

(دریمه برخه)

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

حمدباری تعالیٰ

ستا دے ستا دا تول جهان اے ربنا
زمکه ستا ده هر آسمان اے ربنا
تهٔ کریم ئي تهٔ رحیم دَ هر یو در
په هر چائي مهربان اے ربنا
لم یلد ئي لم یولد لو یه خدایه
داسے تهٔ ئي عالیشان اے ربنا
په هر څهٔ دَ کائنات ستا تیٔ نظر
دے هر څیز په تا عیان اے ربنا
دَ هر څهٔ نه دَ دُنیا ئي تهٔ خبر
دَ مکان او لامکان اے ربنا
دَ هر څیز دَ کائنات ئي تهٔ خالق
کهٔ انسان دے کهٔ شیطان اے ربنا
ستا نه غواړي ستا محتاج دے هر بشر
هم کافر او مسلمان اے ربنا
دا خوشبو دَ کائنات تا پیدا کړي
هر یو ګل دَ ګلستان اے ربنا
هر موسم دَ جهان تا دے پیدا کړے

د سپرلی سره خزان اے رينا
ملائك دی پيدا كړی دَ جهان دی
پيدا كړی تا پيريان اے رينا
دا هر څۀ منم په دغه مې يقين دے
دَ احمد دے دا ايمان اے رينا

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

رهنما دَ هر انسان دے مصطفىٰ ﷺ
حُسن حُسن دَ جهان دے مصطفىٰ ﷺ
ورته وائی چې قمر رڼا روښانه
ورته وائی بره نمر رڼا روښانه
رڼا نُور دَ هر آسمان دے مصطفىٰ ﷺ
رهنما دَ هر انسان دے مصطفىٰ ﷺ
رهنما دَ هر بشر دے دَ دُنيا
رهنما دَ هر يو در دے دَ دُنيا
داسے يا د په لا مكان دے مصطفىٰ ﷺ
رهنما دَ هر انسان دے مصطفىٰ ﷺ
رهنما دَ كافرانو دَ دُنيا دے
رهنما دَ مؤمنانو د دُنيا دے
نُور كامله دَ عرفان دے مصطفىٰ ﷺ
رهنما دَ هر انسان دے مصطفىٰ ﷺ

رهنما ورته وئیلے ربّ منان دے
رهنما ورته وئیلے ټول جهان دے
داسے یاد په دے قرآن دے مصطفیٰ ﷺ
رهنما دَهر انسان دے مصطفیٰ ﷺ
رهنما دَ نېغې لارې په هر در دے
رهنما شائسته احمده! پیغمبر دے
داسے یاد په هر بیان دے مصطفیٰ ﷺ
رهنما دَهر انسان دے مصطفیٰ ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سحاب هر ځائے دَ رحمت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سرسېورے هر ساعت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سرسېورے دَ غریب انسان دَ پاره
دَ سرسېورے هر طبیب انسان دَ پاره
سېورے سېورے دَ عظمت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سرسېورے هر ساعت دے مصطفیٰ ﷺ
سېورے سېورے دَ سکون دے دَ دُنیا
سېورے سېورے دَ ژوندون دے دَ دُنیا
یاد په سېوری د عزت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سرسېورے هر ساعت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سرسېورے دَ وړوکی او دَ ځوان

دَ سـر سـپـورے دَ دُنيـا دَهـر مـکـان
يـاد پـه سپوري دَ شفقت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سرسپورے هر ساعت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سـر سـپـورے ګـناه ګار لـه دے نبی ﷺ
دَ سـر سـپـورے تـابعدار لـه دے نبی ﷺ
دَ سـر سـپـورے دَ اُمت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سرسپورے هر ساعت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سـر سـپـورے دَ احـمـد عـلـی دَ در
دَ سـر سـپـورے پـه دُنيـا دَهـر بشـر
دَ سر سپورے لوئے نعمت دے مصطفیٰ ﷺ
دَ سرسپورے هر ساعت دے مصطفیٰ ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مُـرسـلانـو کښې سـردار دے مـصطفیٰ ﷺ
ګـل دَ حُسـن دَ هـر دار دے مـصـطفیٰ ﷺ
دَ نيـکـانـو دَ سـر تـاج دے دَ دُنيـا
دَ وليـانـو دَ سـر تـاج دے دَ دُنيـا
داسے يـاد پـه نور انوار دے مـصطفیٰ ﷺ
ګـل دَ حُسـن دَ هـر دار دے مـصـطفیٰ ﷺ
دَ هـر تـخـت دے دَ دُنيـا هـغـه سلطان
دَ هـر تـخـت دے هـغـه شـاه ددې جهـان

داسې یاد حسین تاجدار دې مصطفیٰ ﷺ
ګل دَ حُسن دَ هر دار دې مصطفیٰ ﷺ
دَ هر درپه بڼکلا یاد په دې جهان دې
دَ هر درپه بڼکلا یاد په هر مکان دې
داسې یاد په حُسندار دې مصطفیٰ ﷺ
ګل دَ حُسن دَ هر دار دې مصطفیٰ ﷺ
په چمن کښې هغه حُسن دَ هر ګل دې
هر وطن کښې هغه حُسن دَهر ګل دې
داسې یاد په هر دربار دې مصطفیٰ ﷺ
ګل دَ حُسن دَ هر دار دې مصطفیٰ ﷺ
نور رڼا د بره ستورو په اسمان دې
پاس قمر روښانه شوې په جهان دې
منوّره په هره لار دې مصطفیٰ ﷺ
ګل دَ حُسن دَ هر دار دې مصطفیٰ ﷺ
په لقب بدرالدجیٰ ددې جهان دې
هم شمس الضحیٰ یاد شوې عالیشان دې
هر خزان پسې بهار دې مصطفیٰ ﷺ
ګل دَ حُسن دَ هر دار دې مصطفیٰ ﷺ
اې احمدعلي بڼکلا زما اوستادې
مجموعه دَ صفتونو دَ دُنیا دې

بهترین په هر ګفتار دے مصطفیٰ ﷺ
ګل دَ حُسن دَ هر دار دے مصطفیٰ ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لازم په هر بشر دے احترام دَ محمد ﷺ
عالی دَ هر مقام نه دے مقام دَ محمد ﷺ
لازم په هر بشر دے احترام دَ مصطفیٰ ﷺ
لازم دے احترام دَ امامانو دَ دُنیا
عالی په کائنات دی صبح وشام دَ محمد ﷺ
عالی دَ هر مقام نه دے مقام دَ محمد ﷺ
عالی دَ محمد ﷺ خیر الوریٰ ده مرتبه
عالی دَ محمد ﷺ بدرالدجیٰ ده مرتبه
کامل دے شریعت ماهِ تمام دَ محمد ﷺ
عالی دَ هر مقام نه دے مقام دَ محمد ﷺ
عالی دَ هر اسمان نه دے مقامِ مصطفیٰ ﷺ
عالی دَ لامکان نه دے مقامِ مصطفیٰ ﷺ
عظیم په هر صفت دے هریو جام دَ محمد ﷺ
عالی دَ هر مقام نه دے مقام دَ محمد ﷺ
عالی دے محمد عربی ﷺ وائی دا احمد
رڼا ده په دُنیا کښې په دُنیا دَ هر لحد
ممتاز دَ هریو دین نه دے اسلام دَ محمد ﷺ
عالی دَ هر مقام نه دے مقام دَ محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حسین په کائنات کښې دے چمن دَ محمد ﷺ
حسین دَ هر وطن نه دے وطن دَ محمد ﷺ
حسین دَ هر یو ګل نه دَ دُنیا دے دَ هر در
حسین دَ هر محفل نه دَ دُنیا دے دَهر در
عالی لری مقام بنګلے مدفن دَ محمد ﷺ
حسین دَ هر وطن نه دے وطن دَ محمد ﷺ
حسین په هر صفت سره چمن دغه چمن دے
حسین په هر صفت سره وطن دغه وطن دے
مقام دغه دَ دوی دے په بدن دَ محمد ﷺ
حسین دَ هر وطن نه دے وطن دَ محمد ﷺ
حسینه هره لاره دَ دې در دَ مصطفیٰ ﷺ
حسینه هره لاره دَ حضرت خیر الوریٰ ﷺ
عالی دلته هر تن دے په لمن دَ محمد ﷺ
حسین دَ هر وطن نه دے وطن دَ محمد ﷺ
حسین دے هر یو کور ددغې در ددې جهان
حسین دے هر یو ګور ددغې در ددې جهان
کفن ته نه رسیږی یو کفن دَ محمد ﷺ
حسین دَ هر وطن نه دے وطن دَ محمد ﷺ
احمدعلی حسین دے هر بیان دَ دغې در
عالی دے هر بیان ډیر عالیشان ددغې در

دَ شاتو نه هم خوږ دے هر سُخن دَ محمد ﷺ
حسين دَ هر وطن نه دے وطن دَ محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عالی دَ هر قدم نه دے قدم دَ محمد ﷺ
حسين دَ هر عالَم نه دے عالم دَ محمد ﷺ
قدم دَ محمد ﷺ دے چي عالي کړي هر يو در
حرم دَ محمد ﷺ دے چي عالي کړي هر بشر
عالی په کائنات کښي دے حرم دَ محمد ﷺ
حسين دَ هر عالَم نه دے عالم دَ محمد ﷺ
قدم دَ محمد ﷺ دے چي هر ځائے کړي منوَره
قدم دَ محمد ﷺ دے چي هر ځائے کړي معطَره
اثر دے په دُنيا دا دَ کرم دَ محمد ﷺ
حسين دَ هر عالَم نه دے عالم دَ محمد ﷺ
قدم دَ محمد ﷺ دے عزت منده په هر در
قدم دَ محمد ﷺ دے قدرمنده په هر در
اثر دے په هر در باندي دا دم دَ محمد ﷺ
حسين دَ هر عالَم نه دے عالم دَ محمد ﷺ
قدم ته ئي نۀ رسی دا العلونه دَ جهان
قدم ته ئي نۀ رسی دغه ستوري دَ آسمان
مقام دَ هر قدم دے مسلم دَ محمد ﷺ

حسین دَ هر عالَم نه دے عالم دَ محمد ﷺ
قدم ته ئي نه رسی دا بیان تول دَ احمد
عالی ئي هر قدم دے نشته نشته ئي څهٔ حد
قدم دے محترم دا مکرَم دَ محمد ﷺ
حسین دَ هر عالَم نه دے عالم دَ محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محبوب دَ ربَ اکبر دے محمد رسول الله ﷺ
زما دَ زړګی سر دے محمد رسول الله ﷺ
مکی مدنی هغه قریشی نسبی دے
بهتر په کائنات کښې هاشمی عربی دے
ښخ والے دَ نظر دے محمد رسول الله ﷺ
سیَد دے دَ دُنیا دغه احمد دے نبی دا
یاد شوے در په در په محمد دے نبی دا
رحمت دَ هر یو در دے محمد رسول الله ﷺ
هم ګل دَ هر محفل دے محمد رسول الله ﷺ
محبوب دَ هر منزل دے محمد رسول الله ﷺ
دلبر دَ هر دلبر دے محمد رسول الله ﷺ
ممتاز په هر ادا دے دَ دُنیا په هر صفت
احمد علی! لیکلے دَ نبی دے تا نعت
رڼا دَ هر سحر دے محمد رسول الله ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کتابونو کښې ممتاز په جهان یو دے
لکه څنګ چې په دُنیا کښې رحمٰن یو دے
ترقیامته پورے یو دے شریعت
ترقیامته پورے دلته سلطان یو دے
هدایت ترینه خورے شوے په جهان دے
دا هادي دَ زمانے عالیشان یو دے
دَ نبیانو دَ دُنیا دے یو امام
دا مقصود دَ کائنات مهربان یو دے
دَ هر چا دَ پاره سپورے دَ رحمت دے
دغه سپورے په دُنیا دَ آسمان یو دے
په عرب او په عجم ئي عاشقان دي
دا محبوب دَ کائنات دَ سبحان یو دے
اے احمد علی! ممتاز په هر صفت دے
په دُنیا دَ هر انسان دا بیان یو دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګدا ستا دَ در رسوله! ﷺ په دُنیا یم
مدح خوان دے پاك رسوله! ﷺ په هرخوا یم
مدح خوان دے پاك رسوله! ﷺ په هر دریم
مدح خوان دے پاك رسوله! سراسریم

ستا په مدحه کېږي ښوب شوے مصطفیٰ ﷺ یم
ګدا ستا د در رسوله! ﷺ په دُنیا یم
مدح خوان دے ثناخوان دے په جهان یم
مدح خوان دے ثناخوان دے په هر آن یم
زۀ ممتاز دلته کېږي هر ځائے کېږي په دایم
ګدا ستا د در رسوله! ﷺ په دُنیا یم
مدح خوان دي پاك رسوله! ﷺ انبیاء دي
مدح خوان دي پاك رسوله! ﷺ اولیاء دي
زۀ شامل د دوی سره هم په وینا یم
ګدا ستا د در رسوله! ﷺ په دُنیا یم
مدح خوان دے پاك رسوله! ﷺ رب اکبر دے
مدح خوان دے پاك رسوله! ﷺ هر یو در دے
زۀ احمد علی یاد شوے هم په دایم
ګدا ستا د در رسوله! ﷺ په دُنیا یم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ خادم دے پاك رسوله! ﷺ د هر در یم
زۀ غلام د هر غلام دے برابر یم
زۀ خادم دے د هر در په هر مکان یم
زۀ تابع ستا د هر حکم د فرمان یم
زۀ محتاج په کائنات ستا د نظر یم

زۀ غلام دَ هر غلام دے برابریم
ستا دَ امر یم تابع په کائنات
ستا دَ امر یم تابع په ټول جهات
زۀ محتاج ستا دَ رڼا سیرت سحریم
زۀ غلام دَ هر غلام دے برابریم
هر یو حکم ستا رڼا ده دَجهان
دا سے وائی په دُنیا کښې عالمان
زۀ محتاج ستا دَ رڼا صورت قمریم
زۀ غلام دَ هر غلام دے برابریم
طریقې ته دې سنت وئیلے کیږی
طریقې ته دې رحمت وئیلے کیږی
زۀ احمد علی ددغې نه خبریم
زۀ غلام دَ هر غلام دے برابریم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ عاشق دے پاک رسوله! ﷺ دَ سنت یم
زۀ تابع دَ پاک اللّٰه دَ شریعت یم
ستا سنت دے نُور رڼا دَ هر یو در
ستا سنت دے نُور رڼا دَ هر بشر
زۀ تابع ددغې نُور په هر جهت یم
زۀ تابع دَ پاک اللّٰه دَ شریعت یم

ستا سنت ګنړمه ګل دَ ګلستان
ستا سنت ګنړمه رحم په انسان
زهٔ عاشق دَ دغي رحم يم رحمت يم
زهٔ تابع دَ پاك اللّٰه دَ شريعت يم
ستا سنت ګڼم يـاقوت سره مرجان
ستا سنت ګڼم وينا دَ حق بيان
قدردان د دغي لاري دَ عزت يم
زهٔ تابع دَ پاك اللّٰه دَ شريعت يم
مشك عنبر ګڼمه ستا سنت رسوله! ﷺ
معطر ګڼمه ستا سنت رسوله! ﷺ
تويه ګل په دے سنت دَ هر بدعت يم
زهٔ تابع دَ پاك اللّٰه دَ شريعت يم
رڼاګاني دَ جهان ګنړمه دغه
رڼاګاني دَ اسمان ګنړمه دغه
زهٔ احمد په دغه لاره هر ساعت يم
زهٔ تابع دَ پاك اللّٰه دَ شريعت يم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زما رهبر زما محبوب مدني ﷺ
حُسن بُڼکلا دَ هر مکتوب مدني ﷺ
زما رهبر زمونږ امام دَ ټولو

بهتــــر ئـــي دلتـــه دے قيــــام دَ ټـولـــو
هـغــه طـالـب زمونږ مطلوب مدني ﷺ
حُســن ښُـكـلا دَهــر مـكـتـوب مدنـي ﷺ

زمـــا رهبـــر پـــه هـــر ادا ښـكـلـے دے
زمـــا رهبـــر دلتـــه هـــر خـوا ښـكـلے دے
پــه هــر صـفـت سره ډير خوب مدني ﷺ
حُســن ښُـكـلا دَهــر مـكـتـوب مدنـي ﷺ

زمـــا رهبـــر دَ مُـــرسـلانـــو امـــام
زمـــا رهبـــر دَ رهبـــرانـــوا مـــام
صـــابـــر پـــه شـان دے دَ ايوب مدنـي ﷺ
حُســن ښُـكـلا دَهــر مـكـتـوب مدنـي ﷺ

رهبـــر سـكـون دَهـــر بشـــر هـغـــه دے
سـكـون سـكـون دَ هـريـو در هـغـــه دے
عـلاج دُنيـا كښـي دَ مجذوب مدنـي ﷺ
حُســن ښُـكـلا دَهــر مـكـتـوب مدنـي ﷺ

رهبـــــر دَلاري دَ عــــالِـــم دَهـــــر در
نـــظـــر دَلاري دَ عـــالِـــم دَهـــر در
عـلاج دُنيـا كښـي دَ قـلـوب مـدنـي ﷺ
حُســن ښُـكـلا دَهــر مـكـتـوب مدنـي ﷺ

رهبـــر احـــمـــد عـــلـــي ! زمـــا دَپـــاره
رهبـــر قسم دے دَهـــر چـــا دَ پـــاره

بهتر په هر یو دے اُسلوب مدنی ﷺ
حُسن بُنګلا دَ هر مکتوب مدنی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اُمتی زهٔ دَ حضرت خیر الابراریم
زهٔ روان دَ محمد ﷺ په نیغه لاریم
زهٔ روان په نیغه لار دَ محمد ﷺ یم
زهٔ روان په نیغه لاره دَ احمد ﷺ یم
زهٔ روان په نیغه لاره دَ تاجداریم
زهٔ روان دَ محمد ﷺ په نیغه لاریم
زهٔ روان په نیغه لار دَ مصطفیٰ ﷺ یم
زهٔ روان په نیغه لاره دَ طٰهٰ یم
زهٔ روان په نیغه لاره دَ سرداریم
زهٔ روان دَ محمد ﷺ په نیغه لاریم
زهٔ روان په نیغه لاره دَ یٰسین یم
زهٔ روان په نیغه لاره دَ امین یم
زهٔ دَ نیغي لاري نه بهٔ خبرداریم
زهٔ روان دَ محمد ﷺ په نیغه لاریم
زهٔ روان په نیغه لار دَ هاشمی یم
زهٔ روان په نیغه لار دَ مدنی یم
په دي لار کښي معطّره خوشبوداریم

زۀ روان دَ محمد ﷺ په نيغه لاريم
زۀ روان په نيغه لاره دَ سلطان يم
زۀ روان په نيغه لاره دَ جانان يم
په عُشاقو کښې دَ پاك نبی زۀ شماريم
دَ پــېــريــانــو مــقــتــدا هــم هــر ســاعــت دے
څوك دے څوك دے ؟ محمد ﷺ نبی حضرت دے
پــه مــحــبــوب بــانــدې يــاد شــوې دَ غــفــار دے
پــه محبــوب بــانــدې يــاد شــوې پــه هــردار دے
پـــه وجــود ســـره تــول مــيــنـــه مــحــبــت دے
څوك دے څوك دے ؟ محمد ﷺ نبی حضرت دے
دوهٔ تــكـــرې ئــې كــړهٔ قــمــر ددې جهـــان
هـــريـــو درئـــې مــنـــوَر كــړهٔ عـــالــيشـــان
هـــم خــــاتـــم دَ رســــالـــت دَ نبــوَت دے
څوك دے څوك دے ؟ محمد ﷺ نبی حضرت دے
دَ مــعــراج پــه شــپــه اســمــان تــه بــره تــلــے
عـــرش نـــه بـــره لامــكـــان تـــه بـــره تــلــے
پـــه رتُــبــه اوپــه مــقــام كــبــنــې ډيــر اوچــت دے
څوك دے څوك دے ؟ محمد ﷺ نبی حضرت دے
دَ مــحــمــود مــقــام دَ هــغــه لــوئــے مــقــام دے
هـــر صــفـــت ســره كـــامــلـــه دے تــمــام دے

مجموعه دَ عزتونو دَ عزت دے
څوک دے څوک دے ؟ محمد ﷺ نبی حضرت دے
دَ محشر په ورځ شفيع دَ مذنبين دے
دَ رحمت سپورے هم هلته په يقين دے
خصوصی په دے امت دَ ربّ رحمت دے
څوک دے څوک دے ؟ محمد ﷺ نبی حضرت دے
په هر نوم کښې ئې رڼا ښکلا پرته ده
په هر نوم کښې ئې وفا پرته ده
دَ احمد سره يو ځائے په دے نسبت دے
څوک دے څوک دے ؟ محمد ﷺ نبی حضرت دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راته ياد شوے دَ نبيانو دے سلطان ﷺ عربی
ماته ياد شوے دا نبی آخرزمان ﷺ عربی
راته ياد شوے دا سلطان دَ مُرسلانو دے ډير
راته ياد شوے قدردان دَ مُرسلانو دے ډير
راته ياد شوے دَ هر درد دے قدردان عربی ﷺ
ماته ياد شوے دا نبی آخرزمان ﷺ عربی
راته ياد شوے اوّلين او آخرين دَ جهان
راته ياد شوے دا صادقه او امين دَجهان
راته ياد شوے دا آفتاب دَ پاس آسمان عربی ﷺ

مـاتــه يـاد شـوے دا نبـی اٰخـرزمان ﷺ عـربی
راتــه يـاد شـوے نـورانـــی دے منوَر دَجهـان
راتــه يـاد شـوے مـعـطَـر دے معطَر دَجهـان
راتـه ياد شوے حسين ګل دَ ګلستان عربی ﷺ
مـاتــه يـاد شـوے دا نبـی اٰخـرزمان ﷺ عـربی
راتــه يـاد شـوے مـقـتـدا خيـر الابـرار دَجهـان
راتــه يـاد شـوے رهـنـمـا سيد الابرار دَجهـان
راتـه يـاد شوے نورانـی صـفت انسان عربی ﷺ
مـاتــه يـاد شـوے دا نبـی اٰخـرزمان ﷺ عـربی
راتـه يـاد شوے اے احـمده ! په هر در هغـه دے
راتـه يـاد شوے پـه دُنيـا کښې سراسر هغـه دے
راته ياد شوے دے محبوب پاك سبحان عربی ﷺ
مـاتــه يـاد شـوے دا نبـی اٰخـرزمان ﷺ عـربی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ هدايـت ګلـونـه دلتـه کښـې طٰهٰ ﷺ کرلی
دَ هـر سنـت ګلـونـه دلتـه مصطفیٰ ﷺ کرلی
دَ شـريـعـت ګلونه دلتـه کښې کرلی نبی ﷺ
دَ مـحبـت ګلـونـه دلتــه کښې کرلی نبی ﷺ
دَ سـعــادت ګـلـونـــه سيّـدالوریٰ ﷺ کـرلـی
دَ هـر سنـت ګلـونـه دلتـه مصطفیٰ ﷺ کرلی

دا معطَر ګلونه ټول دَمصطفىٰ ﷺ دَ دي
دا معطَر ګلونه ټول دا دَ طٰهٰ ﷺ دَ دي
دغه ګلونه راشه دلته کښې ټول چا کړلي
دَ هر سنت ګلونه دلته مصطفىٰ ﷺ کړلي
دا رنګ په رنګ ګلونه ټول دَ محبت دلته کښې
دا رنګ په رنګ ګلونه ټول دَ شريعت دلته کښې
ښائسته ګلونه دلته چا دَ دې دُنيا کړلي
دَ هر سنت ګلونه دلته مصطفىٰ ﷺ کړلي
په هر صفت سره ممتاز دغه ګلونه ښکلي
په حقيقت سره ممتاز دغه ګلونه ښکلي
احمده! وايه چا ګلونه دلته دا کړلي
دَ هر سنت ګلونه دلته مصطفىٰ ﷺ کړلي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

رڼا صورت محمد مصطفىٰ ﷺ دے
رڼا سيرت محمد مصطفىٰ ﷺ دے
داسے صورت په دے جهان کښې نشته
داسے صورت په هر آسمان کښې نشته
داسے رحمت محمد مصطفىٰ ﷺ دے
رڼا صورت محمد مصطفىٰ ﷺ دے
رڼا صورت ته ئې آفتاب نۀ رسي

رڼا صورت ته ئي مهتاب نهٔ رسي
عظمت عظمت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا صورت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا صورت نه ئي قربان دي ستوري
رڼا صورت ته ئي حيران دي ستوري
داسے نعمت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا صورت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا صورت دَ هر بشر نه اعلیٰ
رڼا صورت دَ هر يو نمر نه اعلیٰ
اُوچت اُوچت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا صورت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا صورت ئي دَ رڼا جوړ دے
رڼا صورت ئي دَ وفا نه جوړ دے
برکت برکت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا صورت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا صورت ئي دَ احمد دَ ر دے
رڼا صورت ئي نوراني قمر دے
صفت صفت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا صورت محمد مصطفیٰ ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

درود بـــانـدې مـولـیٰ بـــه ثـوابـونـــه راکـوي
بـدلـــه کښـې بـــه پـــه دغـې جنتونـه راکـوي
جنـت کښـې بـه قُـربـت دَ محمّد راکوي مالـه
جنت کښې بـه صُحبت دَمحمّد راکوي مالـه
بـدلـــه کښـې مـعـطّر بـه محفلونـه راکـوي
درود بـــانـدې مـولـیٰ بـــه ثـوابـونـــه راکـوي
جنـت کښـې بـه مقام زما دَ پاك نبي سره وي
حسین زمـا مـقـام بـه په مکي مدني سره وي
بدلـه کښې بـه حَسین لوئـے محلونه راکوي
درود بـــانـدې مـولـیٰ بـــه ثـوابـونـــه راکـوي
بـدلـه کښـې بـه نـصیب مې وي رڼا دَ محمد ﷺ
بدلـه کښـې بـه نصیب مې وي دُنیا دَ محمد ﷺ
بـدلـــه کښـې مـعـطّر بـه محفلونـه راکـوي
درود بـــانـدې مـولـیٰ بـــه ثـوابـونـــه راکـوي
بـدلـــه بـــه رحـمـت دَ دوجهـان راکوي مـالـــه
بـدلـــه بـــه عـــزت دَ دوجهـــان راکوي مـالـــه
بدلـه کښـې بیـش قیمتـه بـه لعلونه راکوي
درود بـــانـدې مـولـیٰ بـــه ثـوابـونـــه راکـوي
بدلـه کښـې بـه نهـرونـه دَ جنت راکوي مالـه

بدله کښي به نهرونه د رحمت راکوی ماله
بدله کښي به د رحم بارانونه راکوی
درود بانديږ مولیٰ به ثوابونه راکوی
بدله کښي به احمده! هریو حُسن راکوی
بدله کښي به بې حده هریو حُسن راکوی
بدله کښي رنګ په رنګ به نعتمونه راکوی
درود بانديږ مولیٰ به ثوابونه راکوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

د دوجهان سردار دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
سردار د هریو ښار دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
سردار د هر اسمان دے محمد خیر الانام ﷺ
سردار د لامکان دے محمد خیر الانام ﷺ
سردار د هر ګلزار دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
سردار د هریو ښار دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
سردار د هر محفل دے د دُنیا د هریو در
سردار د هر منزل دے د دُنیا د هریو در
سردار د هر دربار دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
سردار د هریو ښار دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
سردار د هریو قول دے په دُنیا کښي هرساعت
سردار د هریو قول دے د دُنیا د محبت

سردار دَ هر ګفتار دے محمد رسول الله ﷺ
سردار دَ هر یو ښار دے محمد رسول الله ﷺ
سردار دَ انبیاء دے احمد وائی دَ جهان
سردار دَ انبیاء دے نورانی دے عالیشان
دَ ټولو یو تاجدار دے محمد رسول الله ﷺ
سردار دَ هر یو ښار دے محمد رسول الله ﷺ

(دَ الله تعالیٰ په توفیق سره دریمه برخه مکمل شوه)

★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★

بسم الله الرحمٰن الرحيم

څلورمه برخه

حمدباری تعالیٰ

اے اللّٰه! تۀ ذَهر چا مشکل کشائي
بل څوك نشته يك تنهائي يك تنهائی
انبياء ذَ کُل جهان دی ستا محتاج
اوليا ذَ کُل جهان دی ستا محتاج
تۀ بي نيازه په دُنيا کښي ذَهر چائي
بل څوك نشته يك تنهائي يك تنهائی
بادشاهان ذَهر جهان دی ستا محتاج
وزيران ذَهر جهان دی ستا محتاج
منفرد په هر صفت په هر وينائي
بل څوك نشته يك تنهائي يك تنهائی
عاقلانو له دي تا عقل ورکړے
عالمانو له دي تا عقل ورکړے
ذَهر چا سره مل ګرے په دُنيائي
بل څوك نشته يك تنهائي يك تنهائی

هر غریب سړے هم ستا د در محتاج دے
هر طبیب سړے هم ستا دَ در محتاج دے
هر بیمار لره دُنیا کښې ته شفائي
بل څوک نشته یك تنهائي یك تنهائی
په یتیم باندې بې حده مهربان ئې
دَ احمد علی ملګرے په جهان ئې
دَ هر چا دَ لارې مل ئې رهنمائي
بل څوک نشته یك تنهائي یك تنهائی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر محفل له دَ هر درد دَ پاره روح ئې
ته سکون ئې هر بشر دَ پاره روح ئې
ته سکون ئې اطمینان دَ هر بشر
ته سکون ئې اطمینان دَ هر نظر
په دُنیا دَ هر نظر دَ پاره روح ئې
هر محفل له دَ هر درد دَ پاره روح ئې
هر محفل دَ پاره روح ئې دَ جهان
هر محفل دَ پاره ته ئې اطمینان
هر یو درله هر دلبر دَ پاره روح ئې
هر محفل له دَ هر درد دَ پاره روح ئې
دَ هر زړهٔ دَ پاره ته ئې اطمینان

تهٔ سکون ئې دَ دُنیا دَ هر مکان

هر ماښام له هر سحر دَ پاره روح ئې

هر محفل له دَ هر در دَ پاره روح ئې

اے احمده! روح دے پاك نبی ﷺ دَ در

اے احمده! روح دے هر ځائے دَ حضر

روح ئې روح دَ هر سفر دَ پاره روح ئې

هر محفل له دَ هر در دَ پاره روح ئې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تهٔ بښکلا دَ هر چمن ئې

تهٔ ښکلا دَ هر وطن ئې

اے احمده! ﷺ محمده! ﷺ

محمده! ﷺ اے احمده! ﷺ

ستا په مخ رڼا زیاده

نورانی تہ وله دُنیا ده

ښائسته شوې په هر خواده

مجموعه دَ نُور ضیاء ده

بې حسابه دا بې حده

اے احمده! ﷺ محمده! ﷺ

تېرې نشته ستا نه پس

هر شیطان شو لو بې بس

عـــزت مـــنـــدشـــولـــو هـــرڪـــس
نيـــڪـــی شـــولـــه يـــو پـــه لـــس
دا بـــــدلــــــــه ده تــــــرابــــده
اے احـــمــــــده ! ﷺ مــــحــــمــــده ! ﷺ
هـــريـــو بُـــت دَجهـــان مـــات شـــو
پـــــه زړا بـــــانـــدي بُـــت لات شـــو
بيـــا ذليـــل پـــه کُـــل جهـــات شـــو
بيـــا ذليـــلـــه پـــه حـــالات شـــو
نيك جُـــدا شـــو لـــــه هـــر بـــده
اے احـــمــــــده ! ﷺ مــــحــــمــــده ! ﷺ
عـــزت مـــنـــده مـــؤمـــنـــان شـــول
قـــدرمـــنـــده پـــه جهـــان شـــول
اے احـــمــــــده ! مهـــربـــان شـــول
تـــابـــعـــدارِ دَ حـــق بيـــان شـــول
بنـــدهٔ انســـان شـــولـــو پـــه وده
اے احـــمــــــده ! ﷺ مــــحــــمــــده ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ خدائي نيازينه ! قدردانه مصطفیٰ رسوله ! ﷺ
خير الوریٰ رسوله ! ﷺ ستا نه شم خو خوواري ځار
بره اُوچت هريو آسمان

عرش او کرسی هم لامکان
دغه دُنیا دغه جهان
هریو خیز ستا له مخه دلته دے پیدا رسوله ! ﷺ
خیر الوریٰ رسوله ! ﷺ ستا نه شم خو څوواري ځار
ستا په برکت بابا آدمؑ
راغے دَ ټولو مقدم
هغه وخت هر ځائے ووتورتم
رڼا شوه دلته په آدم صفی الله رسوله ! ﷺ
خیر الوریٰ رسوله ! ﷺ ستا نه شم خو څوواري ځار
ستا لهٔ عظمته برکته
کشتی دَ نوحؑ شوه سلامته
محفوظ شوه هغه له آفته
ستا دَ مقام قائل دے هم نجی الله رسوله ! ﷺ
خیر الوریٰ رسوله ! ﷺ ستا نه شم خو څوواري ځار
ستا دے ملت دَ ابراهیمؑ
دا ده رضا دَ ربّ کریم
دا دے تقدیر دَ ربّ تقسیم
خوښ دے ستا دین دَ ابراهیم خلیل الله رسوله ! ﷺ
خیر الوریٰ رسوله ! ﷺ ستا نه شم خو څوواري ځار
ستا دَ نیکه نوم اسماعیلؑ دے

هغه تابع هم دَ جليل دے
دَربّ دُنيا کښې غټ دليل دے
په لقب ياد دے دَ دُنيا ذبيح الله رسوله ! ﷺ
خير الورئ رسوله ! ﷺ ستا نه شم څو ځوواري ځار
يو په نبيانو کښې داوُد دے
ذکر قرآن کښې ئې موجود دے
ياد خليفه دَ ربّ ودود دے
هغه ياد شوے ستا له مخه په هرخوا رسوله ! ﷺ
خير الورئ رسوله ! ﷺ ستا نه شم څو ځوواري ځار
يو پيغمبر هم سليمانؑ دے
په دے دُنيا کښې هم سلطان دے
هغه عظيمه عاليشان دے
ستا په نسبت سره ياد شوے په دُنيا رسوله ! ﷺ
خير الورئ رسوله ! ﷺ ستا نه شم څو ځوواري ځار
يو پيغمبر لوئے رهنما دے
ياد په قرآن کښې په موسئ دے
ياد په لقب کليم الله دے
ستا نه بغير دين دَ موسئ نه شو صفا رسوله ! ﷺ
خير الورئ رسوله ! ﷺ ستا نه شم څو ځوواري ځار
يو پيغمبر حضرت عيسئ دے

دا پیغمبر دَ نصارئ دے
اسمان ته تلے دَ دُنیا دے
ستا به یو ورځ کوی هم دلته اقتدا رسوله! ﷺ
خیر الورئ رسوله ! ﷺ ستا نه شم خو خواري ځار

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستا دَ ژوند سره ترلے ماخپل ژوند دے
په سنت سره رښا دے قدرمند دے
ستا دَ ژوند نه بغیر ژوند هسې عبث دے
کۀ دے پټ کۀ دے ښکند هسې عبث دے
ستا په نُور سره اُوچت دے سربلند دے
په سنت سره رښا دے قدرمند دے
ستا دَ ژوند نه بغیر ژوند هسې بیکار دے
بے مقصده دے عبث دے هسې خوار دے
ستا په ذات سره هرځائے کښې عزت مند دے
په سنت سره رښا دے قدرمند دے
ستا په ذات سره رهبر دَ دوجهان دے
ستا په ذات سره رهبر دَهر انسان دے
ښۀ حسینه په دُنیا کښې په هر خوند دے
په سنت سره رښا دے قدرمند دے
ستا په ذات سره ښائسته دے ډیر حسین دے
ستا په ذات سره صادقه او امین دے

اے احمده ! نوراني واضح څرګند دے
په سنت سره رڼا دے قدرمند دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

والضُّحیٰ دے مخ دَ مصطفیٰ ﷺ خیر الابرار
زلفي دَ وَاللَّیل دي دَ نبیانو دَ سردار
ربَ دے اوَلین هم په جهان کښې ګرځولے
ربَ دے آخرین هم په جهان کښې ګرځوُلے
هم طٰهٰ یٰسین سره یاد کړے دے ستَار
زلفي دَ وَاللَّیل دي دَ نبیانو دَ سردار
تاج دَ امامت ورله ورکړے ربَ اکبر دے
تاج دَ صداقت ورله ورکړے ربَ اکبر دے
تاج دَ هر عزت ورپسر کړے ربَ غفار
زلفي دَ وَاللَّیل دي دَ نبیانو دَ سردار
یاد په کل عالم کښې دے بهتره بهترین
یاد په کل کښې دے صادقه او امین
یاد دَ هر انسان دَ پاره دلته دے غمخوار
زلفي دَ وَاللَّیل دي دَ نبیانو دَ سردار
یاد دَ کل عالم دَ پاره سبورے دَ رحمت دے
یاد احمده ! دلته نوراني په هر صفت دے
داسے عزت مند دے قدرمند دے په هر لار
زلفي دَ وَاللَّیل دي دَ نبیانو دَ سردار

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

جمع چې دُنیا کښې دَ دُنیا چې شی صفات
بیـا چې شی راجمع دَ دُنیـا ټول کمـالات
هرصفت شی ګل ددې دُنیا په باغیچه کښې
هرصفت راجمع چې شی بیا په مدینه کښې
بیـاچې شـی راجـمـع دَدُنیـا ټول برکـات
هـم ورسـره جـمـع شـی انـوار او عبـادات
هـریـوه رڼـا ورسـره یـوشـی پـه دے در
جـوړه دَاوصـافـو ګـلـدسـتـه شی معطّر
هـم دَکـامیـابـۍ شـی ټول راجمع درجـات
دا صفـت دَ پاك نبی ﷺ هیر نۀ کړے تۀ دَ ذات

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هـر څیـز دَدُنیـا وائی اے دلداره ﷺ مرحبا
دلبـر دَ دلبـرانـو اے سـرداره ﷺ مـرحبـا
هرڅیز دَ جهـان وائی مرحبا اے عـالیشـانـه
هرڅیز دَاسمـان وائی مرحبا اے عـالیشـانـه
راځـه راځـه زمـونـږ دَ زړه قـراره ﷺ مرحبا
دلبـر دَ دلبـرانـو اے سـرداره ﷺ مـرحبـا
هـرڅیـز دَ مـدینـې درته وئیلے مرحبا دے
ښائسته ښکلے روضې درته وئیلے مرحبا دے

هـر څیـز درتــه وئیلـے خُـسـنداره ﷺ مـرحبا
دلبـــر دَ دلبــرانـو اے ســرداره ﷺ مــرحبــا
هــرلارې هــر کـوڅې درته وئیلے مـرحبا دے
آواز دَ هـر طـرف نــه دا راغـلـے پـه هرخوا دے
راڅــه راځــه مـحبوب دَربَ غفـاره ﷺ مرحبا
دلبـــر دَ دلبــرانـو اے ســرداره ﷺ مــرحبــا
هــر کـور دَ مـدیـنــې ددې خبـرې نن ګواه دے
هــر لـور دَ مـدینې ددې خبرې نـن ګـواه دے
آواز راغــلـــے دے دَهــر ګـلــزاره مــرحبــا
دلبـــر دَ دلبــرانـو اے ســرداره ﷺ مــرحبــا
هر څیز پخیر راغلے وئیلے تا ته مدینه کښې
هـر څیـز دَ مـدینې درته ولاړ وو په کوڅه کښې
احـمـده ! دا نـعـره اے تـاجداره ﷺ مـرحبـا
دلبـــر دَ دلبــرانـو اے ســرداره ﷺ مــرحبــا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رڼـــا ئـــې تـــهٔ دَکُـل جهـــان مـدنـــی ﷺ
پـــه تــــا درود ســـلام دے تــل وی زمـــا
بُـــکــلا ئـې تـــهٔ دَ ګـلستـان مـدنـــی ﷺ
پـــه تــــا درود ســـلام دے تــل وی زمـــا
رڼــا بـــه نـــهٔ وه کـــهٔ پیـدا نـــهٔ وے تـــهٔ

رڼـــا بـــه نـــهٔ وه کـــهٔ رڼـــا نـــهٔ وے تـــهٔ
اے پـاس قـمـر دَ پـاس اَسمـان مـدنـی ﷺ
رڼـــا ئـــي تـــهٔ دَ کُـل جهـــان مـدنـــی ﷺ
تيــري بــه هــرخــوا دَ شيــطــان پـرتـي وي
تيــري بــه هــرخــوا پــه جهـان پـرتـي وي
اے قـــدر مـــنـــده قـــدردان مـــدنـــی ﷺ
رڼـــا ئـــي تـــهٔ دَ کُـل جهـــان مـدنـــی ﷺ
رڼـــا بـــه نـــهٔ وه دَســنــت دلتـــه کـبـنـي
رڼــا بـــه نـــهٔ وه دا ســاعــت دلتـــه کـبـنـي
اے نـــرم خـــويـــه مهـــربـــان مـدنـــی ﷺ
رڼـــا ئـــي تـــهٔ دَ کُـل جهـــان مـدنـــی ﷺ
بـدعـت بـه پـروت پـه هر طرف بـانـدي وهٔ
غـفـلـت بـه پـروت پـه هرطرف بـانـدي وهٔ
عـــالـی صـفـت اے عـــاليشـان مـدنـی ﷺ
رڼـــا ئـــي تـــهٔ دَ کُـل جهـــان مـدنـــی ﷺ
رڼـــا بـــه نـــهٔ وه دَ تـــوحيـد دلتـــه کـبـنـي
قـــدر بـــه نـــهٔ وو دَ سـعـيـد دلتـــه کـبـنـي
نـبـــی نـبـــی اَخـــر زمـــان مـــدنـــی ﷺ
رڼـــا ئـــي تـــهٔ دَ کُـل جهـــان مـدنـــی ﷺ
نـــعـــري بـــه نـــهٔ دَ مـــرحبـــا وي دلتـــه

نـعـــري بـــه نـــۀ هـم ډَ وفـــا وي دلتـــه
اے پــه نبيـانـو کښي سلطـان مدنی ﷺ
رنـــائـــي تـــۀ ډَ کُـل جهـــان مــدنـــی ﷺ
ستـــا ډَ رنـــا اثـــر عـجـم کښـي پـروت دے
ستـــا ډَ رنـــا اثـــر عـــالَـم کښـي پـروت دے
حُســن بُـــکـــلا ډَهــر مــکـــان مــدنـــی ﷺ
رنـــائـــي تـــۀ ډَ کُـل جهـــان مــدنـــی ﷺ
عـرب پــه تــا بـانـدي ښائستـۀ شولـو تـول
نسـب پــه تـا بـانـدي ښائستـۀ شولـو تـول
احــمــد لیــکــلــے دا بیـــان مــدنـــی ﷺ
رنـــائـــي تـــۀ ډَ کُـل جهـــان مــدنـــی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ژوند دُنیــا کښـي ډَهــر تـن ئـي محمده ! ﷺ
دا ســے روح ډَهـــر بـدن ئـــي مـحـمـده ! ﷺ
کـــۀ آدمؑ دے کـــۀ دے نـوحؑ تـــۀ ئي امام ئي
تـــۀ امـــام ډَهـــر چـمـن ئـــي مـحـمـده ! ﷺ
هـــريـــو ستـــا پـــه لاره تـلـے ډَ دُنیـــا دے
تـــۀ رهبـر ډَ انـــس وجـن ئـي مـحـمـده ! ﷺ
پــه اُمّـی لـقـب کـــۀ يـــاد ئي بـاکـمـال ئي
تـــۀ عـظـيـم پـه هـر سُخـن ئــي محمده ! ﷺ

پـه اخلاقو بـانديٍ ستـا څوك ثانی نشتـه
دَاخـلاقــو يــو مــعــدن ئــي مــحــمــده ! ﷺ
هــريــو كــورلـــه تــهٔ خــوشبــو ئــي دَجهــان
داســي داســي پـــه بدن ئــي مــحــمــده ! ﷺ
تــېــري ستـــالـــه مــخـــه لاړي لـــه هــردره
نــورانــی هــم پــه كــفــن پــه كــفــن ئــي مــحــمــده ! ﷺ
دَ هـــردردَ پـــاره تـــهٔ رنـــا صـــورت ئــي
لــكـــه نــمــر دَهــر وطــن ئــي مــحــمــده ! ﷺ
دَهـــر دردَ پـــاره حُســـن ئــي بڼــكــلا تـــهٔ
تــهٔ ســكــون دَ هــر مســكــن ئــي مــحــمــده ! ﷺ
دَاحـــمـــد ويـــنـــا دَ پــاره هــم بڼــكــلا ئـــي
هــم بڼُــكــلا دَ خپــل مــدفــن ئــي مــحــمــده ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـــقـــرَب دَربَ اكبـــر تـــهٔ ئـــي بـــنـــده
پيــغــمبــر ﷺ ئــي پيــغــمبــر ﷺ تــهٔ ئــي بنده
ستـــا صـــفـــت دَربَ نـــه پـــس دے پـــه دُنــيــا
ستــا صــفــت دَربَ نــه پــس دے پــه هــر خــوا
پـــه لــقـــب خيـــر الــبشـــر تــــهٔ ئـــي بــنــده
پيــغــمبــر ﷺ ئــي پيــغــمبــر ﷺ تــهٔ ئــي بنده
تـــــهٔ مـــحــتـــاج دَربَ اكبـــر ئـــي دَجهـــان

تــهٔ مـحتــاج ئــي دَ اللّٰــه غنــی سبحــان
پــه مـخلـوق کښې لـوئـے افسر تـهٔ ئي بنده
پيـغمبــر ﷺ ئـي پيـغـمبــر ﷺ تـهٔ ئي بنده
تــهٔ مـحتــاج ئــي دَ مـولـیٰ غـنـی غـفـار
تــهٔ مـحتــاج ئــي دَ خــالـق پـرورديګــار
بيــاهـم تــهٔ ئـي تـاج دَ سـر تــهٔ ئـي بـنـده
پيـغمبــر ﷺ ئـي پيـغـمبــر ﷺ تـهٔ ئي بنده
تــهٔ مـحتــاج ئــي دَ الـلّٰــه ربُّ الـعـزت
تــهٔ مـحتــاج ئــي دَ الـلّٰــه هم دَ رحـمـت
بيــا هـم نُـور ئــي دَ نـظــر تــهٔ ئــي بـنـده
پيـغمبــر ﷺ ئـي پيـغـمبــر ﷺ تـهٔ ئي بنده
تــهٔ مـحتــاج ئــي دَ رحـمٰـن او دَ رحيـم
احـمـد وائــی تــهٔ مـحتــاج ئــي دَ کـريـم
بيــا هــم نــور ئـي مـنـوَر تــهٔ ئـي بـنـده
پيـغمبــر ﷺ ئـي پيـغـمبــر ﷺ تـهٔ ئي بنده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تــعــريف دَ سيَــدالابــرار ﷺ مــزه کــه
دا پــه هـر ځــائـے کښې بــار بــار مزه کـه
دَ زړهٔ ســکــون دا اطــمـيــنــان دَ جهــان
دَ زړه ســکــون دا اطــمـيــنــان دَ انســان

دلته هرځائے کښې دا ګفتار مزه کړه
دا په هرځائے کښې بار بار مزه کړه
دا دَ نظر دے هم یخ والے دلته
دَ هریو در دے هم یخ والے دلته
په ژبه دلته دا اقرار مزه کړه
دا په هرځائے کښې بار بار مزه کړه
دغه رڼا دَ ټول جهان دَ پاره
دغه رڼا دَ هر انسان دَ پاره
هیمشه دلته دا اظهار مزه کړه
دا په هرځائے کښې بار بار مزه کړه
دغه علاج دَ هریو غم دَ جهان
دغه علاج دَ هر ماتم دَ جهان
ذکر دَ پاک نبی سردار ﷺ مزه کړه
دا په هرځائے کښې بار بار مزه کړه
هر مصیبت کښې پکار یږی دغه
هم هر ساعت کښې پکار یږی دغه
ذکر زمونږه دَ حُسن دار ﷺ مزه کړه
دا په هرځائے کښې بار بار مزه کړه
هم په قلم سره ښائسته دغه دے
ښائسته ښائسته په هر حصه دغه دے

ساکن دَ ددغي دراوښار مزه که
دا په هرځائے کښي بار بار مزه که
احمد ليکلے ئي تعريف په قلم
دغه ليکلے تول عرب او عجم
دا نعتيه دلته اشعار مزه که
دا په هرځائے کښي بار بار مزه که

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هاشمیٰ خير الوریٰ ﷺ ئي
مصطفیٰ ﷺ ئي مصطفیٰ ﷺ ئي
دوست دَ دوجهان دَ ربَ ئي
نوررڼا دَ هر مکتب ئي
رڼا نُور دي دُنيا ئي
مصطفیٰ ﷺ ئي مصطفیٰ ﷺ ئي
دُنيا ستا په نُور ښائسته ده
بهترين ئي هر حصه ده
ابتدا ئي انتها ئي
مصطفیٰ ﷺ ئي مصطفیٰ ﷺ ئي
ستا القب صادق امين دے
مجتبیٰ دے هم يٰسين دے
نُور دُنيا کښي دَ صبا ئي

مصطفیٰ ﷺ ئي مصطفیٰ ﷺ ئي
ستا په نُور مونږه ښائسته يُو
نورانی په هر حصه يُو
هم امام الانبياء ﷺ ئي
مصطفیٰ ﷺ ئي مصطفیٰ ﷺ ئي
نبوت په تا تمام دے
رسالت په تا تمام دے
هم نظر دَ هر بينائي
مصطفیٰ ﷺ ئي مصطفیٰ ﷺ ئي
احمد وائی بهترين ئي
رحمة اللعلمين ئي
دَ رحمت سپورے زمائي
مصطفیٰ ﷺ ئي مصطفیٰ ﷺ ئي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زهٔ خادم دَ خادمانو دَ تاجدار ﷺ يم
خدايه! شکر چي په دُوی کښي زهٔ شمار يم
چي نبی ﷺ سره نسبت ئي وی دُنيا کښي
زهٔ دَ هغي لوئے نسبت سره په دار يم
رڼا ګاني دَ دُنيا ئي حق وينا ده
زهٔ قربان ددغي در دَ هر ګفتار يم

معطره ئي هر در دَ زماني دے
زهٔ قربان له دغي درنه دَ دربار يم
د وفا نه ئي قربان ددي جهان يم
زهٔ روان دَ دوى سره په هره لار يم
اے احمدعلي! په مينه ئي زهٔ پائم
ورنه زهٔ خو ددنيا لوئے ګناه ګار يم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مصطفیٰ ﷺ له مي سلام يوسه مئينه
رهنما له مي سلام يوسه مئينه
سلامونه مي ډير ډير په هغه وايه
سلامونه مي بې شمير په هغه وايه
زر ځله له مي سلام يوسه مئينه
مصطفیٰ ﷺ له مي سلام يوسه مئينه
سلامونه دَ جهان ورته مي وايه
سلامونه عاليشان ورته مي وايه
نُور رڼا له مي سلام يوسه مئينه
مصطفیٰ ﷺ له مي سلام يوسه مئينه
نور ايسار نهٔ شئ زر يوسه مي سلام
سلام يوسه په ادب او احترام
مجتبیٰ ﷺ له مي سلام يوسه مئينه

مصطفیٰ ﷺ له مې سلام يوسه مئېنه

دَ دُنيا كارونه پريږده شابه زركړه

دَ هر خوا كارونه پريږده شابه زركړه

دلربا له مې سلام يوسه په مئېنه

مصطفیٰ ﷺ له مې سلام يوسه مئېنه

دا احمد على سلام ورته ووايه

دا سلام هلته تمام ورته ووايه

حق دانا له مې سلام يوسه مئېنه

مصطفیٰ ﷺ له مې سلام يوسه مئېنه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قيمتى دَ پاك نبى ﷺ په لوئے نسبت يم

اُمتى ځكه دَ پاك نبى ﷺ حضرت يم

هر نسبت نه دا نسبت دے ډير اُوچت

ډير عالى دا هر ساعت دے ډير اُوچت

ياد دُنيا كښې زۀ په دغې هرساعت يم

قيمتى دَ پاك نبى ﷺ په لوئے نسبت يم

زما خوښ هر اُمتى دَ محمد ﷺ دے

زما خوښ هر يو ولى دَ محمد ﷺ دے

زۀ عاشق ددغې در دَ سلطنت يم

قيمتى دَ پاك نبى ﷺ په لوئے نسبت يم

زمـــا خـــوښ دَ مُــرسـلانــو دے امـــام
زمـــا خـــوښ دَ صـــالـحــانـو دے امــام
مـــقـتـــدی دَ ددغـــي در دَهـــر عـــزت يـــم
قيـمتـــی دَ پـاك نبـــی ﷺ پـه لوئـے نسبت يم
هـريـو كـار دَ پـيـغـمبر ﷺ زمـا دے خوښ
هـر ګـفتـار دَ پـيـغـمبر ﷺ زمـا دے خوښ
زۀ احـمدعـلـی خـوشـحـال پـه دے دولت يم
قيـمتـــی دَ پـاك نبـــی ﷺ پـه لوئـے نسبت يم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خـوشبو دَهـر چـمـن ده مـحمد رسول اللّٰه ﷺ
خـوشبو دَ هـر وطـن ده مـحمد رسول اللّٰه ﷺ
خــوشبــو دَهـر وطـن ده داسـے وائـی عـالـمان
خوشبو دَهــر چـمـن ده داسـے وائـــی عـالـمان
خـوشبو دَهـر مسكن ده محمد رسول اللّٰه ﷺ
خـوشبو دَهـر چـمـن ده مـحمد رسول اللّٰه ﷺ
خــوشبــو دَهــر وطـن ده دا ويـنـا ده دَ نـيـكـانـو
خـوشبـو دَ هــر وطـن ده ده ويـنــا دَ صــالـحـانو
خـوشبو دَ هر مدفن دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
خـوشبو دَهـر چـمـن ده مـحمد رسول اللّٰه ﷺ
خــوشبــو دَ هــريـو ګـل ده پــه دُنيـا ددي جهـان

خوشبو دَ هر يو ګل ده په هرخوا ددې جهان
خوشبو دَ هر سخن ده محمد رسول الله ﷺ
خوشبو دَ هر چمن ده محمد رسول اللّٰه ﷺ
خوشبو دَ هر چمن ده دا زما ده عقيده
خوشبو دَ هر وطن ده دا زما ده عقيده
احمده ! ستا دَ تن ده محمد رسول اللّٰه ﷺ
خوشبو دَ هر چمن ده محمد رسول اللّٰه ﷺ

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

قدردان دَ محمد ﷺ دَ شريعت يم
قدردان دَ محمد ﷺ دَ نُور سنت يم
قدردان زهٔ دَ يارانو دَ نبي ﷺ يم
قدردان زهٔ ددې در دَ هر ولي يم
قدردان دَ دغې در دَ هر دولت يم
قدردان دَ محمد ﷺ دَ نُور سنت يم
قدردان دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ دَ آل يم
قدردان زهٔ دَ نبي ﷺ دَ ټول اقوال يم
قدردان زهٔ په دُنيا ددې نعمت يم
قدردان دَ محمد ﷺ دَ نُور سنت يم
قدردان دَ هر محفل دَ محمد ﷺ يم
قدردان دَ هر يو ګل دَ محمد ﷺ يم

قــدردان دَ پــاك رســول ﷺ دَ پـاك سيـرت يـم
قــدردان دَ مــحــمــد ﷺ دَ نُــور ســنــت يـم
قـــــدردان زهٔ يـــــم احـــــمـــــد ددغـــــي در
قبــول كـــــړے مـــــي ددغـــــي در اثـــــر
قــدردان دَ دغـــي در دَهـــر حــكــمــت يـم
قــدردان دَ مــحــمــد ﷺ دَ نُــور ســنــت يـم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هــريــو كــار دَ پيــغــمبر ﷺ دے زمــا خــوښ
هــر گــفتــار دَ پيــغــمبر ﷺ دے زمــا خــوښ
خـــوښ مـــي در دَ مــحــمــد ﷺ دے دَ دُنيــا
هـــر دربـــار دَ مــحــمــد ﷺ دے زمــا خــوښ
خــوښ هــر گــل دَ مــديــنــي دے زمــا خــوښ
هـــريـــو يـــار دَ پيــغــمبــر ﷺ دے زمــا خــوښ
چـــي آرام دَ پـــاره ربَ مــقـــرر كـــړے
هــغــه ښــار دَ پيــغــمبــر ﷺ دے زمــا خــوښ
چــي پــه نُــورئــي مــنــوَر دا تــول جهــان دے
دا مـــزار دَ پيـــغــمــبــر ﷺ دے زمـــا خـــوښ
اے احــمــدعــلـــی ! پــه حُــســن لامــثــال دے
دا گــلــزار دَ پيــغــمــبــر ﷺ دے زمـــا خـــوښ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محمد ﷺ دَ ربَ حبیب دے
هر رنځور له طبیب دے
هر رنځور له علاج دے
عزت منده دَ سر تاج دے
مسلمان ته ډیر قریب دے
هر رنځور له طبیب دے
هر رنځور له سکون دے
تل سکون ددې ژوندون دے
هم غمخوار دَ هر غریب دے
هر رنځور له طبیب دے
هر رنځور په دۀ مئین دے
معالج ئې په یقین دے
کۀ حبیب دے کۀ رقیب دے
هر رنځور له طبیب دے
اے احمده! ستا علاج دے
ستا دَ سر دَ عزت تاج دے
هر بیان ئې په ترتیب دے
هر رنځور له طبیب دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ما بو ځے دَ دُنیا خیر الابرار ﷺ له مولیٰ
مابو ځے مقتدا له تاجدار ﷺ له مولیٰ
ماله بو ځے مقتدا له دَ دي زمکي اوآسمان
ماله بو ځے مقتدا له دَ پیریانو او انسان
مابو ځے د دُنیا دغي سرکار ﷺ له مولیٰ
مابو ځے مقتدا له تاجدار ﷺ له مولیٰ
ماله بو ځے مقتدا له رهنما له دَهردر
ماله بو ځے مقتدا له مصطفیٰ ﷺ له برابر
مابو ځے دَ طٰهٰ ﷺ بنکلی ګلزار له مولیٰ
مابو ځے مقتدا له تاجدار ﷺ له مولیٰ
مابو ځے الهی خیر البشر ﷺ له دَ دُنیا
ما بو ځے منوّره صورت نمر ﷺ له دَ دُنیا
مابو ځے دَ طٰهٰ ﷺ بنائسته انوار له مولیٰ
مابو ځے مقتدا له تاجدار ﷺ له مولیٰ
ما بو ځے مدیني ته دَ نبی آخرزمان ﷺ
ما بو ځے مدیني ته احمد وائی دَ جهان
ما بو ځے مدیني ته تهٔ سردار له مولیٰ
مابو ځے مقتدا له تاجدار ﷺ له مولیٰ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رهـنـمــا دَ ټول جهـان دے مـحـمـد ﷺ دے
پـه نبيانو کښي سلطان دے محمد ﷺ دے

دَ دُنيــا خـلــق پـــه دُوی دی ټـول مـئـېـن
داسے ګـورم عـاليشـان دے مـحمد ﷺ دے

نـمـر سپـوږمـي تـرينـه شرميږی دَ جهـان
دا سے حُسـن دَآسـمـان دے مـحـمـد ﷺ دے

رڼـــا ګــــانـــے دَ دُنيـــا دَجهـــالـــت دی
نُــور رڼــا دَ هـر مـکـان دے مـحـمـد ﷺ دے

اوليـــن او آخـــريـــن ددوی لـــقـــب دے
دا يـقيـن دا مي ايمان دے مـحمـد ﷺ دے

نبـــوت دَ انبيـــاء پـــه دُوی تـــمـــام دے
هم محبوب دَ پاك سبحان دے محمد ﷺ دے

دَ هـــر زړهٔ ده تسـلـــی دَ مسـلـمـــان
دَ احـمـدعـلـی بيـان دے مـحـمـد ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ اعـلاؤ نـــه اعـلـیٰ دے مـحـمـد ﷺ دے
پـه بــالاؤ کښـي بـالا دے محمد ﷺ دے

هـم دَلـوح اوقـلـم نـــه هـغـه اُوچـت دے
پـه لـقـب خير الوریٰ دے مـحـمـد ﷺ دے

عـرش کـرسـی ورتــه نــۀ رسـی پـه مقام کښې
بهتــریــنــه پـه هرخـوا دے محـمـد ﷺ دے
دَ تــوحـیـد رڼـــا هـر خـوا کښې پــه جهــان ده
رڼـــا نُـور دَ هــر صبـــاد ے مـحـمـد ﷺ دے
بهتـــریــن نـــه بهتـــریـــن دَ هــغـــه ذات دے
هـم خـــاتـم الانبیـــاء دے مـحـمـد ﷺ دے
دَهــر غـم عـلاج ګـرځـولـے ربّ منـان دے
دَ هـر چـارڼـا خیر خـوا دے محـمـد ﷺ دے
اے احـــمــدعـلــی دَزړۀ ستـــا تسـلــی ده
هـر صــفــت ســره جُدا دے مـحـمـد ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بـدلــه بـــه دَنـعتـونـو ربّ مـولـیٰ راکـوی
آخــر کښـې بــه پــه دغــې ربّ جــزا راکـوی
ثـواب دے پـه نـعـتـونـو کښې زما دا عقیده ده
ثـواب دے پـه نـعتونو کښې صفا دا عقیده ده
بـدلــه ثـواب بـــه مـــالــه مې اللّٰـه راکـوی
آخــر کښـې بــه پــه دغــې ربّ جــزا راکـوی
ثواب په دے کښې ډیر دے دغه قول دَ علماء دے
ثـواب پـه دے کښې ډیر دے دغه قول اولیاء دے
مـولـیٰ بـه مـونـږلـه دے بـاندې رڼا راکـوی

أخـــر کبنــيِ بـــه پـــه دغــيِ ربّ جــزا راکـوی
ثـواب ئـيِ دے جـنـت زمـا هـم دغـه عقيده ده
واضـحـه عـقـيـده مـيِ دَ دُنـيــا پـه هر حصـه ده
رضـــا بـــه پـــه دیِ مـــالـــه دَ طـٰـهٰ ﷺ راکـوی
أخـــر کبنــيِ بـــه پـــه دغــيِ ربّ جــزا راکـوی
ثـــواب ئــيِ نــعــمـتـونـه دَ جـنـت دی دَ جـنـت
ثـــواب ئــيِ دی بـاغـونـه دَ جـنـت دی دَ جـنـت
رحـمـــت او خـيـــر بــه مــالــه پـه هرخوا راکـوی
أخـــر کبنــيِ بـــه پـــه دغــيِ ربّ جــزا راکـوی
احـمـدعـلـی ثـواب دے دَ نعتونو په وینا کبنيِ
ثـواب لـری ډیـر ډیـر دغـه نعتونه په دُنیا کبنيِ
أخــر کبنــيِ بــه پــه دغـيِ ربّ بُــګــلا راکـوی
أخـــر کبنــيِ بـــه پـــه دغــيِ ربّ جــزا راکـوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـــاجــدار دَ مــدینـيِ خیـــر الابـراره ﷺ مـرحبـا
ســــردار دَ مــدیــنــيِ ﷺ دَ زړهٔ قـــراره مـــرحبـــا
عـــالـم وو تـیـول ګـمـراه دَ ګمـراهـیِ پـه لار روان وو
انسان دا انسان نه وو دَ انسان نه جوړ شیطان وو
تـــا تـیول پـــه نیـغـــه لار کـړل اے دلداره مرحبا
ســــردار دَ مــدیــنــيِ ﷺ دَ زړهٔ قـــراره مـــرحبـــا

دُنیا کښې وو تول خلق دَ ابلیس په لار روان
هر کس وو پریشانه په دُنیا کښې په خفګان
علاج دَ پاره راغلے دُوی دَ پاره مرحبا
سردار دَ مدینې ﷺ دَ زړۀ قراره مرحبا

کورونه دَ دُنیا چې وو تول وران هغه ودان شول
ښائسته په نُور رڼا سره ستا پاك نبي سلطان ﷺ شول
هر کور په تا ښائسته شو حُسنداره مرحبا
سردار دَ مدینې ﷺ دَ زړۀ قراره مرحبا

هر زړۀ ته دے سکون دَ جهان ورکړۀ دَ جهان
احمدعلی ته هم دې تا ورکړے اطمینان
یو ګل ئې دَ جهان ډیر خوشبوداره مرحبا
سردار دَ مدینې ﷺ دَ زړۀ قراره مرحبا

نعتِ مصطفٰی ﷺ

چې روان په لار دَ سیَدالورٰی ﷺ وی
د دُنیا دَ پاره دے به مقتدا وی
چې روان په لار دَ سیَدالرُسل وی
چې روان په لار ددې جهان دَ ګل وی
دَ هر در دَ پاره نُور به وی رڼا وی
چې روان په لار دَ سیَدالورٰی ﷺ وی
چې روان په لار دَ پاك نبی سرور ﷺ وی

عـزت مـنـده بـه دُنیـا کښـې پـه هـر دروی
پـه دُنیـا کښـې بـه دَهر بشـر خیر خـواوی
چــې روان پــــه لار دَ سیَـــدالـــورئ ﷺ وی
چـــې روان پـــــه لار دَ شـــاهِ دوعـــالـــم وی
دے ډیـــوه بـــــه دَعـــرب اودَ عـــجـــم وی
دَ هـــرچـــا دَلارے مَـل بـــه دَدُنیــــاوی
چــې روان پــــه لار دَ سیَـــدالـــورئ ﷺ وی
چـــې روان پـــــه لار دَ شـــاهِ دوجـهـــان وی
قـــدرمـــنـــده بـــــه احـمـده ! دا انســــان وی
مـحتـرم بـه پـه دُنیـا کښـې پـه هـر خـواوی
چــې روان پــــه لار دَ سیَـــدالـــورئ ﷺ وی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کـافـی نـوم دَمـصـطـفـیٰ ﷺ دے مالـه بـس
دا طـــهٔ خیـــر الـــوری' ﷺ دے مـــالـــه بـــس
چـــې رڼـــا ئـــې ده کـــامـــلـــه دَجـهـــان
دا نبـــی ﷺ دَنُـــوررڼـــا دے مـــالـــه بـــس
چـې عـظیـم پـه هـرصـفـت ددې جهـان دے
دا عــظیـــم نُـورالهـدیٰ دے مـــالـــه بـــس
چـې نبیـان او مُـرسـلان ئـې مقـتـدیـان دی
دَا رهبـــر دا مـــقـتـــدا دے مــــالـــــه بـــس

چې کـامـل ئـې شریعت ددې جهـان دے
دا صـورت بـدرالـدجیٰ ﷺ دے مـالـه بـس
تـل سیـرت ئـې هـرښـر لـه نمونـه ده
دا سیـرت شمـس الـضحیٰ ﷺ دے ماله بس
اے احـمدعلـی ! کـافـی ئـې تـاله نوم دے
دا طـهٰ ﷺ پـه هـرویـنـا دے مـالـه بـس

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حسیـن په ټول سیرت دے محمد رسول الله ﷺ
حسین ښکلے صورت دے محمد رسول الله ﷺ
حسیـن دَ هر صـورت نـه صورت دَ محمد ﷺ
حسین دَ هر سیرت نه دے سیرت دَ محمد ﷺ
حسیـن په ټول صفت دے محمد رسول الله ﷺ
حسین ښکلے صورت دے محمد رسول الله ﷺ
حسین ښکلے ګفتار دَ محمد خیر الوریٰ ﷺ دے
حسیـن ښکلے ګلزار دَ محمدخیر الوریٰ ﷺ دے
هـرچـالـره رحـمـت دے مـحمد رسول الله ﷺ
حسین ښکلے صورت دے محمد رسول الله ﷺ
مـمتـاز پـه هر ادا دے مـحمد خیر الوریٰ ﷺ
مـمتاز په نورضیاء دے محمد خیر الوریٰ ﷺ
هر چالـه دَ سرچَت دے محمد رسول الله ﷺ

حسين ښکلے صورت دے محمد رسول اللهﷺ
ممتاز دے په ښکلا سره سردار دَ دوجهان
ممتاز دے په وفا سره سردار د دَوجهان
رهبر دے محبت دے محمد رسول اللهﷺ
حسين ښکلے صورت دے محمد رسول اللهﷺ
هر کار کښې ئې رضا ده دَ اللّٰه ربَ العزت
قسم دے چې عطا ده دَاللّٰه ربَ العزت
بُنياد دَ عبادت دے محمد رسو اللّٰهﷺ
حسين ښکلے صورت دے محمد رسول اللهﷺ
بُنياد دَ هر عظمت دے په دُنيا ددې جهان
بُنياد دَهر نسبت دے کاميابي ده دَانسان
احمده ! لوئے نسبت دے محمد رسول اللهﷺ
حسين ښکلے صورت دے محمد رسول اللهﷺ

نعتِ مصطفیٰﷺ

نجات نشته بې لتانه محمده ! ﷺ
اے دَ دوجهان سلطانه محمده ! ﷺ
نوراني دَ کائنات ستا شريعت دے
نوراني دَ کائنات دے هر سنت دے
مهربانه قدردانه ! محمده ! ﷺ
اے دَ دوجهان سلطانه محمده ! ﷺ

نــورانـــی رنــــائـــي نُــور دَهـــريـــو در
نــورانـــی رنـــائـــي نـــور دَ پــــاس قـــمــر
مـعـطَـره عـــاليشـــانـــه ! مـحـمـده ! ﷺ
اے دَ دوجهـــان سـلـطـــانـــه مـحـمـده ! ﷺ
هـــريـــو در دے ستـــا لــــه مـخــــه منـوّر
هـــريـــو در دے ستـــا لــــه مـخــه رنـــا نمــر
اے عـالـی صـفـت انسانـه ! مـحـمـده ! ﷺ
اے دَ دوجهـــان سـلـطـــانـــه مـحـمـده ! ﷺ
ستـــا قـدم دے هـــر فـلاح لـــره بُـنيـــاد
ستـــا حـــرم دے هـــر فـلاح لـــره بُـنيـــاد
اے مـحبوب دَ پـاك سبحانـه ! محمده ! ﷺ
اے دَ دوجهـــان سـلـطـــانـــه مـحـمـده ! ﷺ
دَ دُنيـــا دَ رحـــمـتـــونـو لـوئـے سبـب ئـــي
مهـــربـانـــه پـه عـجـم ئـي پـــه عـرب ئـــي
دي هـــر ځـائـے پـه تـا روښانـه ! محمده ! ﷺ
اے دَ دوجهـــان سـلـطـــانـــه مـحـمـده ! ﷺ
ستـا پــه حُـسـن هـر چـمـن دے ښائسته شوي
ستـا پــه حُـسـن هـر وطـن دے ښائسته شوي
اے نبـــی آخـــر زمـــانـــه ! مـحـمـده ! ﷺ
اے دَ دوجهـــان سـلـطـــانـــه مـحـمـده ! ﷺ

احمد وائی تهٔ نجات دَ آخرت ئي
دَ هر چا دَ پاره سپورے دَ رحمت ئي
اے عالی دَ هر اسمانه ! محمده ! ﷺ
اے دَ دوجهان سلطانه محمده ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په قران دے یاد شوي په یٰسین ﷺ
څوك څوك دے ؟ دا صادقه دے امین ﷺ
په قران کښي دے یاد شوے په طٰهٔ
په جهان کښي دي شوے په هر خوا
ورته وائی دَ بهتر نه بهترین ﷺ
څوك څوك دے ؟ دا صادقه دے امین ﷺ
په ښائست کښي دے سلطان دَ هر بشر
ډیر ډیر زیات دے عالیشان دَ هر بشر
یاد دے یاد په اَولین او آخرین ﷺ
څوك څوك دے ؟ دا صادقه دے امین ﷺ
ورته وائی مزمل دَ کائنات
مدثر دے بیان شوي په جهات
ورته وائی هم محبوب دَ ربَ متین ﷺ
څوك څوك دے ؟ دا صادقه دے امین ﷺ
ورته وائی هم بڼکلا دَ هر چمن

ورتـــه وائـــی هـم بنـګـلا دَهـــر وطــن
هـر حسيـن نـه پـه دُنيا دے ډير حسيـن ﷺ
څوك څوك دے ؟ دا صـادقـه دے امين ﷺ
ورتــه وائـــی دَ بـخـشـــش نـجــات سبـب
احــمــد وائـــی ورتــه فـضـل دَ خپـل ربَ
ورتــه وائـــی رحــمـة الـلـعـلـمـيـن ﷺ
څوك څوك دے ؟ دا صـادقـه دے امين ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ خوږ زړګی دوائي تـهٔ دَ خوږ زړګی ملهم ئي
محبوب دَ ربَ اكبر ئي تهٔ محبوب دَ دوعالم ئي
دَ زړهٔ زمـا قـــرار ئـي تــهٔ دَ زړهٔ زمـا سـكـون
دَ زړهٔ زمـا قـــرار ئـــي تــه دننــه او بيــرون
عـلاج دَ هـر بشـر تــهٔ دَ عـرب او دَ عـجـم ئـي
محبوب دَ ربَ اكبر ئي تهٔ محبوب دَ دوعالم ئي
دَ زړهٔ زمـا قـــرار ئـــي دَ دُنيـــا دَهـــريــو در
دَ زړهٔ زمـا قـــرار ئـــي هـم يـخ والـے دَ نـظـر
دَ سترګـو مـي يخ والـے مـحـتـرمـه مكرم ئي
محبوب دَ ربَ اكبر ئي تهٔ محبوب دَ دوعالم ئي
دَ زړهٔ زمـا قـــرار ئـــي دَ دُنيـــا پـــه هــره لار
دَ زړهٔ زمـا قـــرار ئـــي زهٔ كـوُمـــه دا اقـــرار

رنړا په کائنات کښې دَ دُنيا دَ هرتورتم ئې
محبوب دَ ربَ اکبر ئې تۀ محبوب دَ دوعالم ئې
دَ زړۀ زما قرار ئې دَ دُنيا دَهر محفل
دَ زړۀ زما قرار ئې دا سبق دے زما تل
جامع په کائنات کښې دَ دُنيا دَ هر کرم ئې
محبوب دَ ربَ اکبر ئې تۀ محبوب دَ دوعالم ئې
دَ زړۀ زما قرار ئې احمد وائې دَجهان
دَ زړۀ زما قرار ئې په دُنيا کښې په هر آن
ساکن په مدينه کښې ئې سکون دَهر حرم ئې
محبوب دَ ربَ اکبر ئې تۀ محبوب دَ دوعالم ئې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر طرف ته په هر خوا ده ستا خوشبو
خوره شوې په دُنيا ده ستا خوشبو
ستا خوشبو ته رسيږي يو خوشبو هم
لاثانی دلته کښې دا ده ستا خوشبو
ستا خوشبو سره هر ځائے دے خوشبوداره
اطمينان دَ زړۀ دوا ده ستا خوشبو
هر محفل دے معطَر ستا په خوشبو
دَ الله لويه عطا ده ستا خوشبو
ورته نۀ رسی دُنيا کښې يو خوشبو هم

هم طيبيه دَ هر چا ده ستا خوشبو
رڼا ګانې هم په دغې کښې پرتې دي
دَ هر در ضياء رڼا ده ستا خوشبو
هريو روح له اطمينان دے دَ هر در
دَ احمد حقه وينا ده ستا خوشبو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تعريف دَ خاتم الرُسل ﷺ مزه کړه
تعريف دَ ګل ﷺ ګل ﷺ ګل ﷺ مزه کړه
تعريف دَ خاتم الرُسل کوي خوند
تعريف ددغي ښائسته ګل کوي خوند
تعريف دَ پاك نبي ﷺ کوُل مزه کړه
تعريف دَ ګل ﷺ ګل ﷺ ګل ﷺ مزه کړه
تعريف دَ سيد الوریٰ ﷺ کوي خوند
دَ مصطفیٰ ﷺ بدر الدجیٰ ﷺ کوي خوند
تعريف دَ دوي په هر منزل مزه کړه
تعريف دَ ګل ﷺ ګل ﷺ ګل ﷺ مزه کړه
تعريف دَ پاك خير البشر ﷺ کوي خوند
تعريف ددغي رڼا نمر کوي خوند
دغه کَوُل او اوريدل مزه کړه
تعريف دَ ګل ﷺ ګل ﷺ ګل ﷺ مزه کړه

تعریف دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ کوی خوند
قسم دے دغه په دُنیا کوی خوند
دَ احمد دلته دا لیکل مزه که
تعریف دَ گل ﷺ گل ﷺ گل ﷺ مزه که

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وائی عاشقان درود په تا ماهِ تمام ﷺ
تل سحر ماښام تل سحر ماښام
وائی مؤمنان په تا درود هریو سحر
وائی مؤمنان په تا درود هر مازیگر
نهٔ وی بې له دې نه ددې خلقو بل کلام
تل سحر ماښام تل سحر ماښام
وائی ټول نیکان په جمع تا باندې درود
غواړی مؤمنان ټول رحمتونه دَ ودود
غواړی دَ اللّٰه نه دا عالی بلند مقام
تل سحر ماښام تل سحر ماښام
وایئ درود وایئ مؤمنان ټول دَ جهان
وایئ درود وایئ په دُنیا کښې مسلمان
وایئ دَ درود سره دُنیا کښې ټول سلام
تل سحر ماښام تل سحر ماښام
وایئ درود وایئ اے احمده ! هر بشر
ځکه دا یغ والے دے دَ سترگو دَ نظر

دا دَ زړهٔ عــــلاج دے دَ دُنيــــــا دَ هــــر امــــــام
تــل سـحــر مــــابـښــام تــل سـحــر مــابـښـام

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اخلـه نـوم دَ پـاك رسـول اللّٰـه ﷺ پـه احتـرام
وايــــه وايـــــه ورســــره درود ســــلام
اخلـه نـوم دَ پاك رسـول اللّٰـه ﷺ ښهٔ په عزت
ځـكـه دا سبـب دَ كـاميـابـے دے هرساعت
هم دے لـوئـے سبب په دے دُنيا دَ لوئے مقام
وايــــه وايـــــه ورســــره درود ســــلام
نـوم دَ مـحـمـد رسـول اللّٰه ﷺ دے تول رحمت
نــوم دَ مـحـمـد رسول اللّٰـه ﷺ دے عبـادت
اخـلــــه پــه ادب ســره دا نــوم سـحـر مـابـښـام
وايــــه وايـــــه ورســــره درود ســــلام
نــوم دَ مـحـمـد ﷺ دے هم عـلاج دَ هر بشر
نــوم دَ مـحـمـد ﷺ دے د سر تـاج دَهر بشر
نــوم دَ مـحـمـد ﷺ دے دَجهــان مـاهِ تـمـام
وايــــه وايـــــه ورســــره درود ســــلام
ډير پكښي خوږ والے دلته پروت دے په جهان
ډير پكښي خوږ والے دلته پروت دے هر زمان
نشتــــه لــه كـبـيـنـه داسـے بـل شيـريـن كـلام

وایــــه وایــــه ورســـره درود ســـلام
دا عــلاج دَ زړهٔ دے هــم دَ زړهٔ دے اطــمینـان
اے احمده ! ښهٔ دے ښهٔ دے ښهٔ دے په جهان
دا بیــان لیــکــلــے پــه دُنیــا کښې هـر امـام
وایــــه وایــــه ورســـره درود ســـلام

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نــوم دے نــورانــی دَ مــحـمـد ﷺ خیـر الانـام
راشـــی چــې دا راشـــی نـو درود وایــه سلام
وایــــــه درود وایـــــه دَ درود ســــره ســــلام
نـوم دے نـورانــی دَ مـحـمد ﷺ پـه هـرصفت
نـوم دے نـورانــی دَ هــریو نوم نـه دے اُوچت
ډیر زیــات دے اُوچت ددغې نــوم دلتـه مقام
نــوم دے نــورانــی دَ مــحـمـد ﷺ خیـر الانـام
نــوم دے نــورانــی دَ مـحـمـد خیـر الابرار ﷺ
نــوم دے نــورانـــی دَ مدینـې دَ تـاجدار ﷺ
هــر ځــائـے دې یـاد شوې پــه ادب او احتـرام
نــوم دے نــورانــی دَ مــحـمـد ﷺ خیـر الانـام
نــوم دے نــورانــی دَ مـحـمـد خیـر البشـر ﷺ
نـوم دے نـورانـــی دَ مـدینـې نورانـی نمـر ﷺ
وایـــه دغــې نــوم سره هـرځــائـے درود تـمـام

نـــوم دے نـــورانـــی دَ مـــحـــمـــد ﷺ خیـــر الانـــام
نـــوم دے نـــورانـــی دَ مـــحـــمـــد نبی ســـرور ﷺ
نـــوم دے نـــورانـــی دَ مدینـــي رڼـــا قـــمـــر ﷺ
هـــر ځـــائـــے ښـــائـــسته شـــوے دے په دے ماهِ تمام
نـــوم دے نـــورانـــی دَ مـــحـــمـــد ﷺ خیـــر الانـــام
نـــوم دے نـــورانـــی زمـــونـــږ دَ سیّـــدالـــوریٰ ﷺ
نـــوم دے نـــورانـــی دغـــه دُنیـــا کښـــي پـــه هرخوا
وائـــی پـــه دُنیـــا کښـــي ټول خوَاص او ټول عوام
نـــوم دے نـــورانـــی دَ مـــحـــمـــد ﷺ خیـــر الانـــام
نـــوم دے نـــورانـــی دَ مـــصـــطـــفیٰ ﷺ او دَ یٰسیـــن
نـــوم دے نـــورانـــی هـــم دَ صـــادقـــه او امیـــن ﷺ
هـــم رڼـــا دُنیـــا کښـــي دَ ســـحـــر ده دَ مـــابـــنـــام
نـــوم دے نـــورانـــی دَ مـــحـــمـــد ﷺ خیـــر الانـــام
نـــوم دے نـــورانـــی احـــمـــد لیـــکـــلے دَ جهـــان دے
نـــوم دے نـــورانـــی مـــا دا لیـــکـــلے حق بیـــان دے
وائـــی پـــه دُنیـــا کښـــي دَ دُنیـــا هـــریـــو امـــام
نـــوم دے نـــورانـــی دَ مـــحـــمـــد ﷺ خیـــر الانـــام

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـــحـــبـــوب دَ پـــاك اللّٰـــه ئـــي ښُـــکـــلا ئـــي دَ چمن
رهـــبـــر ئـــي رهـــنـــمـــا ﷺ ئـــي ښُـــکـــلا ئـــي دَ چمن

محبوب دَ هر بشر ئي
حسین صورت قمر ئي
حسین لکه سحر ئي
دَ نمر پشان رڼائي ښُکلائي دَ چمن
رهبر ئي رهنما ﷺ ئي ښُکلائي دَ چمن

محبوب دَ انبیاء ئي
محبوب دَ اولیاء ئي
محبوب دَ علماء ئي
دلبر ئي دلبریائي ښُکلائي دَ چمن
رهبر ئي رهنما ﷺ ئي ښُکلائي دَ چمن

محبوب دَ هر محفل ئي
محبوب دَ هر منزل ئي
محبوب دَ هر چا تل ئي
محبوب دَ هر دانائي ښُکلائي دَ چمن
رهبر ئي رهنما ﷺ ئي ښُکلائي دَ چمن

ښائسته حسین صورت ئي
رهبر دَ شریعت ئي
اُوچت ئي ډیر اوچت ئي
رڼائي تول رڼائي ښُکلائي دَ چمن
رهبر ئي رهنما ﷺ ئي ښُکلائي دَ چمن

مــــحبــــوب دَ فـــــريښــــو ئــــي
حسيـــن صـــورت پـــــه تــلــو ئـــي
حسيـــــنـــــه پـــــــه کتـــو ئــــي
هـم سيَـدالـورىٰ ﷺ ئـي ښـکـلا ئـي دَ چـمـن
رهبــر ئــي رهـنـمـا ﷺ ئـي ښُکلائـي دَ چمن
مـــحبـــوب دَ هــــر ســـلــــطــــان ئـــي
عـــظيـــمــــه عــــاليشـــان ئــــي
تــــــهٔ ګــــل دَ ګـــلستــــان ئــــي
زبـا بـدرالـدجـىٰ ئـي ښـکـلا ئـي دَ چـمـن
رهبــر ئــي رهـنـمـا ﷺ ئـي ښُکلائـي دَ چمن
مـــحبـــوب هـــم دَ احـــمـــد ئـــي
زبـــــا دَ تـــــورلـــــحـــــد ئـــي
احـــمـــد ﷺ ئـــي مـــحـــمـــد ﷺ ئـــي
يٰسين ئي هم طٰهٰ ﷺ ئي ښکلا ئي دَ چمن
رهبــر ئــي رهـنـمـا ﷺ ئـي ښُکلائـي دَ چمن

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

مـــقـتـدا مــي بــي لتـــانـــه نشتـــه بـــل
درنـــه دلتـــه عـــاليشـــانـــه نشتـــه بـــل
تــول وجـود سـره چــي ميـنــه محبـت ئـي
داســـي دلتــــه مهـــربـــانـــه نشتـــه بـــل

دَهر چائي دلته خوش ډير قدردان ئي
داسي دلته قدردانه نشته بل
په دُنيا کښي ددې نمر پشان به څوك وى
داسې نمر غوندې روښانه نشته بل
يو بشر هم دَ دُنيا درته نهٔ رسى
پاس قمر غوندې روښانه نشته بل
هر صفت دې نُور رڼا ددې دُنيا ده
بهتر دلته ستا نه ستانه نشته بل
دَ احمد علی دَ زړهٔ سکون راحت ئي
اے نبی آخر زمانه! ﷺ نشته بل

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وايه وايه دَ سلام سره درود
دغه حکم راته کړے دے معبود
کهٔ سلام دے کهٔ درود ددې جهان دے
کهٔ ثواب کښي ډير عظيم دے عاليشان دے
دغه حکم دے دَ پاك اللّٰه ودود
وايه وايه دَ سلام سره درود
سلامونو کښي انوار دَ رب پراته دى
دا انوار په هر گفتار دَ رب پراته دى
درنه هير نشى دا حکم دَ مسجود

وايـــــه وايـــــه دَ سـلام سـره درود
سـلامـونـه دَ بـرکـت هـم ذريـعـه ده
سـلامـونـه دَ رحـمـت هـم ذريـعـه ده
هـر سـلام سـلامتـي ده پـه محـمـود
وايـــــه وايـــــه دَ سـلام سـره درود
سـلامـونـه هـم دُعـا پـه کـائـنـات ده
سـلامـونـه نُـور رڼـا پـه کـائـنـات ده
دا لازم دے دَ دُنيـا پـه هـر مـوجـود
وايـــــه وايـــــه دَ سـلام سـره درود
سـلامـونـو کښـې رحـمـت دربَ دے پـروت
سـلامونـو کښـې عـظـمت دَ ربَ دے پروت
احـمـد وائـي سـلامـونـه پـه مقـصـود ﷺ
وايـــــه وايـــــه دَ سـلام سـره درود

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سـلامـونـه مـې ډيـر ډيـر پـه محـمـد ﷺ
کـامـيـابـي ده پـه دُنيـا چـې دَ ابـد
سـلامـونـه مـې هـر وخـت پـه هـغـه ذات
چـې يـو نـوم ئـې دے نومـونـو کښـې احمد ﷺ
سـلامـونـه مـې پـه سيَـد الـرُّسـل
چـې هـر قـول ئـې پـه دُنيـا دے معـتـمـد

سـلامـونـه مـي پـه نُـور دَ دوجهـان
نـۀ دے نـۀ دے پـه دُنيا کښـي بـي ولـد
سـلامـونـه مـي پـه خـاتـم الـرُّسـل
چـي ښـکـاره ئـي تـميـز دَ نيك اوبـد
سـلامـونـه مي پـه ډير ډير پـه هغـه ذات
احـمـد وائـي چـي رښـادے دَ لـحـد

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشـه ربَ راضـی کـړۀ دَ نبی ﷺ پـه طريقـه
ځان نـه ربَ راضـی کـړۀ دَ مـکی ﷺ پـه طريقه
ښـکلي طريقه دَ مصطفیٰ ﷺ تولـه اختيار کړه
ښـکـلي طـريـقـه دَ نُـور رښا تولـه اختيـار کړه
ځـان کـړۀ نـورانـی دَ مـدنـی ﷺ پـه طـريـقـه
ځان نـه ربَ راضـی کـړۀ دَ مـکی ﷺ پـه طريقه
اعـلا طـريـقـه دَ پـاك رسول الله ﷺ اختيار کړۀ
اعـلا نـورانـی دے تـول وجـود پـه دے انوار کړۀ
ځان کـړۀ ځان مـئـېن دَ هاشمی ﷺ پـه طريقه
ځان نـه ربَ راضـی کـړۀ دَ مـکی ﷺ پـه طريقه
تـولـه طـريـقـه ده دا دَ خيـر هـم دَ فـلاح
تـولـه طـريـقـه ده دَ سـکـون دَ تـول ارواح
ځان کـړه ځان مـئـېـن دَ عـربی ﷺ پـه طريقه

ځان نـه رب راضـی کـړۀ دَ مـکی ﷺ پـه طریقه

دغـــه طـــریـــقـــه ده دَ انـــوار دَهـــدایـــت

وائـــی احـــمـــد وائـــی لار ده لار دَ ســعـــادت

خـامـخـا روان شـۀ دَبـطـحـی ﷺ پـه طـریقـه

ځان نـه رب راضـی کـړۀ دَ مـکی ﷺ پـه طریقه

★★★★★

تـمـت بـحـمـد اللّٰـه وبـتـوفـيـقـه ربنا تقبل منا انك انت السـمـيـع

الـعـلـيـم وتـب عليـنا انك انت التـواب الرحيم وصلى اللّٰه تعالىٰ

علىٰ خيـر خـلـقـه مـحـمـد واٰله واصـحابه واهل بيـتـه اجمعيـن

ومن تبعهم باحسـان الىٰ يوم الديـن . اٰمـيـن

29 رمضان المبارك 5 جون 2016ء .

دَ احمدعلی مردانی چاپ شوی کتابونه